
# پښتانه او ورونه ملیتونه

## ګډ پېښلیک - ګډ برخلیک



بوخارد برېنتس



ACKU

ژباړن: پوهاند دوکتور زیار

# توره او لینده

راشه واوره دا داستان　　نیک و بد پکې بیا نه
هم عبرت هم نصیحت دی　　پرې دې پوه شي دانایان
زه خوشال د شهباز خان یم　　چې تور زن یم کان پرکان
شهباز خان د یحیی خان و　　چې بل نه و هسې ځوان
یحیی خان د اکوړي و　　چې په توره شو سلطان
هم په توره میړنی و　　تور انداز و شخ کمان
چې غلیم به یې پیدا شو　　ژړې ځای و گورستان
هم یې تیغ و هم یې دیگ و　　هم یې خلق و هم احسان

خوشال خان خټک (۱۶۱۳-۱۶۸۹م)

ACKU

# پښتانه او ورونه ملیتونه

## ګلو پیښلیک ـ ګلو بر خلیک

بوخارد برینتس

ژباړن: پوهاند دوکتور زیار

۱۳۶۶

ACKU

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00005111 9

د ا ، ج ، دچاپ اوخپرونې دولتي كوميټه
دولتي چاپخونه

كتاب : پښتانه او ورونه ملېتونه

ليكونكى : بوخارد برينتنس

نېټه : كب ، ١٣٦٦ (داصل چاپ ١٩٨٣)

خپروونكى : دچاپ او خپرونې دولتي كوميټه

ګڼه : ١٩٢

شمېر : ٢٠٠٠ توكه

چاپځاى : لينو تايپ ـ دولتي چاپخونه

ACKU

## دژباړن یا دښت

که د، اروپا له انتیك (یونانی-رومی) پیره را تیر شو ،په لویدیزه نړی کی دختیځپو هنی ،اریا نپوهنی (ایرا نپوهنی) او بیا افغا نپوهنی‌له څیړنو پلټنو څخه نژدی دوی‌پیړی تیریږی .په دغه مهالپیر کی بیا په ځانگړی توگه یوازی پـرافغانستان او افغانانو چی کومـی‌څیړنی اولیکنی شوی دی ،دسلگونو تر بریده اوړی او زرگونو ته‌رسی.خو په هغو کی به ددغسی یـوه‌کتاب ډیر لږ څرك ولکی .یا خوعلمی نیمگړ تیاوی لری او یا خو لکه دانگریزانو هغو غوندی دځپلو ځانگړوسیاسی او ښکیلا کی مو خو پـــه خم کی رنگ رنگ وی او په دی‌توگه یی دپرمختللی تاریخپو هنی‌له پلوه عینی اړخ له خرخشی‌سره مخامخیږی ـزموږ دځپلو هغو خو دپوهنیز څیړندو داووسمهالی میتودولوژی له مخی په هر ډول لـــه گوتنیونو پخشونه دی .دوی زیاتره‌پر «ماویلیو ـ تاویلیو» ډډه لگوی‌او پر دی سر بیره یـی اتنو لینگـو یستیکی رخو او سخو هم سترگی‌ورتړلـی دی . بور خـارد برینتس‌له هغو افغانپو هانو څخه دی چی دپرمختللی نړی لید دخاوند پـــه توگه یی په خپله دغه څیړنه کی‌په ټوله مانا ،بی له کومی ځانگړی موخی، نوی علمی میتود پـر کاراچولی اوپر هغو ټولو لاسته ورغلواثارو کی یی تر یوه هر اړخیز غور- چاڼ وروسته څه دپاسه دری سوه‌اخځه سره شاربلی را شاربلی چی‌دڅا خبره هماغه کوچ یی تری را- ایستلی او شړومب یــی ور پر ی‌ایښی دی .ده زیاتره پر لرغو نپو هنیزو (ارکیو لوژیکی) توکونو او بیا پر داسی نا انکاروړو لاسوندواو سندو ډډه لگولی چی دهیڅ رازښوییدنی او تیر وتنی گوته ورته نیول کیدای نه شی .

ACKU

دکتاب انځوریز والی دیوه بـل‌نوښت په توگه هم زموږ دخبری‌پخلی کوی او دباور یوالی یو بل ښکارندوی یی‌گڼل کیږی .دانځورونوشمیر یی ۳۸ اود عکسونو هغه یی۱۸۹ ته رسی او پر دوی سربیره دهرات او کابل ښار دوی نقشی هم‌لری .

ده پښتنو ته دفریدریښ انگلزغوندی دهندوکښ او یا په بلـــه وینا دمنځنی اسـیا دغرنی هیـواد داستوگنو تیرونو دمشر ورور پـه‌توگه کتلی او په دی ډول یی‌دغه‌مخ ته پروت گټور اثر دتوری او قلم دپښتانه اتل خوشال ختټک په‌ښادنامه (حماسه) پیل کړی او پای‌ته رسولی دی .

دبرینتس یو ستر نوچار داهـم‌دی چی دختیځپو هانو دبشپړ ډیر ښت (مطلق اکثریت) پر خلاف یی زموږ دهیواد تاریخ او جغرافیا اه‌نورو هیوادونو او ولسونو لکـه‌پارسیانو ،هندیانو ،چینیانو اوتور- کو- مغولانو سره گډ کړی نه دی.بلکی تاریخی -جغرافیایی بریدونه یی له هماغه پیله وربیل کړی او «دهندوکښ» یا «غرنی هیواد»تر نامه لاندی یی ورته پر له پسی‌پولی بریدونه ورټاکلی اونومیرلی دی .کله چی دوییني (بحث) پـه‌اړوند ی له تاریخی‌افغانستان ختیځ، لویدیځ ،شمال یا سویل خواتـه لری‌تللی ،بیرته دیخواته راستون‌شوی او خپلی خبری یی پری را څرخولی دی .

ما ددغه ارزښتمن علمی اثر په‌ژباړه کی له ډیری ژوری پاملرنی‌څخه کار اخیستی او له ټول خوند یووالی (امانت داری) سره سـره‌می داسی پښتنی رنگ او جوله ور کړی چی څوك پری هډو دژباړ ی گومان ونه کړی .ما خورا گرانی‌ارکیو لوژیکی اواتنو لوژیکی نو-مونی دنیولو گیزم له ټواو آرونو سره سمی راپښتو کړی او پر خپل‌خپل ځای می ورسره «غربـی» او«عربی» هغه هم په لیند یو کـی نیولی او بیا می دویی پانگی ترنامه‌لاندی په جلا لیکړ (لست) کی هم‌دکتاب پای ته راوړی دی .زه باور لرم‌چی آری (المانی ،لاتین) نومونی‌هیڅ پښتانه لوستو نکی ته دسهنی‌وړ نه وی او پر بله منځگړی کو - مکی ژبه (لکه عربی) یی را اړونه‌خو «له بارانه تښتیدل او ناوی‌ته کیناستل» وو.که څه‌هم ډیرپښتانه دآری ژبی او پښتو ترمنځ پوبل‌واتن‌رامنځته کوی . همدغه نا دودی‌دی‌چی‌نن سبا پښتو نه یوازی د«ژباړی» پر ژبه چی لا «دژ باړی دژباړی»پر ژبه بدله شوی ده .هغه داچی‌لومړی په دری - دعربی نومونو په مرسته - له بهرنیو ژبو ژباړنـی‌کیږی او بیا هماغه ژباړنی پښتوته را ژباړل کیږی ،که څه هم‌دواړه ډوله ژباړونکی پښتانه هم وی !

ما پوره یو کال دمخه دچاپ اوخپرونی ددولتی کومیتی دمشر گران‌اکبر کرگر په گړنی سپارښتنـــــه ددغی ژباړی کار پای ته رسولی ومگر دچاپ بهیر یی‌تر دی‌دمه رااوږدشو، هغه هم زما خپله هاندو هڅه وه ،که نه بل چاته می سپارلی‌وای‌تردی به یی لازیات وخت نیولی واو دا ژمنه هم چاکولای نه شوه‌چی په دغه بڼه یی له چاپه راوباسی‌اوله بی گچو تیرو تنواو ښوییدنوڅخه پخشواوسی . له دغـه ټول کړاك او کړاو سره سره بیا هم له‌اړوندو پازوالو څخه مننه کوم اوبیاپه ځانگړی توگه دلینوټایپ لـه تکړه او ځانځبری کارگر خان حضرت‌څخه دز ړه له کومی خوښنه اوپاسلنه څرگندوم چی دغه ستونزمن کاریی کیدونی کړ .

**پوهاند زیار**

**کابل ، لیندی ۱۹۶۶**

# مخنی خبری

دپښتانه خپلواکی اتل خوشال پاړکی زموږ تر پیړی پوری را انګازه‌کیږی .لا زرګونه کلونه دمخه توره اولینده ،نیزه او جمدر ،څه ناڅه له کرندی او بیوی ، کښی اوخرخول‌سره خوا پر خوا دهندو کښ په درو کـــی کارول کیدل .دلته دغروبچی جنګیالی دی ،دخپلو پاړکیوالوپاړکی بولی او همیشه یی له هر یوه سره ډغری وهلی دی .دپښتنونولی او غچ دودیی دمنځنی اسیاله ګڼو ولسونو سره دګډ ژونـد لاره اواره کړی ده ،له بلو سګرو سره‌یی تل په پوله پټی ،اوبو او ننګ‌وناموس اخیستی اوایښی‌دی. ډیرځله یی کلی او ښار ونه ، کوټونه اوموږ چلونه دړی وړی شوی اوډیری‌ککری ور لاندی شوی دی .دجنګ جګړو کیسی یی داهـم را پر زړه‌کوی چی په غرو او دروکی یی له تایګانه ترسمندره بی‌ګچه ولسونو ژوند کاوه ،ډیر کرګر او کسبګر یی‌په کارو زیار بوخت وو .هنر مندانواو پوهانو یی نوم لاره ،هغوی په داسی بیلا بیلو تیرونو اړه درلوده‌چی نوموته او تاتوبی یی بدلیـدل‌رابدلیدل ،راتلل او بیر ته تلل .دداسی بیلا بیلو وګړو لاره پوره‌ستغه وه او ده چی دننني افغانستان‌تر پولو دننه اوسیږی او په‌ښکاره توګه دجنګ جګړو ،سوبمنیو ،اړتیااو تنګسیاله پری شویو زنځیروڅخه دنوی مهال پر لوری ګام اخیستـل غواړی .

دغه څیړنه زیار باسی چی دهغوتولو وګړو پیچلی تاریخ راوسپړی‌چی نن تول سره په ګډه دافغانانو هیواد جوړ وی .لرغو نیو هنیز ی‌موندئی لیکنی، او وګړ پوهنیز ی‌څیړ نی یوداسی سملاسی انځور کاږی چی سره له دی لا ډیری پوښتنی‌پرځای پاتی دی ،مګر بیا هم ښایـی‌لوستونکی ته دهنـدوکښ دهیـواد سپیڅلی اکرونه (اوضاع) روښانه کړ ی .

دمنځنی اسیا په زړه کی اوسنی برید لیکی نوی دی ،زیاتره لـــه تاریخی پلوه اړوند تیاوی او پخلا شوی نا همر نګی په نښه کوی .

دمنځنی اسیا دغرو اولمنو دهیوادونوږی دملی هیوادونو له مخی داروپاله تاکلو اکرونو (اوضاعو) ســره پرتله کیدای نه شی .له زرګونو کلونو را هیسی تاریخی توپانونوپر لـــه پسـی وګـړنی څپــی له شماله غرونو ته را خپــری‌کړی چی ځینی لابیا پری ورواوښتی‌او هند ته یی سر رسیدلی اونوری یی اسمانڅکو غرنیو لړیو او یا هـم‌دغرنیو جنګیالانو پاڅون له پښـوغور ځولی دی .ستغیو تو غرو او څرمه پرتو سر درووړی وړی‌وګړنی‌ډلی دوګړنیو څپانونو په ډیروخوړیوکلونو کی له نشتیدنی څخه‌ژغورلی

او په دی توکه له اباسینه تر آموپوری دوګړنیو ونونو (واحدونو) نقشه هغه ملنګانه غدکی (خرقی) ته ورته ده چی نور پکی دپیوندونوځای نه وی . دبیلا بیلو وګړو اوټبرونو دو دو نه او جالونه ،دوا- کولی او تولوا لی (مالکیت) دواونه او ژبی سره توپیر لری .پیړی پیړی پری خانانو او سردارانو واکمنـــی چلولی ،له شاو خوا ... ګوښه پاتی‌دی او له مرکزی ځواك سره یـــی‌اړیکی نه دی ساتلی .له همد ی کبله هغه ټولو لاسکتوو وګړ نیوپرګنو ته (که پښتانه دی که تاجك،نورستانی دی که پامیری) دا بـی توپیره ده ،چی ځانساتی وی ،ګروهن‌وی او یاګرد سره پرمختللی اومار کسیست .هغوی زیاتره دمرکـز ی حکومت داستاز یو په ژژبـــه نه پوهیږی (هم ورته دښاری تاجیکـودری پردی ده او هم ورته دسترو قبایلو پښتو.) لاتر اوسه په ډیروکلیو باندو کی دینی واعظ یوازینی‌زده کړه وال دی چی له دینی‌چوکاټه یی پوهه تیری نه کوی .هغه ته‌یو بیګرو هه کوم انسان نه بریښی.

ناپوهی نه یوازی دبیوزلـــی اووروسته رالی پایله ده بلکی لـه بیوزلی څخه دخپلی آزادی پر ضد یو بوږ نوری دیوال هم دی .دزرګونوکلونو دزړو جوړښتونو دبدلون پـرضد بیساری کرکه یوازی دپیړیـو پیړیو له نه زغمل کیدو نکی کړاوه‌ریښه نه اخلی ،بلکی بیا هم پرربښتینو اکرونو اود ټولنیزی هستی پر دو یونو (قوانینو) باندی لـه‌نه پوهیدنی څخه هم .

په دغه رامخ ته کړی څیړنه کی‌هڅه شوی ده چی دوسمهال له‌شننی‌ډډه وشی او یوازی برهماغو تاریخی شالیدونو (پس منظرونو) بس‌راوړل‌شی چی دوسمهال په پوهید نه کی‌اسانتیا راولی .په شلمه پیړی‌کی دافغانانو لیاره لاتر پایه رسیدلی‌نه‌ده او څه چی دلته ارزښت لری ،هغه باید پخپله دهمدوی پلټنه‌وی.

له جغرافیایی پلوه په پام کی‌نیولی ډګر (ساحه) هغه ټوله سیمه‌را اخلی چی له هند سمندره دسا- یبریا ترجلګو ،دکسپین له سمندرګی او دمنځنی اسیا له ښنګلنوجلګوڅخه دهند تر لمنو اودتبت ترغرونو غځیدلی ده. البته دلته «منځنی‌اسیا» په‌خپله آره‌مانانه ،بلکی په‌اروپایی‌جاج په پام کی نیول شوی ده چی له تبته تر تایګا پوری ارتوالی‌لری.

# لومړی څپرکی

## ۱ـ داسیا «ناسپړلې غوټې»

له تاریخي او جغرافیایي پلوه دهند ،ایران ،چین ، دفرغانې ناوې‌له غرنیو سیمو تر سمندر ګې او د اباسین له ناوې یا دمنځنۍ اسیا ترښنګلنو جلګو پورې یوه اړپیچنه‌سیمه پرته ده چې نن سبا دځلورو هیوادونو ترمنځ ویشل شوې ده :

تاجیکستان ،افغانستان ،ایران اوپاکستان چې دانګلیسي پاتړي په توګه منځ ته راغلي دي .غرنۍنړۍ په داسې ګڼو وړو سیمو ویشل‌شوې‌چې طبیعي آړونو (شرایطو) یې له‌زریو راهیسې انسان تـه دهستۍ تاکلې لارې چارې په ګوته کړې اوپه یوه مهال کې یې ورته پولــې‌بریدونه هم ټاکلي دي .دغرنیانـو دودیز ژوند دولونه لا په نننـۍافغانستان کې ځای پر ځای پاتــې‌دي او څه ناڅه څېړل شوي دي . داسې چې اوسني ژوند دولونه یــې‌دتاریخي هغو دانځورنې لپاره پـه‌کار لویدلای شي .دکرکیلې او د ښارونو بازاري اقتصاد ټولنیز جوړ ښتونه دپردیو لښکرو له تیریو اوبلو سنو سره سره داوسید ونکـو پیاوړې ځانساتې لوښه را څرګندوي .دغه پیچلي ټولنیز جوړښت‌بیاچې اروپا ته رټ نا پیژندو یه دی، دکوچیانو په مرسته بشپړ یدای‌شي.

داسیا په‌زړه‌کې دختیځ اولویدیځ‌غرنۍ لړۍ یوه پیچلې غوټه رامنځ‌ته کوي چې په هغو کې سره دشمال او جنوب غرنۍ نړۍ ګانې رامنجیله‌شوې دي ،په هندو کش اوپامیرکې دهما لیا غرونو له تینشا ن هغومره غوټه خوړلې ده .دلته دکوپیتدګ او له عربي سمندرګـې‌څخه راغځیدلې سلیمان (کسې) غرنۍ لړۍ پای ته رسیږي .ددغو غرونولمنو ته دهند ورشوګانې او دایران‌دښتې اود قزل قوم او قراقروم‌ګړۍ (واحې) او شمالي ختیځ ته یې تکله‌مکان پراته دي .



ACKU

له دغه غرنی ښاخه دوه پیاوړی‌سیندونه مخکښته بهیږی ،یواندوس(اباسین) له خپلو مرستیالانو اوبل آمو (اکسوس) مگر دارگ غوند ی‌سره دغه قاره یی غرونه را هسك‌شوی چی جگو اریانی غونډیـو او پراخو ډاکونو ته له پاسه راگوری.

په درو او غرو کی له زرگونوکلونو راهیسی اریانی ژبی شپانه،غوبانه او کروندگر ،ټبرونـــه او ولسونه (ملیتونه) ژوند کوی چـی‌دسختسرو غرنیو جنگیالو په توگه‌تری شاو خوا گاونډیان تل په ویره او ترراه کی وو او بل خواته یـی‌دنورو کوچی وگړو ،لند اند ومسلمانانو او یاهم دبلو سگروسوبمنانو دتالانگرو لښکرو تیری زغملـی اوتمبولی دی .تل یی په درو اونرو(تنگیو) کی دجنگ وجگړی آچاری چغو انگازی کړی .خو له دی سره‌سره یی داسیا په زړه کی دیــوه‌غرنی هیوادپه توگه‌دسترو دولتونو منځی (مرکز) هم پاتی شوی دی .ښارونه او علمی مرکزونه پکی په‌وده راغلی ،ښکلی ودانی او پـه زړه پوری میناتوری پکی هستیدلی‌او کوچیا نیو میرمنو پرتمینی غالی‌او بدلی او په خواکی یی هم دکرگرو جنگیالانو لرگینی پړی (مجسمی)کینل‌شوی دی .

ننني پولی بریدونه ددغه هیوادپه لرغونی تاریخ کی کومی جړی‌نه لری ،بلکی دنونسمی پیړی‌پایله (نتیجه) ده . دا تر هر څه دمخــه دپردیو سیاسی‌غوښتنه وه‌چی وگړنی‌دلی سره توتی توتی کـړی زاړه فرهنگونه یی بڅ‌بڅ کړی اوتینگ تاریخی یووالی یی ور ویجاړ کړی ،او په دی توگه دغرنی هیواد زوړ تاریخ په داسی یوه اډانه کی رانه شی چی داوسنیو بریدونو څرك‌هومره تری ولگی .

افغانستان لاتر ننه پوری دجنوبی‌اسیاهیوادو په‌اقتصادی اوټولنیزوچارو کی دانگریزانو دنونسمی‌پیړی دلاسو هنو نښی نښانی ساتلی دی.تر ټولو ستر ملیت «پښتون» یـی‌ورته سم دوه ځایه کړی چی نیـم یی په پاکستان او نیم یی پــــه افغانستان کـی ژوند کوی .ورپسی‌دویم لوی ملیت تاجیك دی چی پر افغانستان سر بیره په شورو ی‌تاجیکستان او څه په اوزبکستا ن‌کی میشته دی .لړه کی یی بیا په ایران او چین کی اوسیږی . لــه‌طبیعی برید لیکو (سرحدی خطوطو)څخه یی تش آمو سیند اوپه شمال ختیځ کی دتورکمنو له جلگو تیره‌شوی لیکه اویوڅه لویدیزی ښنکلنی‌دښتی دیادونی وړ دی .

په نو نسمه پیړی کی پر هندباندی دانگلستان سیاسی واکمنی دننیو پولو انځور کښلی دی . ان شمالی پوله چی هغه مهال یی‌څاری‌روسیه بیلوله ،هم تر هر څه مخکی دافغـانانو نــه ،بلکی دانگریزی سیاست پایله گڼل کیږی .پر۱۸۹۳کال انگلیسی ـروسی سازښت یوبندیز اړم (وول) رامنځ ته کړ او هغه داچی دهغه مهال بریتانیی‌هنداود څارلاسلا ندی بخارا امیرات یی‌سره دواخان په پیڅکه یو له بله پری کړل اود هغی ختیزی ژی له‌چین سره دافغانستان یوه بله‌پوله‌جوړه کړه .څه چی بیا دافغانانـــو ملی‌غرور سخت راپاروی ،هغه‌اجباری‌ډیورنډ ـکرښه ده چی له خیبره‌تر جنوبی ریگستانو پوری یـــی په پرتلیز ډول هماغه گړ میشتی‌سیمی سره ترازه‌کړی اوپه میلونونوافغانان یی هغه مهال ترانگریزی او ننَ تر پاکستانی ژغ لاندی ښکیـل‌ساتلی دی .همدا رنگــه دسویل اواویدیځ بریدونه انگریزی هیئتونو کښلی دی چی البته اوارونه یـی‌دډیورنډ ـلیکی هومره لانجمنه ده‌ځکه چی دغه برید لیکی زیاتره له نامیشتو سیمو څخه تیریږی . پــه‌پرتلیزه توگه داراز سیاسی بریدونه په اسانه کښل شوی مگر څه چی



ACKU

ډیر گران دی هغه دسیمو دځانګړتیا(کرکتر) ټاکنه ده .دهندوکش پیا وړی لړۍ له ورو ورو پریوتو نکو لوړو سره ملګری دی چی بی‌شمیره‌ناوونه او کړنګونه یی رامنځتــــه کړی دی . بل خوا بیا له منځنیو لوړو سیمو څخه پیل شوی غر لړۍ‌به پرتلیز ډول هسکیږی او جګــی‌غاړی مورګی او له هغو سره څرمه ژور خوړونه لیدل کیږی .دشما ل‌او لویدیځ سیندونه یا په دښتــوکی زغمل کیږی او یا په اورا ل سمندرګی پای مومی ،لکه آمو سیندچی له خپلو مرستیالانو سره دغرنی‌هیواد شمال ختیځ را څنځوی .ددغه په وړاندی په سویل ختیځ کــی‌اباسین دی چی کابل سیند ورتــه له هسکو افغانی ایلبند ونو څخــه اوبه وربهوی .

دریم سیندنی سیستم هلمند دی‌چی له سویل ــاویدیزو غاړو څخه اوبه اخلی‌اوداِیران ــافغانی‌سیستان دسرحدی سیمی (سیستان) په دښتوکی زغمل کیږی .دغرنی هیوادزړی‌یا ستره غرنی منجیله (هندوکش) له‌شمال ختیځه وروورو راپریوځی.اوږ ترین ستونځ تراجمیریی لــــه۷۷۵ مترو لوړ والی سره چی اوس دپاکستان په خاوره کی راځی اوهمدا رنګه نوشا دهغه یی هم چی‌له ۷٤۸۵ مترو جګوالی سره دافغاـ نستان لوړه غرنۍ څوکه ده ، یوویاړلی پرتم بلل کیږی .دلړیو په‌منځنی برخه کی هم تر ٦۰۰۰ مترو پوری میچ اخیستل شوی دی . لــه کابل څخه دهغو غرونو ښاخونو غبرګرا چاپیر کړی ده چی تر ۵۰۰۰مترو یی لوړوالی رسیږی اود هیواد پــه‌شمال کی دخواجه محمد دلړوتــوښکارندویی هم کوی .دلویدیځ خوا غرونه اړ اړ کیږی او متی تر۴۷۰۰او ٤۸۰۰ مترو پوری لوړوالی مومی.په شمال لویدیځ کی دتور کستا ن تیر بند تر ۳۵۰۰ مترو لوړوالــی‌پوری غځیدلی او په جنوب ختیځ‌کی سپین غر تر ٤۸۰۰ مترو پورـی هسك شوی‌دی .ختیځ‌خواته دسلیمان(کسی) غره لړۍ مخ پرجنوب‌غځیدلی‌چی دهندوکش په ملګرتیا یــی د سمندر له مخه دوه زره متره لوړه‌غرنی سیمه رامنځته کړی ده .

یوه داسی غرنی سیمه چی دنیم‌کندوسپوږمۍ په څیر داباسین پر ناوه‌ورکړه شوی او تر کشمیره یی هند واریایی ژبی وګړ ډلی او تبرونه‌به خپله غیږ کی نیولی دی . پــه‌لویدیزو ډلو کی یی نورستا نیان، دردیان اوپامیریان راځی چی دسیمی‌ددووسترو تبرونو (پښتنو اوتاجیکو)تر څنګه یی په پام کی نیول پــه کار دی .په سویل کی بلوڅان پراته‌دی چی دهند تر سمندره له پښتنوسره پتلیز اوسیږی . ددغو دواړو ولسونو ترمنځ ددراوید یانو دزړوخپلوانو پاتی شونی (براهویان) ابادی .په داسی حال کی چی ختیــز افغانستان دهند نیمی وچی ته مخ‌اړولی دی او څه ناڅه له موسونی‌وریښتونو څخه ګټه اخلی ، شما ل لویدیز افغانستان بیا له سمندره‌تر څلورو سوو مترو لوړوالی پوری‌مخ پر ځوړی درومی ،دمنځنی اسیا ژورو ته ورلویږی او په دی توګه‌دمیشت ځمکپو هنی له پلوه شمال‌ایرانی ــسویل تورکمنی بارانـــی سیمی ته وراوړدیږی چی دکسپین‌سمندرګی یی شومه ور برابر وی.پیاوړو سګر وړو (رسوبونو) ددغه هیواد له‌کندو کیر ډك کړی او څه ناڅه یی دپوونده وو آو کرګــرولپاره وړنده ژوند آړونه (شرایط) منځ ته راوړی دی او په دی توګه‌یی په تیرو مهالو کی څو څو واری‌ستر ښارونه اود زور ورو شاهانو مانۍ ودانی کړی دی .

د آمو سیند پوری غاړی ته دتاجیکانو غرنی سیمه آوږدوالی مومی‌چی ان دفرغانی دری تر لمنو پوری ورجګیږی او په سیمه کی دهغــوسیندو‌انو تروا‌حو پوری رسیږی چی‌ومهال یکی سوغدیان اوخوارزمیا ن میشته وو او نن سبا یکی زیاتره‌تورکتو کمی اوزبك آباد دی .دتیا نشان آو شمالی افغا نستان لوړ ی له او کتوبر څخه تر اپریل پور ی‌باران لری او په شمال کی ان ترجولای پوری هم پایښت مومی .دغه وریښت هغو سګروړو لمنو ته پوره‌لندبل وربښی چی له دوو څخه ترلسو مترو پوری ښیراز پور لری او

تر سلو کیلو مترو پوری ارته پټاره‌ورشو او ځای ځای کرکیله کیدونی‌کوی .ختیزی غاړی ته بیا چی د سلیمان (کسی) غر لړی غځیدلی‌ده،په جولای او اګست کی موسونـــی‌بارانونه کیږی په داسی حال کی چی دهیواد منځنی لوړه برخه خپلی‌او ریاوی له شمال لوید یځه راخلی .
مګر کرکیله دوربنت پر بنسټ کومځا ی نیـــو لا ی نه شی . دناوودرو په اړخیو کی له سیندونو څخه داوبو لګونی لپاره ویالی اوچوی رابیلی شوی او یا هم دایران او ترکیی غوندی له کار یزونو څخــه کار اخیستل کیږی چی په دی توګه ځمکی لاندی اوبو رګونه تیټو کرو. ندوته لار پیدا کوی .
په دغو کرنیزو سیمو کی دوګروګنه ګونه زیاته ده چی په سل کی‌اتیا یی په کرکیله بوخت دی .کرنه له زرګونو کلو راهیسی دټولنی اوددغه ټولنی دتاریخ بنسټ بلـــل‌کیږی .ټولنیز جوړښتونه په ننني افغا نستان او پښتو نستان کی لاتر اوسه دهغو آرو دودیز چلندونو(مناسباتو) ځلونه کوی چی پــه شوروی جمهوریت تاجیکستان کـی له پرمختللی رغاویزیدنی (صنعتـی‌کیدنی) سره تر ډیری ګچی له منځه تللی دی .څنګه چی ددغو سیمو دټولنیزو جوړښتونوشننی (تحلیلونه)متی په شلمه پیړی کی تر ســره شوی دی ــدساری په توګه لکه‌دو.کراوز هغه پر ۱۹۷۲ کال ــنو په‌ننني افغانستان کی روان چلندونه دټولنی دټیر مهال دهند اریز انځورپه توګه به دا وروسته ډول په‌کار اچول کیږی .
دافغا نستان له ۱۵ــ۱۷ ملیونوګړو څخه یوه ښایسته غټه برخه‌کوچیان دی چی ټول شمیر یی دوه ملیونو ته‌رسی .دوی‌له خپلوکلورموځخه تر اړتیا زیاته ییبره (حاصل)ترلاسه کوی.ځینی یی‌دلوړو ایلبند ونو او ځوړو ژمنیو ځی ځیو ترمنځ‌زرونه کیلو متره لیږدی رالیږدی، بی له دی چی هیواد نی پولی یی دلاری خنډ شی .همداسی راکـړه‌ورکړه او سوداګری هم درواخله .
داوبو لګونی په سیمو کی یـی‌زیاتره غنم کرل کیږی او په للمی‌هغو کی یی غنم او اوربشی له‌غورو ییبرو څخه ګټل کیږی .نوری غلی‌دانی او میوی یی له بڼوالی څخه‌لاسته راځی .په هر ډول ،کرنـی اقتصاد یی زیاتره خپل نوك سوك‌کیږی او لا یو څه غنم هم باید له بهره راوړی .
په هیواد کی اقلیمی توپیرونـه‌خورا ښندیزه (افراطی) بڼه لری .په ټیټو برخو کی یی داوړی تــر (پنځو) څلویښتو سانتی ګرادو پورته تودوخه میچل کیږی .په لویدیزولمنو کی یی پراله پسی څلورمیاشتنی توده وچه سیلی لګیږی .مګر پـه‌خپله په کابل کی تر سمندره له ۱۸۰۰ مترو لوړوالی سره تر ۳۶ درجو پوری تودوخه لوړیږی اوشپه یی بیا تر ۱۳ درجو پوری سړه‌وی.
په ژمی کی‌ټیټی سیمی له‌لوړنیوپنځلسو درجو تودوخی سره په‌زره‌پوری هوا لری ،په داسی ترڅ کی چی لوړی هغه یی ترمنفی پنځــه‌ویشتو پوری سړیږی .پوونده بیاهم کولای شی ،کال وسر دګروندی تر بریده تر ۳۰۰۰ پوری لوړوسیموکی استو ګنه وکړی ځکه چی اندواخان مورګی غوندی په غرنیـو لوړو کی دواوری کمښت هم لیدل‌کیږی .دویلوب بهاندرودونه دتیاروګروندو هم نه بس کیږی او په‌دی توګه اوبه دافغا نستان له غورواو موتوګو (خامو موادو) څخه ګټل‌کیږی .
دسیمو او ګروندو دجولو ډیـراړخیزوالی دمیشتځایونو له ډیـرجولیزوالی (مختلف الشکلی) ســره سمون لری .هغه کلی چی دځروبنوبندو ،کانالونو او کاریزونو پــه‌اوږدو کی پراته دی ،زیاتره دنری پټاری بڼه لری او له یوستومینوباندو څخه رغیدلی دی .دللمی سیمواو همدارنګه دلوړو غرنیو کځونـو استوګنځی بیخی یو له بله ګوښی‌براته . پر پوله پټی ،غوا خوسـی‌او ننګ ناموس باندی پر له پسی شخړو او جګړو ډیر دیته اړ ایستلی‌چی دلته او هلته برجوری کلا ګانی،کوټونه او بورجلونه جوړ کړی .
په شمال ختیځ کی چی دتنګودروکځونه یی دګروندی لپاره نه بس‌کیږی ،کلی او باندی پوړی پوړی دغرونو پر اړخیو ودان شوی دی .

په منځنيو لوړو غرنيو سيمــو(غرجستان) کې‌دسرو کال استوګنځی‌له کر کيلی او ځارويو سره لا ان تر ۳۵۰۰ ميترو پورې هسك پراته‌دی .دختيز افغانستان په لوړو کی‌تر۲۳۰۰ ميترو لوړوالی پوری‌شولی، انګور او نوری ميوی دانی کرل‌کيږی‌او سمباليږی ،په دی اړچی بهاندی‌ويالې او يا کاريزونه ولری . تـر ۱٦۰۰ لوړتيا پوری انځر ،ورښتی(بادام) انار او پنبه کيږی .خو بياهم له زياتی وچوبی سره دکرکيلی کچه دومره راټيټه ده چی په‌تيرمهال کی په خورا وړو وړو کرځايونوډيری وينی بهيدلی دی .

افغا نستان دځمکنيو زيرمو له‌پلوه ترهغه زيات شتمن دی ،څومره‌يی چی اوسنی اقتصادی تنکسيا ښکارندويی کوی . لوړ ارزښتـــی‌وسپنه ،سرب ،جست ،تيل او ګاز،طلا ،کوګړ ،سکاره ،مس مالګه او همدا رنګه راديو اکتيفی مينرالونه‌يی پوره نوم لری او ځينی پکی لاپه‌يوه لنده تنکه کچه له پيړيـــو راهيسی تر کار لاندی دی .دساری‌په توګه دآمو او کوکچی طلا اويادبدخشان دانجمن دری لاجورد چی له ۵۰۰۰ کلو راهيسی را ايستـل‌کيږی .خو ددغه هيواد دوګړ دلو اوټبرونو اقتصاد تر ننه پوری پـر کانونو نه بلکی پر کروند ګـــری‌ولاړدی .دکرګرو له ټول زيارا‌ودرانه‌کار سره سره دافغا نستان په سل کی ۱۵ برخه تر کرنی لاندی ده اوهغه هم دلړوبې او ناځيزی تخنيکی‌پرمختيا له کبله په خوارکم ييبرو ځمکو کی راځی .په کال کی له‌څه‌ناڅه څلور ميلونو هکتاره څخه متی‌شپږ په سل کی کرنيزه ځمکه په کار لويدلای شی .په همدغه کرنيزوګړيو (واحو) کی دوګړو ګدوالـی‌ليدل کيږی ،داسی چی دغلته پرهر څلور څند کيلو مترو باندی ۸۰۰اوسيدونکی رسيږی ،په داسی اکر(حال) کی چی دټول هيواد له اويجی (قلمرو) څخه ۹۰ په سل کی ډيره‌رنګی ميشته ده .

ددود له مخی په زياترو سيموکی ښځه‌نی له کرکيلی سره کار نه‌لری .دهيواد ييبرمنی ځمکی په‌سترو ځمکوالو اړه لری چی اجاره کښان‌او کروی (مزدور دهقانان) يی منځ‌ته راوړی دی .په پرتليز دول د کرنيزو سيمو ګڼ ميشتی ترد‌ی‌کچی‌لوړه ده چی اړتيا باندی پيداوارته‌خبره رسی ،څنګه چی په ښار ونو کی‌کار ځاريونه نشته ،نو څه ناڅه زوړجوړښت سمدلاسه هماغسی پاتـــی‌کيږی .ځمکنی تولوالـی (مالکيت) سخت سيمه ييز توپير لری او له ټبرنی (قبيلوی) تولوالی څخه نيولی، ترځمکواکی (فيوډالې) دولې‌ځمکوالې پوری رسی ،په داسی اکرکی چی‌داوبو بخره (حقابه) ددود او قران‌له مخی له آره انډيواليز (کوپراـ تيفی) جوړښت لری .که څه هـــم‌باوری توليزی شمارنی (احصائيی)نشته خو بيا هم سيمه ييزی شننی (تحليلونه) دا پايله په لاس‌راکوی‌چی دکرنيز (زراعتی توليد) غـوره‌بنه‌په وړه‌او وړکی کچه کی‌راځی. تر څلورمی برخی زيات کروندګـرتر ٥ر۰ هکتارو څخه لږ پټی لری،په سل کی ٤ نوريی تر دوو هکتارو او په سل کی نور ۲۸ يی تر اتوهکتارو دځمکی خاوندان دی .په دی‌توګه په سل کی تر پنځو کم يی تر اتو زيات هکتاره کری اوريبی .ستری ځمکوالې هم له آره په وړواجارو برخو برخو شوی دی .

د ۱۹۵۵ کال دشمار اخيستنـــی(احصائيه ګيری،) له مخی دستر ی‌ځمکوالی له ۱۲۰۰ ټوټو څخه نژدی نيمی يی دځپلو ښتنانو په موټی‌کی‌دی ،داسی چی يو لوړه سلواله‌کچه(په سل کی نژدی ۲۵) کروندګر پر اجاره ځمکو کار کوی .

له پخوا څخه اجاره دوه ډوله‌وه، ټاکلی او برخيزه ،دا ورروستی‌دول يی داسی و چی اجاره ګـــر دييبری (حاصل) په سل کی له ۵۰تر ۸۰ پوری بايد ځمکوال ته ور کړی وای او همدا رنګه ټاکلی اجاره له آره تر دغی کچی رسيده . دځمکوالو پر پاتی ځمکه کرويـــو(دهقان مزدورانو) کار کاوه چی په دله ييزه توګه يی دپيداوار شپږمه‌تر لاسه کوله .په ييبره کی له‌يوی ناځيزی وټی يا مړی ژوندی

سره اجاره گر دیته اړو ته چې سودخورو ته مخه وکړي او په منځکوره‌ډول په سل کی ۳۰ گټه ورکړ ی.
. دځمکو ټوټه ټوټه والی داسلامي‌پاتمړي (میراث) پایله ده چې‌زامنوته یوه یوه برخه رسیږي او لونو ته نیمه نیمه .په وزیرستان کـی‌دځینو څرگندونو له مخې ځمکنـی‌کمښت دسمتو کورنیو دپوښنا کیدو لامل شوی دی ،داسې چې دنیکونوځمکه بیر ته یوه لاس ته ورغلې‌ده .همدا راز ځمکوال کرگر زیاتره دسود خورو پوروړي دی ،هغه هـم‌دوړي او ژوندی دملاما توونکی دودله ټسه چې دیوگړو له اقتصاد ی متري (توانه) تیري کوي .په راوروسته وختو کی دپښتنی ټبرونوځانگړي جوړښتونه تر کرښې آخوا څپړل شوی دی .هلته په قبایلـی‌سیمه کی کوم پاکستانی قانون‌چلندنه لري او حکومت تري کوم باج و خراج اخیستلای نه شی .دولتی اداره‌تش پر ښاري منځیو اود سرکونودواړو خواوو ته پر نوی متره هومره پټاره څارنه لري .هیڅ‌کوم پاکستاني‌گوندونه اوسیاسیان دپښتنو کلیوته‌دور تگ اجازه نه لري ،په دی چې دخپل اړوند ملك ترواك لاندی دی.په غرنیو کروندگرو کی هره‌کورنۍ‌له ۱٦۰۰ تر ۲۰۰۰ څلور څنډه‌مترو پوري پټی لري ،په درو او سموکی‌بیا دکر ځمکی گچه کورټ توپیـرمومی. لاندی کوونکو پښتنی ټبرونو، دبیلگی په توگه په سوات دره کی‌کرگري کلی بانډی ترخپل واك‌لاندی‌راوستی او تري ولجه کړي ځمکی یی‌دخپلو کورنیو ترمنځ ویشلی‌دی.ټبرني (قبیلوی) او دوئ (نظـــام)په جولیزه توگه پاتی دی ،نن سبا یوازی خانان تر ۸۰۰۰۰۰ څلورځنډه‌مترو زیاته ځمکه په خپل خپل تول‌کی لري او په جرگه کی هم یوازی دځـو پاتوړي (میراث خواره) غږ پیدای شی .له «ویش» سیستم سره‌چی دهغه له مخی په هرو پنځوکلو کی ځمکه له سره ویشل کیږي ، دکروندگرو ځبیښناك ویش هم غوټه‌وچی تر شلمو (۳۰-۱۹۲۰) کلونو پوری یی دود پکار اچول کیده ...اد هماغی یوی کړی ټبرونه دی‌چی‌په غروکی دبیوزلـو او پـــه ناوو (وادی کانو) کی دبډایو ځمکوالوپه توگه ژوند کوی .
په یوه پښتنی متل کی ویل‌کیږي: «ننگ غرونه ونیول ـاوما لیاتوسمی».دلمنو (سمو) دگروند گرو ملاوی ترماليانو لاندی کړی دی او غرنـی‌ټبرونه ددود «ننگ» تر بار لاندی‌ستونه کوی .دایو هسی دود دی چی په لار کی یی باید دیری‌کړی‌خاوري شی .یوه کروندگر ته هم‌له ننگ او ټوپك څخه پرته نور څـه دومره پاتی نه دی . دی هم پوهیږي‌چی‌ننگ څنگه پرځای کړي. انگریزانودری ځله هڅه وکړه چی دغه قبایلی سیمه لاندی کړي یوځل پر ۱۸۹۷ کال انگریزان دومندو سیمی تـه‌ورننوتل او متې ۷٦ کاله وروسته بیا هلته ورغلل .په ۱۹۳۳ او۱۹۳۵کلو کی یی له ۳۰۰۰۰ جگړنو ،شوبلواو الوتکو سره پر دغه سیمه یرغل یوور او غوښتل یی چی ترکزی‌اود گنداو حلیمزی لاسکتوی کړي .دلوړي ټبر ۳۱۰۰ اود دویم هغه ۳۵۰۰ میړونه وو او بیا هم پـــرانگریزانو بریالی شول .
له ۱۹۱٦ کال راهیسی له آزادی‌پښتنی سیمی څخه یوه بریښنا ییزه‌کتاره راتاوه شوی وه چی دپاکستان حکومت بیا لری کړه .دغه حکومت‌هم دافغانی پولو خواته متې یوه‌نری پټاره تر خپل موتی لاندی‌لری چی ملکانو دتړونونو پر بنسټ ور پریښی ده .
په ۱۹۷۲ کی افغانی ټولنه په‌دغه لاندی توگه ډلبندی شوی ده :
۱- په سل کی ۲۰-۲۵ مزدورکرگر او مهالیز (موقت) کارگر ،
۲- په سل کی ٦۵-۷۰ اجاره‌گراو کوچنی کرگر ،
۳- په سل کی ٦-۸ لاسی کارگر، پلورونکی او کارمنان ،
٤- په سـل کی ۳-٤ ځمکوال‌له ۱۰-۵۰ هکتارو سره او لوړ کارمنان ،

۵ـ ۲۰۰۰ کوره ستر ځمکوال،تیرمشران او هتیوال یا په بله وینا بازار بورژوا .

په دغه وروستی جاج (مفهوم)یوداسی ټولنیز ترنګ (ترکیب)نومول کیږی چی له پیړیو راهیسی دمنځنی اسیا په ټولنټاکنه کی‌ونده‌لری .دودیز (عنعنی) ښار هماغه منځنی اسیایی اسلامی بازار ښارو چی که څه هم دختیز افغانستان ښارونه دهندی ښارونو پر لوری‌دلیږد (ګذار) بڼی په توګه راڅرګند شوی دی .داروپا دمنځنیو پیړیو او نوی مهال له پرمختللو ښارونوسره‌یی توپیر په دی کی دی چی په دغه راز (ښارونو) کی خپلواکی‌چلونه (اداره) اود بندری ښارو داوسیدونکو په بڼه سیاسی ځوا_ کپاله پلور بورژوازی نه لیدل کیږی _په نادره توګه په ښارمنځ کی _دواکمن کوټ له‌چلونی (اداری) او چونی سره نیغ ښکاریده.پرښار به دبازار واك چلیده (۵) .پلور کوڅی (سوقونه) دسوداګری، بانکیانو دیوی داسی وړی شتمنی‌دلی په لاس کی وو چی دنوروړا کړو ور کړو تر څنګه بـــه یی کلی هم د سود وسلم په کړه‌کی رانغاړل .دوی بازار کوڅــــــی‌پروړو کار ځایونو ،په بله وینا هتیو ویشلی وی چی زیاتره به یی‌په اجاره او کرا ورکړی وو اوخال‌خال به چیری دوړو لاس ګـــــرو او هتیوالو په ځانګړی تول(ملکیت)کی وو چی هلته به یی کار کاوه‌اوداسی نه چی دهندیانو غوند ی بکو استوګنه هم وکړی .

بازارونه په بیلا بیلو ورهنیزوځانګو ویشل شوی وو ،هری څانګی‌به ښاروالی اداری ته خپل استازی ټاکه .دساری په توګه دتاشقرغان‌بازار داویا یمو کلونو په سر کی‌اتیا څانګی درلودی چی په یوه‌چوك کی سره را جاله شوی وی او دبوټ اوخولی پلورونکو ۵۵ دوکانونه یی لرل .هره ورهنیزه (پیشه یی) څانګه «صنف» نومیده اود «رسالی»په نامه یی جوت لیکلی آرونـــه (اصول) درلودل .ددود له مخی هر صنف ځانته د «وکیل صنف» یـــا «کلانتر» په نامه خپل استازی ټاکه‌او یو څه پیسی یی هم ورکولی . استازی دخپل اړوند ټولګی بهرنی‌کارونه تر سره کول او بی لاس‌وپښو او بل هغه چا ته یی بسپنه راټولو له چی دسر کار له خوابیکار یـدل .له څه دپاسه ۶۰۰دوکانو څخه ۴۹ ځانګړی تول(ملکیت) و چی په اړوندو هتیو الو یا اوستاکارانو (خلیفه ګانو) یی‌اړه درلوده.ددوی په وړاندی په سل کی ۴۰ دوکانونه په اووکور نیو پور ی‌اړه نیوله(۵) .دافغانستان دحکومت‌دهغه مهال ولایتی مهندس چی یو »نومـــی Stuckert «شتوکرت سویسی و ،دآقچی ښار دبازار له ټاکونکی نقش سره په انځوریزه توګه شنلی دی (دهغه لیکنه دلته‌کټ مټ را اخیستل شوی اود۱۳۲۲(۱۹۴۳) کال دغبرګولی ددویمی آرانځور یی هم زما په واك کـی‌راکړی چی په منځه یی یادونـه کوم.) .

## راپاتی زوړ ښار

### څلور خواوی

زوړ راپاتی ښار دامو سیند _شبرغان دشمال جنوب سرك او دمزار _اندخوی دختیز لویدیز هغه پر څلاری (څلور لاری) پروت دی .یوازی دمزار _اقچی _شبرغان دریګوټ دګاډی چلونی سرك په‌بڼه بشپړ ودان شوی دی او پاتی نوری‌یی‌کاروانی لیکو او آس سپرلی لاروبڼه لری .ښار ته نژدی سینددوه پلونه لری چی یو یی داراب‌جاتودتیریدو وړ دی .سیند (اسکاباد)کانال چی دښار په سیمه کی‌بهیږی، ۶_۸ متره پلن څه ناڅه دوه متره‌ژور او داوبو مخ (سطح) له کـرځکو څخه ټیټه ده ، داسی چی متی داقچی په شمال کی داوبخور لپاره‌په کار را تللای شی .همدا راز دکانال اوبه هم په پرتلیز ډ و ل

ACKU

تیتي دی .او به یی له ژمی پرته نوری ژر خیتني دی .دښاري سیمې دخړو بونی لپاره دسیند له برسیره
مخ پر ختیځ ویالي رابیلی شوې دی .
زوړ ښار په څلورو کوڅو سره پر څلورو ښارمینو ویشل کیږی .په چورلیځ (محور) دوله څلاری کی
یی کوټ (بالاحصار) دی چی یوازینی ځمکنی لوړه گڼل کیږی .دښار کوټ پاتی شونی آره ښاری سیمه راخلی.
په شمال ختیزه مینه کی یو لوی سر پتی بازار دی ،په نورو ښار مینو کی کورونه بازار دگرونه،
بڼونه او یو څه ترناوونه (ناودان ایونه) لیدل کیږی .یوازی سویل خواته یو کوچنی ښار گوټی پــــه
ستر گو لگی .دښار نور شاوخـواسیمه څه ناڅه په یوه کیلو متره واټن تر آقچی را چور لیدلی ده.

**ودانی :**

دآقچی ښار یو غوره بازارمنځی دی.دلته دوشنبه او پنجشنبه لوی لوی بازارونه جوړیږی چی له لری
ځایونو څخه ورته دراکړی ورکړی لپاره خلك راځی .ښار په لوړنی توگه ۲۵۰۰ اوسیدونکی لری .دشا
وخوا سیمی هغه په اتکلی ډول۸۰زروته رسیږی ،۱۵ زره هم دخانقاپه سیمه والی (علاقه داری) او
۱۲ زره په منقجك هغی کی میشته دی .
په ښار کی دکورونو او دوکانونو(دخرڅلاو او کارځیو یا ورکشاپـو)(۱۰-۱۲) او بیایی دبیلا بیلـــو
ورهنیزو (پیشه یی) ځانگو دویشنی تر منځ ناندولی په څرگنده دارانبیی چی آقچه دبازار منځی پـــه
توگه ستر ارزښت لری .په کورنی سوداگری او بهرونو (صادراتو) کی پنبی(شمالی شرکت.صادراتی شرکت)
دکره کولو (دکره کولو شرکت) اوغالیو اه پلوه دمنځی (مرکز) پـه توگه ونده اخلی .
داقچی ښاروالی دڅرگندونو له مخی ار (اصلی) ښار په لاندی ډول شنل کیږی :

| | |
|---|---|
| استوگن کورونه | ۲٦۷ |
| دوکانونه | ٦۳٦ |
| سرایونه | ٤۰ |
| تودوبی (حمام) | ۱ |
| لوی جوماتونه | ۳ |
| واړه جوماتونه | ۱۰ |
| څارندویی څوکی (پوستی) | ٤ |
| گمرگ | ۱ |
| داگخونه (پست) | |

**هوتل**

حکومتی په بالاحصار او زندان اوگودام په پخوانی رباط کی ځای پرځای شوی دی .
دڅارویو بازار درباط تر څنگـه او دسبود بالاحصار گرد چاپیر اوپر لویدیز سرك ،دلرگو او سکرو
بازار پر لویدیز او شمالی سرك اودغلی منده یی پر لویدیز ســـرك باندی په یوه سرای کی یو ځای
شو ی دی .
ښار پارك تر ښار دباندی بی له کومی اریکی پروت دی چی توله یی ٤۰۰ جریبه ځمکه نیولی ده .
داقچی دښار بیلا بیل بازارونه اوورهنیزی (دنده یی) برخی :



ACKU

دوړدی پخوونکی ۸ دوکانه
خوراك خونی (رستورانونه) ۲۰رر
خورا کتوکی (خوراکه باب)۶۰رر
چای پلوری ۷۰ رر
کوتونکی (قصابان) ۳۰ رر
کب پخوونکی ۶ رر
غوړ پلوری ۳۰ رر
تیلیان (گانی والا) ۲۰ رر
چایخونی ۴۵ رر
توکر پلوری ۹۰ رر
واړه پلوری ۱۰۰ رر
غالی پلوری ۴۰ رر
بوټ پلوری ۲۰ رر
څرمن والا ۱۰ رر
کره کول والا (موسمی) ۸۰رر
واړه لاسی کارگر ۸ رر
زرگران ۱۰ رر
ټتاران (مسگر) ۷رر
پښبان (آهنگر) یا بستکار ۱۰ رر
ترکانان ۱۰ رر
موچیان اوزین ساز ۱۰رر
ډمـــان ۲۰ رر
چاپه گر (رنگوونکی) ۲۴ رر

دبازار پر ورځ دسبو میوو ،لوښیو ،لرگینۍ لاسی کارونو ،رسیواوشوده بابو ۳۰۰ ـ ۴۰۰ تختو نه او کړکې (غرفی) جوړیږی (۱۳) .څلویښت سرایونه سره په لویوالی‌او ودانی کی توپیر لری ،یوه‌ستره برخه یی هماغه تش انگړونه دی‌چی داسانو دتړلو لپاره پکی مړوی‌ټك وهل کیږی (۸) .ځینی ورسره یوه نیمه برنډه یادالان هـم باړه(کرا) کوی اود یوه راز میلمستون‌کار تری اخلی .داددی لپاره چـی لا یوه ورځ دمخه ورته مینه وال‌را چلیـږی او شـــپه تیـر و ی‌د بـازار زیا تـــره مینـــــه وال پر اسانو راځی او هغه کوی چی‌بازار ته نژدی دیره ونیسی .دلویو لارو او بازاری کوڅو څرمه څـــه دخپلوۍ یا مذهب او څه دکاروکسب‌یا ملیت له مخی نور جلا جلا استو گنځی هم جوړیږی چی پر هر هکتار باندی دگنوالی گچه ۵۰۰۰ تنـوته رسیږی .
بازار داسلامی ښار له ځانگـړورغندو توکونو (متشکله اجـــزاوو)څخه گڼل کیږی ،بی له دی چـی یو راز بڼه ولری (۶) .دښار نقشه پرچوڼی او لوی جومات راچورلـی‌اوبیلا بیلی ښارمینی یی په‌سرکونو جلا کیږی .
په کلی او ښار کی دجومات تـرڅنگه چایخونه پوره ارزښت لری اوهغه داچی دنارینه وو دنړۍ لیدـ

نخی بلل کیږی ،دچا خبره یــــوه‌تولنیزه اړتیا ئر سره کوی (۷) .په‌هره‌چایخونه کی‌دوه سمواره لګیدلی وی چی پر له پسی تور او شین‌چای تیار وی او له همدی لیاری‌دسیمی سوداګر خپلی ګتی ترلاسه کوی .هیڅ یو بازار او پرترا نزیتی‌لاره پروت میشتځای بی چایخونـی‌چلیدای نه شی .چایخونی یوازینی ودانـــــی ده چی له افغانـــــــی‌انځور ګری څخه پکی کار اخیستل‌کیږی .په دی لړ کی له انسانـه پرته نور هر راز نقش ونګار لیدل‌کیږی ، ژوی ،مرغان ، بوټی ګلان،او بیلا بیل شیزونه لکه چاینك و وپیالی ، کلدا نونه ، جوماتو نه،سیمرغ اوداسی نور افسانه یـی‌او اساطیری شیری یی منځتکی جوړ وی .رزمی توکونه او دینی چاجونه په راز راز سمبولونو سره انځورل‌کیږی مګر بی له دی چی دکومی کیسی انګازه اوځلونه وکړی(۵).

له بازار کوڅو سره هغه سرایونه هم تړلی وو چی دلویو سود اګرو مالونه پکی ځای پر ځای‌کیدل. دغه شیز دپخوانیو ښارونو په برم‌کی په زړه پوری نقش درلود · دافغانستان دهند او ایران ترمنځ یو ترانزیت هیواد و .له هند څخه بیاله منځنی اسیا او له هغه ځایه یې‌یوخوا له‌اروپا او بل خوا له چین سره اړیکی ټینګ وو .له اباسین‌ناوی څخه رالیږدیدلی کاروانونـــــه یا دبلو چستان له لاری کندهار او پسی دهرات خواته تلل او یاله پیښور څخه دخیبر پر غاښی کابل‌او بیا پسی پارس ته لیږدیدل(٦). دغو کاروانونو قبایلو ته دچلوو نکو اوڅارویو ته دچلونی لاری‌چاری‌برابرولی .ښارونو له ترانزیتـــی سوداګری څخه ګټه اوچتوله اودخپلو لاسی رغاوو (صنایعو) او شاوخوا ځمکنی پیداوار له لاری یـی پکی برخه اخیسته .په دغه پیــــداوښتونو کی دکروندګرو او همدارازدکوچیانو لاسی کارونه هم راتلل. کوچیان په توایز ډول لــه جولای‌څخه تر ستمبره په ۳۰۰۰ متـره‌لوړو ورشوګانو کی استوګنه لری. دوی ژمی څه په اباسین ناوه کی(له څه ناڅه ۲۰ زره کیږدیوسره)تیروی او له پسرلی ول سره له خپلو رمو ګلو او ټولی هستی نیستی‌سره چی پر اوښانو ،خرو او غویانویی بار کړی وی ،پر هماغو لرغونو ټاکلو دوددیزو لارو باندی رالیږدی.دوی له پنځو څخه تر اتو کیږدیـوپوری اویا دیوی ستری کورنی په بنه زرګونه کیلو متره لار وهی اودخطر په ترخ کی او کله ناکله‌سره هم دسیاسی توسنونو له‌کبله تر زر کیږدیو پوری بیلا بیل کلی‌جوړ وی .

کوچیان پر بیلا بیلو ټبرونـــــو(قبیلو) ویشل شوی دی .دوی که‌ونه غواړی او یا اړنه‌و ځی ،دولتی آرونو (اصولو) ته په اسانه سرنه ټیټوی ، که یی څه هم څرځایونه په دولتی شتمنی کی راځی او دوی ته دګټی اخیستنی لپاره وړیـــــاپریښوول شوی دی .بیوزلی شو ی‌کورنی هم بی له دی چی رمه پاده ولری ،پر ورهنیزو (پیشه یــــی)پوړونو (قشرونو) هم لړو ډیر ی‌بدلی شوی او دکار په لټه خپلـی لیږدنی پرمخ وړی .نوری یی بیـاچی دلویو لویو وګړنیو ډلو بنـــه‌یی موندلی ده ،دژمی په ټینګـــو استوګنځیو کی‌اوسیږی .دوی کرکیله کوی او یوازی یوه برخه یی داوړی‌مخ پر اوږو درومی او تر منی پوری هملته پاتی کیږی .

کوچیان له ځان سره سوداګری‌مالونه هم لیږدوی چی ځینی یې خپل پیدایښت دی،لکه ډیرښکلی تغرونه او ځینی یی په بهر پوری اړه لری‌چی زیاتره ورته دخپلو استو ګنځیوڅرمه لوی لوی کوچیانی بازارونـه جوړوی .ددوی کیږدۍ سره چــــی‌زیاتره توری وی او له وژغنو څخه‌جوړیږی ،دسیمو او ټبرونو له مخی توپیر مومی .ځینی دشمالی منځنـی‌اسیا غوندی ګردی او بی پیڅو له(سمیغی) دی ،ځینی اوږدی کوتـه ډوله‌او سمګوټی دی چی ځای میشتی(دهشین) ورته تر خپلو تنګو ختینوکوروتو څخه‌هم زیات‌ارزښت ورکوی.



ACKU

# دویم څپرکی

## پښتانه ، تاجیك او نورستانیان

دغرنی هیواد په توګه دافغانستان‌دژبو او وګړو نقشه پخپله دغرونواو ناوونو دچاپیریال غوندی ډیر اړخیزه ده .دلته سره اریانی ژبی،هندی ژبی او تورك ومغولی ژبی ګړ ډلی خوا پر خوا ژوند کوی . پاتی شونی ډلی ،لکه براهویانوخپله دراویدی او په اوومه پیړ ی‌کی را پریوتلو عربانو خپله عربی ټینګه ساتلی ده .دوی غوری ډلی ددی نورو ورو هغو په وړاندی تل‌پیاوړی بریښی .دهندوکښ په سویل او ختیځ کی پښتانه او په شمال کی تاجیك ،په شمال لویدیځ کی‌اوزبکی او څه نا څه تور کمنی په وړاندی تلونکو ژبو کی راځی .

اریانی‌آرو پښتنو متی په همدی‌څو را وروسته پیړیو کی خپل‌دودیز (عنعنی) نظام یو څه پریښی دی ، په داسی حال کی چی ژوند جولی یی لا هماغسی پیاوړی اغیزه لری.تاجیکانو دیوزر کلنی زړی دولتی‌ودی په بهیر کی بیا خپل اشرافی جوړ ښتونه له لاسه ورکړی دی .

هر ګوره ،په را وروسته‌پیړیو کی ور پوری دژبنی اغیز له کبله ځینو نورو غورو ختیزو اریانیانو هم ځان نښلولی دی‌چی لاتر اوسه په دچه کی دی اوپه دی توګه یی دلرغونی وګړنی کولتور ډیر دودونه خوندی ساتلی دی (۱۸) .

دتاجیکو غوندی دافغا نستان دمنځنیو لوړو اوسید ونکی هم له اړوندی لویدیزی اریانی ژبی څخه کاراخلی ،لکه‌هزاره او«چهارایماق».ددوی په منځ کی بیا دزړو مغولوپاتی شونی هم ژوند کوی چی دچنګیز خان اود هغه دوروستنیو ترسرکښی‌لاندی دکوچیانی پراختیا په تیرمهال پسی ځی .

دغرنی هیواد په سویل کی ترعربی سمندر کی پور ی لویدیزاریانی ژبی بلوڅ پراته دی ،ددوی په منځ کی بیا براهویان اوسی چی‌ژبه یی دجنوبی هند له ژبو سره‌خپلوانه ده .په شمال ختیځ کی له افغانستانه تر کشمیره یوه وړه وګړډله میشته ده چی هند واریایی اوزړی اریایی ژبی کار وی اود هماغو وګړ ډلو پاتی شونی دی چی یووخت‌بی ډیره ارته او خوره وره سیمه‌نیولی وه .ددوی یوه برخه متی په



ACKU

تیره پېړی کې اسلام ته راڅکو ل شوی ده او ځینو یې لاتر ننه خپلې زړې ګروهې اردودونه خوندي ساتلي چې له تاریخي پلوه خورا په زړه پوري دي .

دغرنی هیواد زیاتره وګړي ټینګ سني مسلمانان دي ، یو لږه کې یې په دولس امامه شیعه ګروهې اړه لري او په شمال ختیځ کې اسماعلیه ګروهه خوندي پاتې ده .

دغرنی هیواد وګړنی نقشه تـــوځمکني هغې لږه رنګا رنګي نه لري چې په هغې کې ګڼ ټبرونه (قبیلې) او ولسونه (ملیتونه) انځورل کیږي او په څلور ـ پنځو ژبنیو کورنیو اړه ری .ډیره برخه یې په اریاني ژبو غږیږي .په سویل کې دجنوبي هندله دراویدیانو سره ژبني خپلوا ن براهویان ډیر ټولګي لري (۷) . په جنوب ختیځ کې ډیر هندو اریا یې ژبې ژوند کوي او یو څو ډلو دهندي او ارياني ترمنځ بله ژبه ساتلـــی ده .په شمال ختیځ کې له قرغزانو او په شمال لویدیځ کې له اوزبکانو سره دتورکي ژبو (نور) استاز ی اوسیږي .

له بلې خوا څنګه چې ارياني ژبې سره په خپلو منځو کې هم ډیر توپیر لري او یو له بله سره نه پوهیږي نو وګړویش هم خورا پیاوړی دی. یوازي عربي چې دقرآن ژبه ده ،څه ناڅه تولو ته یو راز ده مګر هغه هم یوازي په دیني چارو پورې تړلې ده او یوازي دهماغو پخوانیو پوځیانو دپاتې شو نو ډلو له خوا ویل کیږي. دچال چلند ژبو په توګه پښتو او دري (تاجیکي) پوره دود لري .

پښتو دپراخي غځیدلي ارياني ژبني کورنۍ په شمال ختیزی څانګې اړه لري چې دبدخشان پامیر ژبې پکـی هم راځي .دغه پښتانه ۸ـ۹ ملیونو ته رسیږي چې دافغاني ټولنې تـــر نیمايي برخې تیری کوي .نور اووه میلونه پښتانه په جلاګړ شوي ختیزه سیمه «دپښتو نستان» کې ژوندکوي چې تر اباسینه غځیدلې ده . دغـه پښتني سیمه دهندوکښ پر جنوبي او لویدیز ښاخ له پرتې ایرانـــي افغاني پولې څخه داباسین تر آغاړې لکه لور کړه وړه بنه لري .داسې بریښي چې پښتانه لږ تر لږه یوه برخه لا په پخوانیو منځنیو پیړیو کې افغانان بلل کیدل ،لکه ددریمې پیړۍ دایراني ساساني پاچا په ډبرلیك کې چې «ابګان Abgan »راغلی دی .هندیانو په شپږمه پیړۍ کـې داباسین رادیخوا غرنیان د«اواګنه Avagana » په نامه پیژندل (۲٤ـ٤۹ عکسونه ) .

چیني بودایي ګرځندوی «هونځن» په اوومه پیړۍ کې دسلیمان غر یو ټبر د «اپوکین Apo-Kien » په نامه نومولی دی چې د «افغان» پــه زړو بڼو پسې ځي .پر غرنیو جنګیالو ټبرونو باندې دغه نوم دګاونډ یانو له خوا ایښوول شوی دی ،دوی پخپله ځان ته پښتانه وايي چې په شمال(ختیزو) ګړ دودوکې یې (ښ) د(خ) او په سویل (لویدیځ) کې دزیــږه(ش) په وینګ دود لري .په هند کې یې یوه بله نومبنه «پټان» دود لري (دمورګڼ ستیرنی دځیړنی لــه مخې دغه نوم له ډیر ګړي «پښتانه» څخه اخیستلی ښکاري ـ زیار) .

په پښتنو کې ټبرنی (قبیلوی) جوړښتونه په بیلا بیلو ګچوخوندي پاتې دي چې له یوی خوا دڅه ناڅه دوه میلونی ټبر نیو ډلو بیلتو ن او له بلې خوايي پیوستون سمبالوي. په هند کې داوولسمې پیړۍ کښلې ټبرنی پښتلړۍ (قومي شجری) ښايي هغه زاړه ځواك چلند ونه (دقوا وومناسبات) ، اړوندي او اړه تړه زموږ مخې ته کیږدي چې لاتر اوسه یې په ټبرنی (قبایلې) ټولنه کې دپوړۍ او پت (پر ستیږ) دآرونو (اصلونو) په توګه خپل ارزښت ساتلی دی که څه هم خپله رښتینی مانایي وخته له لاسه ورکړی ده. دپښتلړیو (شجرو) تاریخي یادونی ښايي نویستلـــــی(اختراعي) وی ،مګر دټبرونو موني دځرګندونې له پلوه بې ګټې نه بریښي. دهغو له مخې پښتانه په اسرائیلو پسې وړل کیږي چې یو «افغانه Afghana » نومې تری دغرنـــی

هیواد منځنی سیمی «غور» ته رالیږ دیدلی دی اود قیس په نامه یوزوی یی په افغانستان کی داسلام سر لښکر شوی او له پیغمبر څخه یی د «بتان batan » «ستن» په اړولی مانا «داسلام رکن» ستا ینوم تر لاسه کړی او دهغه ددرو زامنو دنومونو له مخی دپښتنو دری گونی ټبرونه (قبیلی) بیټنی ،غرغښت او سړ بن نومول شوی دی .دا لچی څلورمه ډله د «کرلانی» پښتنو په نامه دغرغښت دزونیوی (دینی زوی) له پښته را بیلیږی ،ښایی په پخوا نیو اوسیدو نکو به یی اړه درلوده او وروسته به پښتو را پور کړی وی .په کرلانیانو کی اپریدی ،ختك،ورکزی ،مسود ،وزیر ،منگل ،ځاځی،ځدراڼ ،وردگ ...«زیار» .د«زایی» په نامه ځانگی او ښښی یی پـــه تیرونیکونو اود «ـخیل» هغه یی دعربو په دود په پخوانیو ځانگو او ښرانگو پسی گرځی .

په افغانستان کی بیټنی ټبرونه دوه ـدری میلونه غلجیان را اخلیچی له کندهاره تر ننگرهاره میشته دی .وړی ځانگی یی سلیما نخیل ،هوتك ،سوری ،لودی،تره‌کی اونوری‌دی .په غرغښتو پوری ساپی اوکاکړ اړه لری چی دا وروستی زیاتره تـر کرښی اخوا دی ،سړبڼ شینواری ،مومند ،یوسفزی بړیځ او بیا ترټولو مخکی ابدالی را اخلی چی په اتلسمه پیړی کی درانیان هم بلل شوی دی،له‌دغو څخه دوی شاهی کورنی راـ وتلی دی ،یوه سدوزی (۱۷٤۹ ـ۱۸۱۸) له پوپلزی ټبر څخـــه اومحمدزی (۱۸۲۸ ـ۱۹۷۳) له بارکزی ټبرڅخه (دغه ټبرنی څیړنه اوویشنه دپښتنو څیړونکو له هغو سره پوره اړخ‌نه لگوی په‌تیره دپښتنو «اسراـ ئیلی» آره رښتیا یوه زړه افسانه ده.نن سبا ټولو کورنیو او بهر نیـوا کادمیکو پوهانو ته دا پوره روښانه او جـو تـــه د ه چـی پښتانه نگه اریاییان دی او په ارياييانـوکی به ساکانو پسی ځی چی دهندوـ کښ له شمالی سیمو څخه ساکستان«سیستان» او بیا وروسته غور کسی (سلیمان) غره او نورو سویلی او ختیـزو سیمو ته لیږد یدلی اوخپاره شوی دی .«قیس» هم ښایـی د «کاسی» او یایی دآری بڼی «ساکا» عربی بڼه وی ،بل داچی پښتانه له بنسټه دری ـځلور ځانگی نه بلکی‌پنځه دی ـځلور یی له څلورو پلرو (غرغښت ، سړ بن ، بیټنی ،کرلانی)او پنځمه یی متوزی دی چی دبی‌بی‌متود زوزات په نامه یادیږی ، لـه متو څخه یوه پښه غلجی اوبله پښه لودی اواندړرا جلاشوی دی ،سلیمان‌خیل ،علی خیل او نور زیاتره غلجی ټبرونه په لومړی پښی پوری اړه‌لری ،په هر توگه پوهه او گروهه سره تل یو تر بله گډیږی راگډیږی، په‌تیره دپښتنی یاټولی افغانی ټولنیدځیړنی سپړنی په برخه کی چی‌ډیر لږ اخځونه اومد رکونه لری «زیار». ډیرو ابدالی ټبرونو دپیړیو پـــــه‌پوړیـو کی «تاجیکی پارسی» (دری) ته اوښتی دی په تیره په شما ل لویدیځ (زما په خیال جنوب لویدیځ به سم وی ـزیار) کی .

دغه ژبنی همر نگی په اتلسمـــه پیړی کی دسر کښ واکمن ځواك په توگه دابدالیانو له لوړیدنی ســره ملگری وه چی دافغانستان نور وگړی(ملیتونه ) یی تر اغیز لاندی وو .په دی‌توگه یی‌په بیلابیلو ټبرونوکی یوار و پایی ځمکو اکی (فیودالیزم)ورته جوړښت را منځ ته کړ .همدا رنگه ترغلځایی واکمنی لاندی دنورو ټبرونـــو لـه لاندی کولو ســـــره‌ځبیښناکی چلندونه (مناسبات) منځ‌ته راغلل چی په پښتنی ټبرونو کی یی یو چټك ټولنیز توپیر پیښ کړ .

پر پوله او تر پولی اخوا پر تـووزیرو بیا ان زموږ تر پیړی پور ی‌د «ویش» سیستم پر بنسټ دځمکی او کرکیلی دگډی تولوالی (مالکیت)دوی لرغونی او لومړی ټولنیزی بنی‌ساتلی دی .دیوی له‌مخی ځمکو ویش دگډی‌تولوالی (مالکیت) دوی‌لرغونی‌او لومړی ټولنیزی بنی ساتل دی .دیوی له مخی ځمکو ویش دگډکهاله پلار دخپلوی او پښتلړی پر کره ونی(محك) تر سره کیږی ،داسی یوآرچی دکهاله له سرغنه (مشر) سره دخپلوی ښکارندو یی کوی .بیا هم‌دغه ویش زیاتره دکورنیو دغړو دشمیر له مخی په کالنی ویش ونج

(تبدیلی توزیع) کی راځی .لومړ ی تولنیز تېرونه دتېرنیو جرګو لـه خوالاربښوونه مومی‌چی‌امرلی (انتخابی) ملك یی په سر کی وی .بیلا بیـل تېرنی خیلونه بیا دخانانو تر لاربښو ونی لاندی راځی چی‌زیاتره له نومو- روکورنیو څخه دی .له تولنیز پلوه په پرمختیا موندلو تېرونو کی بیـا یوه ځه‌کوالی اریستو کراسی مخکښی لری چی یی دپاتمړی (میراث) ځواك څرګند ویی کوی .مګر همدا رنګه په وخته منځ ته راغلو فیوډالی تېرونو کی هم لا زاړه تېرنی حقوق «پښتو نولی» چلند لری چی ددویی غونډ (کود) یو منلی ډول دی .دښتنولی نوی زړی اوپه تیره دښځمنو اړوندی‌او نوری هغه چاری تر هر څه مخکی‌دپت او ناموس دربړو (مسالو) په توګه تر غور لاندی نیول کیږی ،همداراز دغرنیوکروندګرو اوکوچیانودګډ ژوند نوری پوښتنی ګروېږنی درواخله .دساری په توګه ددغه دودونو له مخی دشاتپونه له سینـــی‌تپونو سره په څرګنده تو پیریږی ، هغه داچی یو تښتیدو نکی یوازی‌له شا څخه تپی کیدای شی .دښځو اونجونو دتروښولو (اختطا فولو) اوبی لاری کولو کړن له وینی غچ سره‌اړه پیدا کوی . تر کورنۍ دباندی‌جرګه واك لری چی تر بشپړ رای یووالی پکی خبری اتری کیږی ،دلته دهری ډلی‌یا ګوندۍ دغړوسر شمیراو یا هم دیوه مشر ملاتړ ځواك نقش لری او څنګه چی هر پښتون همیشه درسته ګرځوی ،نو ځینی جرګـــی‌خونړیو غچ اخیستنو ته هم رسیږی چی په تیرو مهالو کی دځینو کورنیوپه نشتید نه پای شوی دی . دغه دودونو ته په اړ پرمختللو تېروونو کی په کلکه پام اړول کیږی ځکه‌هلته پیسی دسکیندی (جبیری) په توګه دومره دمنلو وړ نه دی .په وزیر ستان کی لا دهمـدی پیړی‌تـر دیـر شـو کلـو نو پوری دغچ‌اخیستنی له دندده یی وژونکو کار اخیستل کیده . دکهولونو دسر غنوترمنځ جوړه جاړه (موافقه) کیدا ی‌شی ،دمرګ وژوېلی مخنیوی وکړی په دی اړ (شرط) چی ټول کهولونه په پام کی ونیول شی، نه یوازی دلـویی کـورنی اړوندان . پیسی او څاروی او همدا رنګه دتر ښوو لـشویو دتاوان په توګه دکهاله خورلور ورکول کیږی او ددی لپاره‌چی هره خوا پر خپله پریکړه ټینګه پاتی شی ،نو په منځ کی د سوګندکانی (تیږه) ږدی ،بیا هم ټـــول تړونونه نه پر ځای کیږی او ان تر برونه یو پر بل وسله را پورته کوی چی پر ځمکه ځانته خیتـــه واچوی .دا راز پیښی هم لږی لیدل‌شوی نه دی چی دلا سلاندی ډلی‌ټول نرینه اړوندان یو مخیزه اټ وسټ شوی‌وی ،ددی لپاره چی‌مخکی‌له مخکی یی داتکلی غچ اخیستونکوتومنه ورکه کړی وی ،بچ شویو کسانو ته تش یوه خوښه ورکول‌کیږی او هغه داچی دګاونډ یانـو(همسایه‌وو) په توګه په ځواکمنو کورنیو پوری ځان وتړی . دغـــه تړښت دپښتو نولی په یوه بل دود(ننواتو) پوری اړه پیدا کوی ،داد شوو (پناه) وړنی یو ټول منلی حق‌دی چی دهغه له مخی پناه وړی له‌غچ اخیستو نکی څخه خوندی ساتل کیږی .چاته دیوی ښځی په لاس‌ټیکری استول داماناً لری چی را ستوو نکی یی په وروری منی اودی ورته هم باید له هر څه تیرشی.دننواتو پازه (مکلفیت) کیدای شی،تر دی ګچی ورسیږی چی اړونـد سړی (ټیکر ی اخیستو نکی) دوه‌کسیزه شیلك «دوویل» ته هم غاړه‌کیږدی .دیوی نجلۍ تروښو نـــه (تښتونه) کیدای شی ،په دی آړ(شرط) وښل شی چی ترو ښونکی‌یی دپلار پښو ته ولویږی او لـه خپل ښاخ (غرور) او پر ستیژه ورته تیرشی ،په دی چی دیوی ننوا تـی‌غوښتنی ردونه یوه ستره‌بی‌ننګی‌ګڼل کیږی .پښتو نولی زیاتره له دینی‌دودونو سره په ټکر کی راځی ، دساری په توګه دمیرمنی پریږ ه ( طلاق) په اسلام کی بی سرخوږه‌دی‌مګر پښتون یی دمیرمنی دکورنۍ لپاره یو لوی سپکاوی بولی ، لـه همدی کبله «طلاق» خورا پوچه کنځاګرځیدلی ده .

دواده پیچلی دود له ولور سره‌غوټه دی او داسلامی قانون له‌مخی‌پکی مور او پلار پریکړونی نقـش لری .بیا هم پښتو نولی شینګړی(متیزی) واده هم پیژنی ،هغه داچی نجلۍ دخپل خوښ کړی میړه‌پر

کور ننوځي (یا دچا خبره پري غږکوي) او ورسره واده کول غواړي، په دغه ګړن سره نجلۍ دځپلـي کورني په وړاندي «مړه» ګڼل کيږي‌او په دي توګه یي بیا ورتګ بندیږ مومي.دپښتونولۍ‌آرونه (پرنسیپونه) ډیر سخت اوخونړي بریښي ،خوپه پیړیو پیړیو یي بي دولتي ځراکه اودولتي قانونه امن وآرامي پر ځای کړی‌دی.

په شمال ختیزو ژبو لکه پښتانه ،پامیریان هم غږیږي چي شمیر یي‌د ۵۰۰۰۰ او ۶۰۰۰۰ وګړو تر منځ اټکل شوی او په ختیز بدخشان کي‌پر ګڼو ډلو ویشنه مومي . په دوی‌کي تر غوجل پاملرني پوری تړله څاروی پالنه په ښځو اړه لري اوکرکیله په نارینه وو پوری اړه‌نیسي .

په شمال کي روښانیان ،شغنیان‌او اشکاشمیان اوسیږي اود واخان‌په پټاره (نوار) کي واخیان او په سویل کي مونجیان او وړاندی ختیځ‌خواته سنګلیچیان پراته دی . په دغو ټولو کي مونجیان ښه تراڅیړل شوي ،داسي چي ددی نورو لپاره‌هم تری دبیلګی کار اخیستل شوی‌دی .کلاوي یي چي زیاتره پر لوړو پرتي دي ،ښي تینګي جوړي شوي‌او یا لږ تر لږه یو کوټ لري چي‌دخطر پر وخت ورته کلیوال ور ـ کوچیدلای شي .ددغو کلاوو هـــــراستو ګنیز برج به یوه کهاله اړه‌اري‌چي په هغه کي‌دیښرو (حاصلاتو) نیمایي‌برخه دیوی تنګسي لپاره‌زیرمه‌کوي .دکوټ په وربوی کي یوجرګه ځای ټیکا ولري .پر اوړو باند ی خبري (سیګنال) برجونه هسك‌شوي‌دی .دنونسمي پیړي تر بایه پوري‌مونجیان دیوه میر تر لاس لاندي ژوند کاوه چي بیا دافغانانو (پښتنو) له‌خوا هیسته‌شو .مونجیان دشیعه‌وو‌په اسماعیلي څانګي اړه لري چي ښایي په څو را وروسته لسیزوکي‌وراوښتي وي .په دغه ګروهه کي‌یي خپل پخواني څیزونه هم خوندی ساتلي دی ،دساري په توګه دوی‌خپل مزد کونه تر ننه پوري دغرـڅانو په ښکرونو پسولي .دغه ټبر ددغو ښکاري ژویو په باب ډیری‌داسي کیسي افساني لري چي تـر اسلامي مهاله زړي بریښي .په دوی کي یوه پرمختللي وګړني لوبه‌دودده چي بدلي ور سره بولي او پـه داسي ترڅ کي چي ځینو یي پرمخ څیري (ماسکونه ) اچولي وي ،دګاو نڅیانو په باب دملنډو یا دورځني‌ژوندانه دپیښو ننداري وړاند ی کوي .په دوی کي پر صند قونو ،لوښیو او ودانیو دلرګی کیندنـــي‌انځورونه پوره نوم لري. همدا راز پکي دغدکو (قباوو) سره او تـورسکویونه (ګلدوزی) هم دیادوني‌وړ دی .

دافغانستان دویمه ستره وګړډله تاجیکان دی چي دفرغاني تر ناوی‌پوري میشت دی .دوی لږ تر لږه یو زر کلنه ادبي ژبه کار وي چي‌په لویدیزی اریاني (ایراني) څانګی‌داړوندي ژبي «پارسي» یوه بڼه ده اود تاجیکي یا په بله وینا ددري‌په نامه یادیږي .دوی‌له راوروسته لرغوني پیر راهیسي یو دولــت هومره درلود او په ترڅ کي زیاتره‌دنورو ترواکمني لاندي راغلي دی،په دي توګه یي ټبرني (قبیلوی) دودونه له لاسه ورکړي اود هغوپر ځای کورنۍ او ټولنیزی ټولـي(کټیګوری) رامنځته شوي دی . د تاجیکانو نومونه (اصطلاح) داټکـل‌له مخي په «تازي» پسي ځي . دایوداسي نوم و چي پارسیانو پري یو وخت عربان نومول .تری لویدیځ‌ته پرتو تور کانو تری «تازیك» جوړکړ او په ټولیز ډول یي دګـردو مسلمانانو لپاره وکاروه ،تر څـوپه پای کي دمنځنۍ اسیا داریاني(ایراني) ژبو مسلمانانو یو غونډ نوم وګرځید .تاجیکان چي څومـره‌لویدیځ‌ته نژدی پراته دی ،هومره‌یي له پارسي سره دګړدود ورته والي ډیر یږي چي دهرات دسیمي‌تاجیکان یي ساری (مثال) کیدا ی‌شي .دآمو سیند سویل ته دافغاني تورکستان میشته تاجیك ژوندکوي،لکه په کندوز ،بغلان او بلخ اوهمدا راز په کابل اود شمـالٰ او لویدیځ په سیمو کي .همدا رنګه‌په ډیرو جلګه یي سیمو کي ځیني‌نیم کوچي ډلي هم‌په تاجیکي غږیږي چي څه ناڅه په ایراني تورکـــيټبرونو اړه لري .



ACKU

دتاجیکو او همدا راز دهمرنگ‌شویو اوزبکو په وگړنی هنر کی دوریښم او بدتی اوسکوینی (سوزن دوزی) تر څنګه کاشی سازی هم‌ستر نقش لوبوی. سویسی مهندس‌شتو کرت (د۱۹٤۵ دجولای ددیار-لسمی اود اګست دڅوارلسمی په دوو لیکونو کی) دمزار شریف‌کولالی‌پیداوارپه داسی رنګینی ښنلی دی: «دژوند ډولونو له ښه کیدنی سره بیلا بیل کارونی څیزونه هم بدلون‌مومی. بیا هم دلته خاورین لوښی ساده بریښی. لاداوښیو دنده په سپین کړشویو مسینو ګډوو اودیګوهم‌تر سره کیږی اوسپیځلی څیزونه جوړول، لکه چاینکونه له دغه رازشدل لاسی کار څخه پوره نه وو. په‌دی توګه له‌تیری پیړی راهیسی دچای څښنی له دود سره سم چینی‌چاینکی هم له بهره راوړل شوی. په ورو ورو ځایونو کی چای لوښی او چای سره پر یوه پلور تخت‌خرڅول کیږی.

زه غواړم، پر خاورینو لوښیو اودهغو پر ډولونو یوه لنډه کتنه وکړم چی دمزار شریف په بازارکی دود لری. هسی خو دبښی‌او جلاکاری له پلوه دبیلا بیلو ځایونو لوښی‌سره لږو ډیر توپیر ښیی. که چیری یو ځل بیا کلیوالو سیمو ته تللی‌وای، دغه راز توپیر به می یو څه ښه ترا څیړلی وای، له بی چلا لوښیو څخه به یی را پیل کړو:

تر هر څه مخکی تنور را اخلو. داد یوه ډډ خیتی ګلدان غوند ی‌جوړیږی او بی له دی چی وښورول شی، ځای پر ځای تری له شاو خوانه ګرد دیوال را چورلول کیږی. بیا یی نو تر خولی پوری له اغزیو اوغوشیو څخه ډکوی اواور وراچوی. په دی توګه یی پر سرو دیوالونو دودی پلنی پلنی پیړی تپل کیږی او تر پخیدو وروسته تری په سیخ سره رابیلیږی.

څنګه چی هلته هوا زیاتره تودە‌وی، نو دکولالانو زیات زور هم دمنګی جوړونی خوا ته دی خو په ډول اوبڼی پسی یی دومره نه ګرځی‌یوازی لاستی او غړی یی یو څه عادی بریښی. یوه کولال ماته خپل سندان او څرخ (ګیدال) په مخکی کیښوول چی په هغو سره دمنګی‌خیټه ګرده ورده جوړیږی او کوم نقشونه چی پری دترکانې له خواکیندل شوی وی، منګی ډولی کوی.

په نورو سیمو کی دغه رازنقش‌ونکار په خورا نفیسه توګه ترسره‌کیږی چی دسویل او ختیځ او همدا-رنګه دهند خواته دود لری مګر دمزارشریف په سیمه کی یی کوم‌څرك نه لګی. کوم ګړونج او ګړی چی په انځور (۹) کی لیدل کیږی، اوس له بازاره ورك شوی دی. دغه منګی دچا خبره تولیزی (عامـــه) چینی دی ځکه کومی اوبه چی په ویالو لښتو کی بهیږی زیاتره خړی‌او چکړی وی او په منګیو کی خړه ختبه ورو ورو کینی. له بله پلوه‌څنګه چی داوبو لوښی بی جلا جوړیږی، نو اوبه زغمی او په دی‌توګه یی سړوی هم. داوبو چاټی دسرای‌په ننوتو ځی یاد بازار دڅلاری(څلور لاری) په یوه سورلن ځای کی ایښوول کیږی چی له هر خواړی بادهم راچلیږی. داوبو کندولی بیا دمنګیو یا چاټیو دبرغولیو کار هم ورکوی او له دی سره له‌خاورودوړو او مچانو څخه اوبه پاکی‌پاتی کیږی، په دغه ترڅ کی کله کله ډولی ډوالی خولپټی څپونی هم لیدل کیږی. زیاتره دجوماتونو یازیارتونو ددیوالو په ژور غالیو کی دښباك اوبو غټ غټ ګړی یا چاټی‌ټینګی شوی‌وی چی‌اوبه لیږدوونکی(سقاوان) یی به خپلو ژیو ډکوی او په خوا کی یی ورسره کندولی‌هم اړی کړی وی. یو کندول لکه دمونښن دبیرو جك غوندی ښه یو لیتر اوبه اخلی او په دی ډول داوه تری هیواد ښکارندویی کوی. په کور کی هم له داسی ســاده خاورینو لوښیو کار اخیستل کیږی‌چی اوبه پکی له یو څه ځنډ سره‌سړوالی مومی.

لوی دوه غوړی منګی بیا دځوموخو لپاره په کاریږی. هم پکـی‌غوړی ساتل‌کیږی اوهم‌پکی دبادرنګو یا بانجانو اجار اچول کیږی. سرکه نه یوازی له کورو (انګورو) چی‌لاله سپینو توتانو څخه هم لاســه



ACKU

راځي .دميلو او اخترو پر ورځو به ژنيو دبانجانو داچار درانه منګي پر اوږو ګرځول او چار به يي واهــه .

دغوړيو او سرکي دساتلو لپاره له لاستورو مټيو څخه هم کاراخيستل کيږي .همدارنګه دغوړيو دساتنې لپاره ډولي ګلدان ډوله منګي هم کارول کيږي .په داسي ترځ کي چي دادواړه ډوله منګي له زيږي خاورې څخه جوړيږي اودننه خوايي زرغونه ليويږي ،ګلدانونه بيا له ســري خاورې رغيدنه مومي اود ننني خواته يي سور ليو ور کوي .

غوړ دچا خبره له هر راز خوراك سره تړلې دی چي ارزان ترين يي دلمرو پسونو دلم وازده دی . تر څنګه يي دميږو کوچ ياغوينه وازده هم څه ناڅه ګرانه خرڅيږي . په دي چي ډيري ميږي له سخت ژمي څخه نه وځي او همدا رنګه کره کول ميږي هم دپيو رواو لمـوروميږو په تاوان پريوځي .توركمنان زياتره خپل اړتيا وړ غوړ له دانه بابو څخه پاسي او په كندوانـوكي يي ساتي .

په پارسي کي متيازو تـــــه «جواب چاي» وايي چي په هغه کي ډکي هم راځي .دواړه ماشوم لپاره ددغه کار چاره په دي ډول کيږي چي په زانګو کي ورته دپښو لـه منځه يوه نلکه يا توته تيره شوي وي او په دي توګه کړي متيازي خپله سمه سيخه لاره مومي ،چي دلته يي درته يوه اوانه (سکيژ) وړاندي کوم (١٠) :

افغانستان دپوونده وو او کروندګرو تاتوبي دی او له دي کبله يي لوښي لرګي زياتره ساده دی .چلم پکي هم په ډيره ساده بڼه جوړيږي اود عراق غوندي دڅو شو ځکوونکو لپاره بيلا بيلي ربړيني ځوښکي نه لري .چلم دګلدان غوندي جوړيږي چي په هغه کي دوی نلکي ټينګي وي ،يوه يي اوږده چي بيخ يـــي لاندي په اوبو کي او سر يي نيغ بهر راوتلی وي چـــي خوله پري ايښوول کيږي ،دا بله يي لنډه کي وي چي په هغي بلي پوري دچلـم په خوله کي ټينګيږي او سري پري سپريږي .دسري لاندينې سوري په يوه ګيټکۍ بنديږي ،بيا پکي لږڅه پونه تماکو کښي منډل کيږي او دهغو پر سر سري سکروټي ايښوول کيږي .چلمي ددي بلي اوږدي نلکي ځوکه په خوله کي نيسي اود سا په زور دتمکو لوګي داسي ځانته راکاږي چي پتليز ورسره له لاندينيواوبو څخه هم يو کوړهار پاسي ،په دي توګه هر کښنګ يي نيغ سږو ته راخيژي .البته دغه راز چلم ځکونه په پخو ځکوونکو اړه لري .ما چي پخپله يو ځـــل وازمايه ، ښايسته شيبه يي ګنګس او بيسده کړم .په دفترونو کي دچپراسي يوه دنده داوه چي پر وخت پر وخت چلم سور کړي او پر تولو يي وګرځوي.زموږ لپاره دا کار ناروغتيايي بريښي چي پر هماغه يوه نلکه يو او بـل خوله ږدي ،مګر دغه لوښه (عادت) له ډليزي اګاهي (شعور) څخه سر چينه اخلي .دلته لا ترننه پور ی دلوښيو «ښښتنولی» کومه مانانــه لري .دا داوبو کټوري (ګيلاس) هم هغداسي په ګډه کار ول کيږي . د ډوډي پر وخت له اوبو ډکيږي اوتشيږي .موږ بايد منځنيو پيړيو ته پر شا ولاړ شو او ددغه راز ورته دودونو څرك ولګوو مګر نن سبا هرچيري دافغانستان په کورني کړ ی کي دومره هم څوك ځان اړنه نکيږي.

څرنګه چي چلم يو غوره ځيز بلل کيږي ،نو خورا ډيري ښي يي مو ندلي دي ځيني پکي مسين دي چــي ډيري ښکلي جلا کاري شوي وي اونل (دورمه) يي په مشکنو جړاوه وي .همدا رازيي سري له ښايسته توړل شوي غوز لرګي څخه رغو ل شوي وي ،په هماغه يوه چلم کي تماکو اوترياك دواړه ځکول کيږي.»

په وروستيو لسيو کي دتاجيکواو پاميريانو ډيري سيمه ييزي دلي اتنو ګرافيکي څيړل شوي دي لکه پر ١٩٦٥ کال دکوسماول او پـــر١٩٦٢ کال دشورمن له خوا .

ددغو خیړنو له مخی د بدخشا ن پامیریان په یو ځای پرتو کلیو کی اوسیږی چی هر یو یی تر ۳۵ پوری کورونه لری او لویی کورنی پکی ځای پر ځای شوی دی . ورهنه (پیشه) او سوداگری یی دسیمی له درو ښارونو څخه تیری نه کوی . کورونه له ډبرو جوړ شوی ، داسی چی لرگی پکی ورکړ شوی او په یوه لوی بش (تیر) ټینگ شوی دی، مخی ته یی دالان وی او څوك چی ددغه راز ودانی له توغه وتلای شی ، نو تیرونه یی په ترکانانو ښه ښکلی توږی او نقشی کوی .

مانیزه منځی یی مزدك (جومات) دی چی بې منارو جوړیږی . ور سره پتلیز میلهستون او جرگه ځای هم نښلول شوی چی ددود له مخی پکی ۱۲–۱٤ کلن جره ژنی شپه تیروی . د بدخشان پامیریان زیاتره دکوچنیو کرگرو په توگه ژوند کوی چی د سوداگرو دسود خوری تر پیټـــی لاندی یی ملاوی کړی دی . ستره واکمنه کورنی پکی له اسماعیلی روحانیت څخه آره (منشأ) اخلی . ډیر بی وزله شوی کرگر یی اړ دی چی دورځ مزدوری له لاری خپـــل ژوند پرمخ یوسی . دلته تر هر څه مخکی داوبو نی ویالی له کروندو سره لیدل کیږی چی پتی پتی دی او په د رو کی دمیوو ښیرازی یيبری (حاصلات) کیدونی کوی . دیوه دری پتيزی کروندی غوره پیداوار غنم دی ، تر څنگه یی اوربشی ، متر ، ږدن ، اوبیا ، کتان (پومبه) او داسی نور هم لیدل کیږی . یو ستر نقش پکی بیا پووند گلی لوبوی چی په ځینو کلیو کی بیخی دژوند بنسټ جوړوی . څاروی یی وزی اوښ غویی دی چی په اوړی کی پر لوړو څړنیو ورشو گانو څرول کیږی . د ښځمنو له غورو کارونو څخه څاروی روزنه ده چی تر سکولئی او اوبنی پوری یی رسوی . غالی او بنه پکی څوك نه پیژنی ، پر ځای یی تغر او بنه اونیمځی غړنه دود لری . غوره بارڅاروی یی خر دی ، په وړاندی یی اس بیا دپت وپرستیږ په پوړی کی راځی او زیاتره دوزلو بـی لپاره روزل کیږی او ښه یرغه اس یی خورا لوړه بیه لری ، چی دمیاشتنی گټی پنځوس برابره اود خره دبیی لس گرایه کیږی .

کالی او پو ښا کپه کور کـــی جوړ یږ ی ، په زړ ه پـوړ ی کالی یی وړین کنځو لونه (کوســی) دی چی زیاتره سکرلی کیـــــږی . دد پگړ یو خولی بیا په خو راډ ولی بنه چکنیږ ی . ښـــځمنی له پر – تگونو (برزوگانو) سره کالـــی اودځان نغاړنی ټیکری ملگری کوی گانه اوپتری لرودیر دگرځنده لاسکرو کاردی . دروزگری او ترکانی په کرگـــرواړه لری .

ښځمنی خاورین لوښی جوړو ی چی یوه برخه یی دنرینه وولهٔ خوا په بازارو نو کی پلور ل کیـږ ی . اویه کور نی یو پلروا کـی ځـای دی په ، دی ماناچی ناوی دمیړه کره دخپلی پلر نی کور نی پـــه چوکاټ کی پاتــی کیږی . تولـــی کورنی سره گډه کلیوا له جر گه ا جـوړوی ازهمـدا جـرگـه یـــی د دولت په وړاندی استاز ی کو ی . دو لور ی واده ځای خدمتی واده هم نیولای شی او هغه داچی بیوز لـه زوم دو لو ر پر ځای ٥–۷ کاله دخسر بی تنخا مزدوری کوی .

دغه سیمه تر هغی مخکی پــه افغا نستا ن پوری و تړل شــــی دیوه امیر تر واکمنی لاندی پـــر درو حالیو (فیض آباد ، جرم اردند) ویشل کیده ، دغه خانی بیا پـــه کیلوال مشرانو جرگی ډډه لگوله . وگړنی ټینگ ټکور او داستانی هنر پکی ښه ډایه وده موندلی ده همدا ـ رنگه نڅاوی هم پکی ستـــر نقش لوبوی .

له هر کلی سره دیو ستوو یـــاغبرگـو کر کندو او گټونو بار ی ایدل کیږی چی دجرگه ځای ښکار – ندویی کوی . ورته څرمه یوه خورازړ هکر کنه اود کلیزی دټاکنـــی لپاره دلـر کتنی یو څار خو نــــه (رصد خانه) په سترگو لگی چی له اسلامی کیدو راهیسی ور سره یو جومات هم نښلول شوی دی . له څه نا څه ډیری ټینگی اسماعیلی گروهمنی سره سره پکی بیاهم دپیریانو اودیوانو انگیرنه کور ته له منځه

غللی نه ده .په تیره دپیریانو دغرو اود غرڅانو دګورمونو دښنا پیریو (بیبیانو) هغه چی دغــــه نمانځنه زرونه کلونه لرغونو الی‌لری ،ځکه دښکاری انګیرنه دادهچی‌که ښاپیری ته په زړه کی پاکوی، نو هله یو غر څه ښکار ولای شی .دبدخشان دکولتور ډیر توکونه دوګړو له ختیز اریانی بنسټ سره اړخ لګوی چی خپل اړوند ګړدودونه (لهجی) یی‌لاتر اوسه خوندی ساتلی‌دی .

په دی لړ کی دمو شکنت (دکتاب۵۸/ ۴۵۷؟) تاجیك‌بیا یوڅه بل‌شانته څیره لری دوی په ګڼ میشتوکلیو کی ژوند کوی ، یو څه یی ان په سترو منځنیو (مرکزونو) کی هــم‌میشته دی چی دنورو غوندی لــه سترو کورنیو څخه ترښت (ترکیب)مومی. دلته جومات دجرګه ځای په توګه کارول کیږی .په منځ کی یی یو اور غالی ایدل کیږی .داد هغــو اسلام مخکی اورتونونو یوه پیلامه ده چی ځینو پامیری وګړ ډلو لا تر اوسه خوندی ساتلی دی .

هزاره

دا د اریائی ژبو وګړو دریمــه ډله ده چی دکابل په لویدیزه‌غرنی‌سیمه (غرجستان) کی ژوند کوی . ددوی ګړدود (ګویش) له تاجیکــی(دری) څخه را بیلیږی چی بیلی‌ځانګړتیاوی لری او زاړه مغولــی توکونه (عناصر) یی هم ساتلی‌دی. له پژنی (جسدی) پلوه بیا تراریا نیانو څخه مغولو ته ډیر نژدیوالی لری . دوی له څه نا څه یو میلونی‌وګړو سره یو لږه کی (اقلیت)بلل کیږی چی دپر مختګ په برخه کی یی له ډیری ناغیړی (اهمال) څخه کار اخیستل شوی دی . په همدغه نامه یوه ډله خلك په مرو ، دبابا غر غرنی پووندە ،دبامیانو دشیخ‌علی‌هزاره او یوه نیمه کوچی ډله په بدخشان (قطغن اونوروشمالی سیمو) کی هم اوسیږی همدا راز دمشهدپه سویل ختیځ کی پراته بربریان هم‌هزاره نومیږی . دغور له خلــورو ایماقو څخه یو ایماق هم هزاره‌بلل کیږی چی له دغو نورو سره دشمال‌اویدیز افغانستان داریانی ټبرونــو (قبیلو) یو فدرا سیون جوړ وی .

دهزاره وو تر نامه لاندی له‌اوو څخه تراتو ډلو پوری په بیلابیلو ګچو دټبرنی (قبیلوی) نظــام ځانګړ نیاوی خوندی ساتلی دی .یوه غوره ډله یی په هزاره جات(غرجستان) کی دسترو ځمکوا لــو کلاوو ته څــرمه پــه ګڼ میشتوزمکورو (ژمنیو مینو) کی ژوند کوی (البته په روانه پیړۍ کی یی‌کابل ښار ته هم رالیږ دیدنه پیل کړی‌ده ـ زیار) .

په اوړی کی بیاله خپلو کیږدیو(خر ګاوو) څخه کار اخلی . دوی‌تول او یا یی لږ تر لږه دمیرانــو کورنی په هغو مغولی لښکرو پسی‌ځی چی په دیار لسمه پیړۍ کی‌دلته میشته شوی او له غرنیــــو تاجیکی کروندګرو سره اخښل شوی‌دی . له سختی واوری اور یا سره‌یی که یو خوا للمی کرونده کیدونی کیږی ، خو بل خوا یی دګور دونــو (ګلو) دپالنی او مړونی په تاوان‌هم پریو ځی . جوما تونه پکی نــه لیدل کیږی ، که څه هم ددغــــی‌منځنی غرنی سیمی هزاره له دولس‌امامه ګروهی سره اړوندی لری . مګر دشمال ختیځ له اسما عیلــــی‌هزاره وو سره له هر راز خپلوی‌څخه غاړه غړوی . دجو مات پر ځای میلمستون (تکیه خانه ) لری چـــی‌میلمه ایزمه پکی ځای‌پر ځای‌کوی.ددغو هزاره وو او له دوی څخه مخ پر لوید یځ یا په بله وینا دغور خواته دزړو مغولو کلی هم‌شته‌چی مغولی ژبه یی ساتلی ده او ځانته مغول وایی . ښایی چی دوی‌به دیارلسمه پیړۍ کی دمغو لــودستر لښکر لیږد (لشکر کشی)پاتی شونی اوسی . دوی دمنځنیو پیړیو په‌اخځونو (منبعو) کی دنیکو داریانوپه توګه را څرګند یږی او داسی بریښی چی تر اتلسمی پیړۍ پوری‌به یی څه نا څه ستر رول لوبولی‌وی . ددوی ټبرنی (قبیلوی) ډلــی ټپلی متی په همدغه اوسنی مها ل کی ړنګتیا (انحلال) مومی.دځمکو واکی (فیوډا لیزم) کومی جوړی چی

ACKU

په هزاره وو کې لیدل کیږی ، په دوی کې یې څرك نه لګی . دو ی سني مسلمانان دي او کلیوا لی مشران او ملایان پکی امرئي (انتخابي) بڼه لري . هسې خو نور ی ډېری مغولي ډلي هم شته چې خپله مغولي یې له لاسه ورکړې او په تاجیکي (دري) یا کوم تورکي ګړدودګړیږي .

«څهار ایماق» دتاریخ یوه لوبڼه ییزه (خصلتي) زیږنده ده ، هغه داچې دڅلورو ټبرو نو انه یوالی (فدرا سیون) جوړ وی ، ایماق ( Aimaq ) په تورکو مغولي ټبریا ټبرني پښبنی ته وایی او همدا رنګه دپوونده یا څارو ی روزو نکی مانا هم را اخلی . دڅهارایماقو سیمه له لوید یزی خواڅخه په غرجستان پوری نښتي داڅلور ټبرونه له آره په دې ډول دي :

دهزاره وو ایماق په شمال کی (څه نا څه ۵۰ زره) ،
جمشید یان دهرات په شاو خوا کی (له ۴۰ تر ٤٤ زرو) ،
فیروز کو هیان دمر یرود په شمال کی (۱۱۰ زره) ،
او تیمنیان په سویل کی (د۱۸۵ زروشاو خوا) .

زور یان (سور یان) له ۱۵۰۰۰ وګړو او تیموری له ۳۳۰۰۰ وګړوسره هم په دی ډ کی راځي . څهار ایماق خورا شیند پر شیند اوسیږی او زیاتره کوچیانی او نیم کوچیانی ژوند لری . ځینو ټبرونو پکی کرـ کیلي ته هم مخه کړې ده . ټو ل په تاجیکي (دري) غږیږی اود تاجیکوغوندی زیاتره سني دي . په شمال کی په آره توګه خر ګاوی کار وی مګر تیمنیان څانته بیل ډول تور ی کور کیږدی لری ، پاتي نور یې د پښتنو غوندی په اوږدو کیږدیو کی ژوند کوی (د ژباړو نکی د ۱۳٤٤ کال د ژبنیو او وګړ نیو څیړنو له مخی له هزاره وو ، جمشیدیانو او تیمور یانو پرته دا نور دری ټبره لکه سور یان ، فیروز کوهیا ن او تیمنیان خپله آره په پښتنو او بیاپخوا نو غوری شاهي کور نیو پوری تړی . په تیره تیمنیان چی څان بیخی (کاکړ) بولی : «ما کاکړ یم».) دسویل لوید یځ دریګستا نو نـواوسید ونکی بلو څان او برا هویان هم زیاتره کو چیان دی . دو ی اوښان ، پسان او وزی ساتي او په تـورو کـو چـانـي کیـږدیو کـی او سیـږ ی . بلـو څـان له ژبنی پلوه په شمال لوید یزواریانیانو اړه لری او داسی بریښی چی په لسمه پیړی کی سویل ختیځ ته را لیږ دیدلی وی . دغه ټبرونه نن سبا له کرمانه تر پنجاب او له سمندره تر سویل تور کمنستانـه پوری خواره واره دی . په غالـی (ټغر) او بدنه کی لوی نوم لری او په تیر مهال کی تری دپار تیزا نانو په توګه ویره کیده . دو ی دټبرني جوړ ښت له پلوه لا ترد ی ګچی نه دی رسیدلی چی ټبرنـی یووالی (فدرا سیون) ته لوړ تیـاومومی .ددوی بیلا بیلی ډلی دپیړیو په پوړیو کی دبلو څو ، براهویانواو پښتنو دیوه یووالی په بڼه سره دنورو همتپر و په وړاند ی څو څو څله یو لاس شوی دی . دبلوڅـوشمیر یوه اټکلی بڼه لری ، پخپله دافغا نستان بلوڅ د ٤٠ زرو اودوه سوو زرو ترمنځ ښوول شوی دی .ټول شمیر یی هر ګوره دمیلو نونو تر بریده هم اوړی . ځینو بلوڅـو چی چیری په یوه نیمه ابادهناوه‌کی‌استو ګن شوی دی ، کرو ندی ته هم مخه کړی ده ، ددوی دخانانـو (سردارانو) څواك منځی (داقتـدار مرکزونه) هلته جوت شوی چی له دولتونو سره یی سختی ډغـر ی وهلی دی .

همدا راز په غوره توګه دکلات په سیمه کی اوسید ونکی دراویدی ژبی براهو یان په تیرو زمانو کی دپښتنو یا پارسیانو له لښکروسره‌هم لړو ډیر په ټکر کی شوی دی.ددوی وټه (اقتصاد) دبلوڅو له‌هغه سره یو راز دی او دلیږ دونـو له لاری یی ځینی ډلی تر هرات اوسویل ختیز افغا نستانه خپری شوی

دی . د سویلی هند له وگړو سره‌یی دژبنی خپلوانو په توګه دتار یخی شننی له پلوه موږ له ستری ربړی سره مخامخ کړی یو .

همدا سی اور مړ او پراچیان هم‌دروا خله چی دسویل لویدیز اریانی‌ژبو پاتی شونی دلی دی . د لوګر په دره کی څه نا څه سل کورنی په اوړ مړی غږیږی او همدا رنګه دوزیر ستان دکانی ګرام دښار ګی اوسید ونکی . له پیښور سره دری‌کلی ځانونه اور مړ بولی ، خو له‌وخته یی خپله ژبه پریښتو اړولی ده (اور مړی نن سبا دافغا نستان) په نیمژواندو ژبو کی راځـی ، دبرکی برك او برکی را جان په کلیو کی پرتو اور مړو ژبه زیاتی‌لوګری‌دری یا پښتو ته اوښتی او یواز ی‌زاړه پښت تر اوسه ساتلی ده . دافغانستان په نورو سیمو کی اورمړوخو لاډیره پخوا پخپله ژبه هیره‌کړی او داړو ندی سیمی په ژبـه (پښتو یا دری) غږیږی – زیار) .پراچی دکاپیسا په دوه اړ خیزو درو (پچغان او غو چولان) اود ګلبهار په شتل دره کی خوند ی پاتی ده. پراچی ژبی داسی بریښی ، له هغوپشه یانو سره وونجیږی چی دهند- وکښ په سویلی ترو کی ژوند کوی اود یوی اریانی ژبی «پشه یی» په څو ګړدودو (لهجو) غږیږی . پشه- یان کیدای شی ، دکابل ناوی پخوانی‌اوسید ونکی اوسی . شمیر یـــی‌شلو زرو (داو سئیو شمار نو له مخی شپږ سوو زرو) ته رسیږ ی.دوی غرنی کروند ګر دی او پتی‌دوله اوبه خوری کرنه پرمخ وړی په دوی کی کرکیله دښځو اوڅاروی‌ساتنه دنارینه وو کار بلل کیږی .هستو ګنځی یی دغرونو پر دډوو را جاله شو یو پوړی ییزو کلیوکی‌تیکاو لری (۳۷) .

پشه یی په دردی ژبو اړه لر ی‌چی آره یی هنـدو اریایـی ده اوتېرونه یی هر خوا خواره وار ه شوی دی . ددغو (دردیانو) منځـی‌چترال دی چی دکونړ دری هغـــــه‌ور پوری تړلی دی (نوری دردی‌ژبی ګوربتـی ، ځمـاکـــی ، ساوی ، کشمو ندی ، تیراهی او داسی‌نوری دی) .ډیر یی دسویل ختیځ له پښتنو سره ویلی شوی او لاویلی کیږی .

یوه بله ځانګړ ی وګړ دلـــــه پخوانی «کافر» دی چی پر ۹۶–۱۸۹۵ کال له زور مسلما نیدو راهیسی «نورستانیان» بلل کیږی او دهیواد په شمال ختیزو غرونو کی ژوندکوی (۱۷) . ددوی ژبی له هند ی او دردی ژبو سره یوه ځانته جلاژړه‌اریایی څانګه جوړ وی (*۹). دنورستانی ژبو شمیر لږتر لږه پنځو ته رسیږی چی پیړی پیړی په‌غرودرو کی یو له بله اړیکی شلیدنی‌پر ډیر وګړدودو برخو برخو کړی دی، لکه پراسونی ،کتی، اشکونی،ترا ګامی (داملی) او وایګلی . دغه پنځه‌سره ژبی‌په درو درو (الینګار، پیچ او باشګل) کی ویل کیږی .دا داسی دری دی چی په برسر کی‌له ۲۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ مترو لوړ- تیا پوری یو څه ارتی او په منځنی‌او لاندینی برخه کی سر ه بیر ته‌ورغلی او بیخی پر کولیو اوستـغ یو نو تنګیو بدلی شوی او په‌دی‌توګه یی خپلی خپلواکی په اسا نه‌ژغورلی دی . دنور ستان دری داړبو له پلوه بی خر ته وړنده دی اوله‌مو سونی وربښتو نو سره نیم حاره‌یی پوست اوړی تر لاسه کوی او له دی سره پر اوړو باندی ښیرازی‌ور شوګا نی منځ ته راوړی . دغه غاړه دافغا نستان له یو څو ځنګلی سیمو څخه یوه سیمه را اخلی .دلته ځیږه د ۹۰۰ او ۲۲۰۰ مترولوړو ترمنځ لیدل کیږی اوستنیزی (سوزنی) ونی یی تر ۲۲۰۰ متـرولوړتیا پوری پرستر ګولګی . یړان،لیوان ،پړانګان ،غر څان ،وږښې ، (کاغی) ،کوتری اوغرنی چرګان یی‌له ښکار ی ژویو څخه ګڼل کیږی.

دنور ستان یووالی هغه مها لسمبال شوی دی چی دبهر نیـــــودښمنانو په وړاند ی یی دژغو رنی ربړه رامخته شوی ده . په کلیوالی‌ولسی ژوند کی تل یو له بلـــه خپلواك پاتی شوی او له داســـی کهو لونو څخه یی رغیدنه موندلی‌چی‌ډیر ډیر کلی یی نیولی دی . دکام‌کهول مشران او «جښت» نومـــــی



PROPERTY OF ACKU 5111

کلیوال چې دنور ستا نیانو او درد یانو ځانګړی پد یدی په توګه یې دمیړانی او خدمت نوم ګټلی وی ، پر کلیو واکمنی چلوی ، خان اوملك پکی ډیر لږ لیدل شوی دی .نور ستا نیان پخوا یواز ی پر بیلا بیلو ټبرونو نه ویشل کیده بلکی پکی دبار یانو په نامه کسبګرټولګی(کاست) هم و چې ټیټ آری ګڼل کیدل . ددوی له کارو نو څخه یوداچې پژی (مجسمی) جوړی کړی ،مګر تر څنګه یی جولا ګری ، چمیاړی ،ارګی توړنی او ښنګری هـــم کوله .او بدنی په ښځمنو اوګندنی په نارینه وو اړه دراوده . ټینګ ټګور او ډمګری دباریانو په غورودنده یی کارو کی راتلل (* ۱۱) .

نور ستا نیان زیاتره غرنی پوو نده دی او که کوم یو پکی پوله پټی ولری ، نو کرکیلی ته هـــم اړی نه کړی . ددو ی، کلی پردی،ورو سته څلورو ډولونو ویشـــل کیږی :

۱ـ کوتونه یا مور چلی کلی پروربوی او نڅا ډګر را چور لیدلی‌دی ،

۲ـ دیوال لرو نکی کلی له مورچلی کلا لرو نکو استو ګنځیو سره‌چې په پراسو نیانو کی دود لری،

۳ـ دپنا کیدنی له برجونو سره‌دغرو پر ډډو پراته کلی او

٤ـپرانیستی کلی چې دکوم یرغل‌ویره یی ننګیرلی نه ده .

دلته غرنۍ ور شووی او ځنګل‌کلیوالی تول (مالکیت) و ،کرونده‌او ورته څرمه ځنګل بیا کورنی‌تول. غرنۍ اقتصادیې ټینګ قانونـی اوډلی (تنظیم) شوی . په ډیرو اکرو(حالتو) کی دګټی اخیستنی پر لـه پسیوالی دپچې له مخی تاکل کیده.دځارویو پاملرنه یوا ځی دنارینووکار بلل شوی دی او کرکیله لـه کره ترغو بله تل پـــه ښځو اړه‌درلودلی ده . دکرو ندی په چاروکی اوبه خور ، ییوه او سره‌شیندنه راځی . سیندونه ژوندی ګرځو ی‌چی‌پراته (افقی) پلونه (توربینونه)لری . خو لخوند (میوه) پکی ستر نقش لوبوی ، په تیره دانګوروهغه چې څو ښایی په سپین زرینو کټو ریو کی څښل کیږی او په اسلام مخکی کولتور کی یی ستر ارزښت‌درلود .

نور ستا نیان په لویو لویـــوپلرواکی کورنیو کی ژوند کو ی‌چې‌په هغو کی کشر ترین زوی پاتوړی (وارث) ګڼل کیږی ، ځکه چې ترډیره پوری پر کور پاتی کیږی مګرمشر ترین یی دکورنی دمشر حقوق ترلاسه کوی . کورونه یی بلو ك‌بلوك او په اوارو بامونو سره یواه‌بله ترښت مومی (*۱۲) .غوجلی په استو ګنځیو کی جوړی شوی ،ځکه څاروی غلا پکی یوډول سپورت‌او ژوند اړتیا ګڼل کیږی . یواز ی پر اسو نیان خپل څاروی دکلی‌مخ‌ته ځای پر ځای کوی . استو ګنځیوته څرمه یوه خونه پرته وی چې ښځی پکی دجامو او لنګوان (حیض‌ونفاس) موده تیروی . مړی په نڅاخونه یا آزاده هوا کی پالنه مومی (۳۲) او بیا دځمکی پر مخ پـــه لرګینو تابوتونو کی ایښوول کیږی‌او دډیرو لرګیو په را ټاپیرو نه پری جګ څلور ګوټه مړ ستون جوړ یږی (۱۹) ځینو ټبرونو به خپـل‌مړی دغرونو سرونو ته جګو ل او یا به یی په سمڅو کـــی ښخو ل‌اود نومیالو پر مړستو نونو به یی‌کال وروسته پژی (مجسمی) او یا ډبرینی ستنی هم درولی (۳۵) .

په کلی کی به دری دفتره وو:یو دبلهاری (قربانی) دینی مشر ،بل دپر نا (قیلولی) ورواشه وال ملا او دریم ددود ونو وینا وال .سیاسی‌ځواك به دکلیوالی جرګو له خـواچلیده چې په هغو کی باید پـــه بلهاری سره ولس ته خدمت کیدای.یو کورنۍ مشر دډیر لګښتو جشنونوپه جوړولو سره د«جښت» یایه بله وینا دکلیوالی جرګی دغړی په‌توګه تاکل کیده .تر تاکل کیدنی وروسته‌هم ورته پکار وه ددرو کلو پـــه اوږدو کی لس ځله نورو جښتانواو یو ولس ځله ټول کلی تـــه میلمستیا وکړی او ورپسی بیا هم



ACKU

گرد کلی ته دری نوری خوړی ور کړی بیا نو کیدای شوه ، میـــروبلل شی او په آزاد ډگر کی پر ځوکی کینی . بیا هم ددغه پوړی دتر لاسه کولو سریزه داوه چـی اړوند سړی باید یو بریال ښکاری اوسی او دښمنی پگړی ترنی وړتیـا به یی ددی ښبه وه چی لږ تر لږه یی پنځه سړیه را پرځولی دی . همدا رنگه به پخوانی کافر هلـه میړه او جنگیال پیژ ندل کیده اودواده کولو اجازه به یی تر لاسه کوله چی په جنگونو کی به یی یودښمن له پښو غور ځولیو اودجوتتیا لپاره به یی تری را پریکړی لاسونه، سر یا غوږونه او یا یی لږ تر لږه په وینو لژند کالی وښوو لای شول. ځینو کافرو به دخپلو بلهار یانو شمیر تر سلو هم وراړاوه . یـوسو بمن غازی به په خولی کـی دغرنی چرگ رنگینی ښکی تومبلی او یو گونگرو او کونجکی به یـــی په کالیو کی تك وهلی ،پر دی‌سر بیره به یی دا حق هم تر لاسه کاوه چی یو تبرزین له ځان سره وگر ځوی (۳۰) . دکلی په وربو ی کی به یی یوه درولی ډاگه د «سوبی» ښکارندویه وه او په هغی کی‌مړوی‌درا پرځولی سړی او سوری دیو ی‌وژلی ښځی څرگند ویی کولـــه . همدار نگه دځنو پییوی ،شمکلی‌اوداسی نور دسړی وژو نکی پیژندنښی بلل کیدی . دانسا نانو ښکار دجشنی کلیزی له مخـی او ډ ول(تنظیم) شوی و چی البته له یوه‌تبره یی بل ته توپیر لاره .داړوند انسانَ ښکاروو نکی تر لاسه کړی‌پوړی دهغه نقش ونگار له څرنگوالی هم‌څرگند یده چی پر کور اوکالیویی کښل کیدل او هغه داسی چی درنگ له مخی به «تور کافر» له «سپینو کافرو» تو پیریدل .

نور ستا نیان دتیری پیړی پـه لیکنو کی سره سپین (بلوند) اریا ییان بلل شوی او یاهم په‌رومانټیك انداز دسکندر دیونانیانو پاتی نښـــوو ل شــو ی د ی . دغـه اټکلونه په دی بی سرو بو له دی چی ددغی سیمی نور تبرونه. هـم‌اروپایی نښی نښانی‌اری چی‌ښایسته ډیر پر شا ځی ، ان درو څلـورو زریو پوری دهندو اروپا ییانو ترلیږد دمخه .دا هم پوره جوته ده‌چی له اسلامی کیدنی سره یی ډیر پخوانی او په زړه پوری دودونه له لاسه ور کړی دی . گ . س .رابرسن نومی انگریز ی څرکبـــه (جا سو س) او طبیب تر اســـلامی کیدنی تر مخه په ۹۱– ۱۸۹۰ کلو کی ښایسته ډیر مهال‌په کافرستان کی تیر کړی او ددغی سیمی شننه یی په پوره ډول کړی ده .

داسی ښکاریده چی دغو خلکـو څو ډوله کلیزی درلودی :

کرگری کلیز دسپوږمی گر ځیدنی له مخی ، دور شو یا څو ځایونـــوکلیز له هغه شل ورځنی مهال سره تړلی وه چی له غرنیو بانډو څخه شودی را چلیږی او یوه بله جشنی‌کلیزوه چی په وژنه اود نڅا پـه جشنو پوری یی‌اړه درلوده .که نارینه به مرگ و ژوبلی ته ولاړل ،ښځی‌به یی تر بیر ته را ستنیدو نڅیدلی، ان دمړی په دودو دستور کی یی‌هم نڅا گډه وه خو په دغه برخه کی به نڅا (اتڼ) دنارینه وو پـر غاړه و او ښځی به پر مړستو نونو باندی دمړو دپژیو (مجسمو) ننداری‌ته تللی .

خدایان یی یو غونډ تولگی و .هر کلی او ډنډ به ځانته خپل جلاخدای درلود . په دوی کی یوازی دپراسو نیانو او کتیانو دخدایانـونړی څرگندی دی . ددغو ورو ستیوغوره خدای یمرا ( Imra )نومیده (دخدایانو خدای یا ستر پیداگر چی‌تر اوسه پری لوړه کوی – زیار)چی غویی یی ورته در وړول (قر- بانی کول) او تر ټولو ستر مزدك‌یی په گوشتیگی کی و . داد لرگینوښکلو توږل شویو ستنو دالان وچی ختیځ تـه یی اووه وره درلودل .دیمرا اته پژی (مجسمی) په دروازه‌کی ولاړی وی او یوه بله یی تر ودانی دننه . په کلیو کی دداســی‌ودانیو پر ځای لـږو ډیـر ډبرین‌مړستو نونه لیدل کیدل . یمـراد خدایانو پیداگر گڼل کیده . په د ی‌لړ کی دسنی خدایگو تې (ربالنوع)دهمده په امر له یوی ونی څخـه راوتی ده . کشمی Kushumai دوزی په ښه درا رغږید ونکـــــی‌خطر ناکی کر کندی (غتی ډبر ی)

را منځته کوو نکی وه . د جنګ خدای ګیش ( Gish ) لږ تولږه دکتیانو لپاره له یوه پخوانی جنګیالی
څخه داسلام ضد جګړی ورمند (امر) تر لاسه کړی و . ویل کیږی چی ده علی ، حسن او حسین را پرځولی
دی . په هند کی دملی خدای په توګه منل شوی خدا یګوتی اندرا ( Indra ) ددغو کافرو دشرابو
خدا یګوتی ګڼل کیده (زما دڅیړنی له مخی دغه نوم یو څپیزه «اندر»سم دی اوپه شرابو سربیره کورواو
نورو میوو هم په دغه خدا یګوتی اړه درلوده ـزیار) . هغه سپیڅلی(مقدس) شراب به چی په ګانی له
کور وایستل کیدل ، په ډیرو جشنونو کی څښل کیدل . په ځا نګـــړ ونمنځیزو جشنونو کی دسویلی نورـ
ستان کور مشرانو په زړو پاتمړو(میراثی) سپینز رینو کاسو کـــی له ښایسته ګډویو (صراحی ګانو)څخه
شراب را اخیستل او څښل به یی،دغه متونه یا ګډوی داریا یپانـو دخورا لرغونو منګیو یا در اتانداوه
(۳۳ ، ۳٤) .

دسنی له زوی ســره تړلی کرخدا یګوتی وه (۳٦) چی ویالی یی پنځولی اود غنمو ییبره (حاصل) یی کیدونی
کاوه . بګیشت داوبو خدای و چی دګور مونو (ګلورمو) بامنه یی کوله . نیر ما نلی چی دلنګوال خدا یګوتی
وه ، دښځمنو پر خونه (زیږ نتون)واکمنــــــی چلوله . مونی (یامنو) چی دیمراوزیر (یا پیغمبر) و ، په
غوبینه څیره ښوول کیده .دخدا . یانو (ضد) یا دیوان یا شیطانا نوو چی له خدایانو سره به یـی
جنګونه کول .

دافغا نستان نوی وګړ ډله تورك توکمی خلك دی . په دوی کی تر ټولو دمخه اوزبك ، تورکمن او قرـ
غز راځی . ددوی تر څنګــه دزړو تولنو کوچنی کوچنی ډلی ټپلی هم شته (لکه یو ګور یان ، قـــزاق ،
کره کلا پاك ،افشار، قزلباش،تاتار ـزیار) .

اوزبك له هغو خو ځنده وګروڅخه شمیرل کیږی چی دړنګی شوی مغولی امپرا توری دبی ګچه وګړو
دهـر نګی پایله ګڼل کیږی اوټول شمیر یی دولسو میلونو ته رسی نن سبا څه ناڅه یوملیون داموسویلی
غاړی ته پراته دی او زیاتره دآمو دمنځنی اوښکینی برخی په رود بارسیمه او په زړه سوغد یانا کی تر
سر دریا پوری خپاره دی .اوزبکان دتیمور یانو له پر تن (سقوط) سره دشپاړ سمی پیړی له پیله راهیسی
تر هراته رسیدلی او په ډیروځایوکی یی دتاجیکانو پاتی شونی لـــه ځان سره همر نګ کړی دی . دوی
سنیان او زیاتره کرکر او ښاری دی او په کرلتوری توګه یی له تـــا جیکو سره سخت اړخ لګولی دی .
ځینو ټبرونو چی لږو ډیر یی لازاره مغولی نومونه لکه نیمان ( Naiman ) خوندی ساتلی دی
او تر همد غی تیری پیړی پور ی ویرهوړی جنګییوو نونه (واحدونه)وو ، له هغه راهیسی پر له پسی
مخ پر ړنګیدو دی . داسی بریښی چی دوزلو بی (بزکشی) نارامه لوبه همدوی افغا نستان ته له ځان سره
راوړی ده . او نن سبا یی ددغـه هیواد دملی ورزش بڼه موندلـی ده (*١٤)

د ٤٠٠٠٠٠ شاو خوا تیکه ، ساریك اواذری تورکمن ټبرونه دافغا نستان په شمال ختیځ کی ژونـد
کوی . دوی خورا پرتمینی غالی اوبی ، تر دی چی دا متل ګرځیدلی دی :
«که غواړی شتمن شی ، نوبایدیوه تور کمنه کونده واده کړی !»عمدار نکه یی دسرواو سپینوزرګنډ نه
اود کالیو سکوینه (سوزند وزی)ستر نوم لری .

دقر غزو وړی ډلی ټپلی په واخان کی اوسیږی چی ټول شمیر یی شل زرو ته رسیږی . دوی دپامیر په
لوړو کی دغژ غوبیو دپوونده ووپه توګه دځپل خان تر سخت نظام لاندی ژوند کوی (اوسنی خان یی
رحما نقل دی چی توله سیمه یی دتریاکو له لاری لاسکتوی کړی ده ـزیار) . دتورکی ژبو (اوسنی در ی
ژبو) قزلبا شو شمیر ۳۰ زرو ته رسیږی ، په دوی پوری تړلی افشارچی په کابل کی اوسیږی او یوه

ACKU

برخه یی په اذربایجانی تورکمنی‌تبرونو اړه لري ، دایراني شاهنشاهانو دمزدورو جګړنو په توګه په اتلسمه پیړۍ کې افغانستان ته را استول شوي دي .

له لومړۍ اسلامي پیر سره په شمال لویدیز افغانستان ، جنوبي‌تاجیکستان او تورکمنستان کـې میشته شوي عرب ان دبلخ او کشکاددناوي تر وړو ډلو تپلو پوري لـه نورو توکمونو سره همر نګ شوي دي (په شولګره او دولت اباد کې پرتو عربو خپله ژبه څه نا څـه ساتلې ده چې دافغانستان دژبپو-هنی اتلس یی ګردودونه راخوندي‌کړي دي ـ زیار) .

په (اریایي) هندي ژبیو کې څه‌دپاسه شل زره سیکان او هندوا نراڅې چې دسودا ګرو ،ورهنګــرو (کسبګرو) او بانکیانو په توکـــه تري یو ښار او بازار بچ نه دي .بنګړ یوال (جتان) لولنګره اوګرځنده زیار کښان دي چې اړوندان یی په پنجاب کې ژوند کوي . دوی له آره‌دپخواني هندي تولني شړلي او بی برخي کړ شوي وګړ پوړ دي چې څه‌نا څه په تولـه نړۍ کې خواره‌واره‌دي . له هندي تبرونو څخه بل‌تبر ګوجر دي چې دکشمیر له غرونوټولي تر افغانستا نه دورځمـــزدورانو پوونده وو په توګه ژوند کوي (خپله آره کوجرو یا ګجراتي‌ژبه یی ساتلي او زموږ په هیوادکي زیاتره دکونړ او لغمان په‌غرنیو سیمو کې کوچیتو ب کوي ، ژبه‌یی ما پر ۱۳٤٤ کال دلغمـان دنورستان په ننګراج کې د ژبپو هنی اتلس لپاره ثبت کړي ده ـ زیار) .

دافغانستان وګړي یو رنګا رنګ‌انځور جوړ وي چې بیلا بیل تبرونه ،ملیتونه او ژبې لري . اسلام که څه هم پر ټول هیواد واکمن دی ،خو په ډیرو برخو کې دپخوا نیـودودونو او ګرو هو تر اغیز لاندي پاتـي دي . نه یوازي په نور ستانیانو بلکې په بدخشانیانو کې هم‌لا دتیري پیړۍ تر پایه دزړو اریاني او اریایي ګروهو (عقیدو) اړوندان‌شته وو چې یو څه پاتې شوني یی‌همدا اوس هم په ختیزو دردیانــو کې لیدل کیږي . په دغه هیوادکی‌دزړو توکونو پاتې شوني او بی‌برخي‌وګړ پوړونه هم شته چې په پخوا-نیۍ سو بمنانو پوري اړه لري . په‌دي توګه ددغه هیواد ټولنه په‌پاړ کواو پوړونو شنل شوي ده او داسې بیلګي یکي تر اوسه ډیري لیدل‌شوي چې لوړ پاړ کې او پوړونه تیټوته ورغښتلي ،مګر ډیرو لړوبه یی چیري په چپه ډول له ټیټو څخه‌جګو ته لوړتیا موندلي وي . پـه‌هغو ټولن ډلو کې چې وګړني اړو-ندي یی جوته نه ده او په بي‌برخي‌پوړونو (قشرونو) کې راځي ، یـوه‌هم‌ډمان دي‌چې دنایانو (سدا نیانو)، حمامیانو (سندر غاړو ، پخو لیانو،درملیانو او ...) په توګه خوار ی‌مزدوري کوي . همدا رنګه پښان ، موچیان ،چمیاران اوداسې نورکسبګر دځمکوالو پاړکو له اړوندانو سره‌دخیښي او واده حق نه لري .څوك چې بیا ډیر درانه ګټل کیږي ،هغه‌سیدان دي چې دپیغمبر له زوزاته ګڼل کیږي او څه ناڅه یی ځانته غوند کلي نیولي دي ، زده کړه‌والی‌یی بیا دمدرسو دښوو نکو او مولو یانو په توګه لوي لوی ستا ینو-مونه هم تر لاسه کوي .

دافغانستان دمسلمانانو زیاتـه‌برخه په سل کې تر ۸۰ـ۹۰ پوري‌سني دي . په شیعه وو کې تر هر څه دمخه هزاره ، قزلباش او ځینې‌لویدیز تاجیك راځي . پامیر یـا ناو یوه برخه ختیز تاجیك زیاتـره اسماعلیان دي چې داووم امام دبیرته‌راتګ په هیله کې دي ، په داسې‌حال کې چې دا نور ټول شیعه ګان ددولسم امام بیر ته راتګ تـــه سترګی پر لاري دي .

له سترو اسلامي سپیڅلو ځایونوڅخه دمزار شریف روضه ده چې‌ویل‌کیږي دمحمد (ص) پیغمبر زوم‌علي (ك) مړ ستون پکي دي . همدا رنګه دسترو دیني مشرانو (روحا نیونو)مړستو نونه په مقد ساتو کې راځي چې خلك یی زیار تونو ته ورځي‌، نذراني او در وړونـه ور وړي اوخپلي هیلي ور پوري تړي . جوما ـ

توته دسره سیمه پر سیمه پوره‌ودا نیز توپیر لری ، له خورا پـر تمینو ودانیو څخه یی دهرا ت او بلخ هغ ه کنل کیږی . بیا هم دزړوړیښوول شویو ښارونو په کنډوالوکی همدا سی ورته ودانی پر سترګو لګی .داهم کومه تولمیزه پدیده نه‌ده چی تول جوماتونه دی څلی اومنارونه ولری .

دزیارتونو په باب سویسی مهندس ښتو کرت چی دمخه تری اخیستنی‌وشوی ،د ۱۹٤٥ دسسپتمبر پرمه له مزار شریفه داسی لیکی :

«کله چی سړی په ګاډی کی له تـاشقرغانه دارت ډاګ له لاری دابادوکوتل دوړو غونډ یو تر لړیوو اوړی له ورایه یی دزیارت دوی غبرګی‌لاجور دی ګومبزی په سترګو لګیږی،په تیره دسباوون په رڼا کـی او ځومره چی سړی ورنژدی کیـږی ،دونو باغونو او کلیو کورونو تر شاپنا کیږی ،تر څو چی یی بازار ته له ور څرمه کیدو سره بیا پرسترګوو ګی . دسپیره چنو ډاګونو تر ډیری‌لیدنی وروسته چی سړی یوه رنګه کاشی کارول شوی ودانی ته‌ګوری،نو دیوه هیښنده انځور په څیرپی‌سترګی ور بریښوی . افغانستا ن له آره یو پوونده او کوچانی هیوادی‌ دی نو دښو ودانیو له پلوه یی هیڅ‌خوند نشته . لوړی برجوری کلاګانی دمیشتو اوسید ونکو یوا ځینی‌لیدوړودانی بریښی او هغه هم ددی‌لپاره‌چی دداړو او چور چپاو مخه ونیسی. تر ننه دری کاله دمخه چی مالومړی‌ځل دمزار شریف دروضی ښکلـــی‌ودانی ولیده نو ورته په چورت کی ولاړم او اوس یی هم چی ګورم ،په ننداره یی نه مړیږم .له دغی‌ودانی‌څخه یو څلور ګوټی او څه ناڅـــه تیټ دیوال را څر خیدلی چی څلورواړو خواوو ته څلور وروڼه لری اوشمال سویل پروت دی.دڅلور ګوټی آری ودانی په منځ کی دمړ ســـتون‌ګومبزه ولاړه ده او شاو خواتری همداسی ورته جوړ ښتونه را چور-لیدلی دی . په سویلی برخه کی‌یی اکه مخنی دالان غوندی جوما تـدی چی ځانته جلا ګومبزه لری .ددود له مخی مړ ی په مړستون کی شمال‌سویل ته ایښوول کیږی او مخ یی‌دمکی‌پراور لویدیځ ته‌اړول کیږی. په دی توګه سړی په اسانه جوتو لای شی چی کومه ودانی په مړستون‌او کومه په جومات پوری اړه لری، ځکه جومات دختیځ – شمال په بریدجوړیږی . تر روضی ګرد چاپیر وړی‌وړی خونی اچول شوی چی پرهیز – ګاران پکی‌څلی کاږی اونور ګروهمن‌پکی دزیارت تر سیوری لاندی یوڅه‌ارام کوی او هغه هم په دی ګروهه چی دو دری ورځی ژوند دی ،مرګ پسی ژر راتلو نکی دی او نن دی‌که سبا دا نیمګړی نړی ورڅخه پاتی ده . دانماڅخه آرانګړ په پلنو تیږوفرش شوی . دتوتو ببری او له‌میوی ډکی سورلنی ونی یی پـــه ګوټونو کی ولاړ ی دی چـی لـــه‌سیوری او میوو څخه غبرګه ګټه‌اخیستل کیږی . په شمال لوید یز ګو ټ کی یوه کوچنی بی غړو غوږه‌چایخونه ده چی دور ځنیو اړتیاووپه څړوبونه کی برخه اخلی .همدلته مازیګری یا ماښامی پخوانی کتابونه‌هم لوستل کیږی ، تر څنګه یی هم‌دملا عیسی دسړو پیو (شیـــریخ) څپرکی ولاړ دی .دپخو خښتو پرغولی‌با دی دجومات درنګه انځوریزو کا شیو لوړ شوی دیوالونه یـوه زړه را کښونی ځلالونی . دغه کاشـــی‌خښتی په ساده هندسی بڼه دستوروواو پانوواله انځورونو ســره لید ل کیږی او چیری کومه یوه نیمه یی‌دایرانی غالیوغوندی یومخیزه انځو رل شوی بریښی . په داسی حـال کی چی زړی خښتی یی یو تك شین‌سمندری رنګ لری ، نوی یی بیـاخیدی زرغونی او لاجوردی شنـــی بریښی . ګومبزی البته تولی نګه‌لاجوردی رنګی دی . بیا هم له یوی‌نیمی بدلی انځور بیلګی سره سره تولـه ودانی په یو مخیزه توګه یوګه یووالی ښیی او کوچنی رنګا رنګی پکی هسی یو سرسری نقش لری . دودانی دننه سم ګوتیز دیوا اونه ، ګومبزی چت او لوی اوواړه‌محرابونه لیدل کیږی او په دی‌توګه رښتینی اسلامی‌بڼه پیداکوی .ګچین‌محرابونه په سرو ګلونو انځور ل‌شوی دی .

دلمر پر یوتو پروخت بیا دغـه ښکلی ودانی یو ځانته را کښو نپیدا کو ی او پر هغو برخو یی چی لمر پلوشی لونی ،ته به وایی ،له نګه سرو زرو څخه رغیدلی دی.دژمی تر څړ پوښلی اسمان لاندی‌یی



ACKU

شنی اسمانی گومبزی هم یو په ژړه‌پوری ښکلا لری، پاتی لاپه اوږی کی چی دسپینو «سپیخلو» کوترو
سیالونه نری لکه وریځی کړیږی‌را کړیږی ،له همدی کبله مزار شریف‌دسپینو کوترو ښار په نامه یادیږی.
په وګړو کی دا انګیرنه شته چی‌هره بیدیایی خړه کوتره دزیارت دسپیڅلتیا (تقدس) تر اغیز لاندی
ورو ورو پر سپینی کوتری بدلیږی‌او دلاسو ند لپاره ځینو کوترو ته‌گوته نیول کیږی چی لا تراوسه
یی ښکی خړچنی شوی اوسپنیدوته نژدی دی . دروضی لوی جشن (دګل‌سرخ میلی په نامه) دپسرلی ،یاپه
بله وینا دنوی کال له بریدو سره‌نیول کیږی . سره پوښلی جنده چی‌پر هدغه مهال دڅلویښتو ورځو
لپاره پورته کیږی ،پخپله دمړستون‌غوندی د زیارت کوو نکـــو له‌خوا ښکلیږی اود خپلی روغتیا او
نیکمر غی لپاره یی ننګوی . کټ‌مټ لکه کاتو لیکان چی په خپلــوزیارتونو کی پر کراماتو ګروهــه
لری ، نو دلته هم دا انګیرنه شته‌چی ړانده بینا کیږی که څه هم څوځله دغه پیښنه دحکومت له خـوا
څیړل شوی اود چل ول مخنیوی‌شوی،ځکه رغیدلی یی بی ګچه ډالی ترلاسه کوی . یوه مسلمان تــه دا
اجازه نشته چی دکوم ساکښ څیره‌وکاږی . له همدی کبله جوما تونه‌دلغړو دالا نـو نـو ښـــه لــری،
انځورانی محـراب یـی دپیژ ند نښــی‌په توګه دمکی‌لوری ښیی .تر څنګـه یی پوړی ییز منبر لیدل کیږی چی
ملا پری دجمعی دنمانځه ورم (وعظ)کوی . یوازی دخدای (ج) نومونه‌او بولنی (وجیزی) دجومات پــه
پسولنه کی برخه ناخلی . پخپله‌ملا په وګړو پوری اړه لری . په‌ګڼه ګونه کی یی له نورو ســره
توپیرول هـم تل اسان نه بریښی.تکه سپینه پګړی ،یو ډوله ،کالی‌اواوږده‌ږیره یاساده‌کړه‌وړه اوناسته
ولاړه یی له یوازښیو ښښو ښښانــوڅخه ګڼل کیږی ، له کاتو لیکــوهغو سره یی څه ناڅه یوه همر
نګی غوندی لیدل کیږی ، که هلته کلیسایی ژبه لاتین ده نو دلته بیاعربی ده . دعا او ورم (وعظ) یی
کاتو لیکو هغو غوندی یو ځانګړ ی‌تول و تال لری او څنګه چی دوددی‌هماغسی تیک پر تیک زده کول‌کیږی،
ماته بیا دغه هر څه داسی بریښی‌چی دمصر غوندی په خورا لرغونــوفرهنګو پسی ځی .

اذان ډیر لږ دمنار له سره اوروول‌کیږی ،ځکه دملا لپاره دا ګرانه ده‌تولی پوړی تر پښو لاندی کړی او
پورته وخیژی ، ډیر جوماتونه منا رونه هدو هیڅ نه لری . ددود له‌مخی مؤذن دجومات په یوه ډډه کی
مخ پر مکی دریږی او اذان کوی چی‌دورځی دپنځه وخت نمانځــه لپاره پښه اذا وړه کیږی (البته نن سبا
په زیاترو په تیره لویو جوماتونــوکی غږ جګونی «اودسپیکرونه» ځا ی‌پر ځای شوی او پر اذان سر بیره
دملا تولی ویناوی هرخواته داورولوړ ګرځوی – زیار) .

روضه دمزار ښار زړی جوړ وی‌اود ښار ویش له همدی ځایه سر چینه اخلی .لږ څه وړاندی تری یوه
غونډۍ پرته ده چی دزاړه ښار کو مټ(بالاحصار) خاورین دیوالونه اولوړلوی‌کندونه پری‌لیدل کیږی‌اوتراوسه
پوری تری دبولنتون کار اخیستــل‌کیږی .تر دامنځ بازار پروت دی ،شاوخوا تری داکورونو باغچی ښکاری
چی زیاتره ساده ګومبزی جوړ ښت‌اری .مزار له آره یو پخوانی ښځښاردی .هیڅ کور یی بی ونی اوباغچی
نه دی .ګوسنی ګوسنی چنارونــــه یی داوړی ډیر په زړه پوری دمــه‌ځایونه جوړوی . دښار دغه ٤ ـ ٦
کیلو متره کړیږ دکوتو په شمیر څوسپړی لاری او سرکونه لری مګر په‌تولیز ډول دخاورینو دیوالونوترمنځ
دکوڅو او سربندو پس کوڅو یوانځ‌پښځ‌غوندی انځوردی.سویل‌خواته پوله یی لویه ویاله جوړ وی او په
همدی یی‌له ډاګ سره بیلتون‌راځی،شمال لورته یی کرونـدی دی اوختیځ او لویدیځ ته یی یو ستوی
کور وکلی پراته دی .

بازاره یوه لویه سیمه را اخلی.دوکانونه په یوه رغښت خوا پرخوالری شوی دی .دتاشقرغان له هغه
سره یی توپیر همدو مره دی چی‌دلته دغالیو بازار هم شته ځکه‌بلخ دغالیو دسوداګری یوه منځـی

ACKU

(مرکز) گڼل کیږی .سوداگر یی له پیدا گرو څخه رانیسی او بیا یــو پر نورو پلوری .پر سره څمکــه باندی اته څنډیز هندسی انځورونه ددغو غالیو جوله جوړوی او زیاتره‌دسیمی دتوبږ کمنو ښځو له پیداوـ ښتونو څخه گڼل کیږی.»

ډیری لږی ودانی دروضی لــه جومات سره ورتوالی لری ، خو بیاهم واړه کلیوالی جوماتونه دوگړنی هنر له مرغلرو څخه گڼل کیدای‌شی.په دی لړ کی دبدخشان اود شمالی‌سرحدی سیمی په اوږدو کی جوړ شویو جوماتونو ددیوالو انځور گری‌له پلوه پوره نوم گټلی دی چی دکشم‌دیوه کوچنی کلی‌په یوه‌یوازینی انځور گر اړه لری .دجوما تونو دننه دیوالونه په ډیر رنگو انځورونــوښکلل شوی‌اوله مذهبی‌پدل (تحریم) سره سم پکی هیڅ کومه انسانی یاژونی (حیوانی) څیره نه لیدل‌کیږی،بلکی ډیر زور پرگلونو ،ونو،چاینکو او تږپکو اچول کیږ ی .توره او تبرډغزا دسمبو لونو ښکارندویی کوی.په تولو کی منبر ډیر ښکلی انځورل کیږی‌چی انځورونه یی زیاتره جوما تونه وی او څه ناځه دحج دزیارت‌دیادگار په توگه کعبه اودمدینی، لاهور او مزار شریف جوماتونه هم‌را اخلی . دقرآن سوری ، دخدای‌اوپیغمبر اوهمدارنگه دڅلورو خلیفه گانو نومونه یی دانځور گری تش‌ځایونه ډکوی .

مزدکونه (جوماتونه) په خپــــل رغښت کی دغرنی هیواد وگړو دبی‌شمیرو هنری زیږنــدو تر ټولو څنگه د شمالی هغو دوگړنی هنر یوه برخه جوړوی .

دافغانی وگړنیو هنرو په لړ کــی‌پسولونه هم دیادونی وړ دی چی‌په دی‌وروستیو کلوکی یی‌پوره نوم‌پیداـ کړی دی .په دی برخه کی بیــا دپښتنو کوچیو ښځمنو لیوالتیا پوره‌څرگنده‌ده،هر کوچی زیارباسی،دخپلی ښځی لور لپاره په اباسین ناوه کی‌یوه گانه پټری لکه اوږی ،غاړکی،والی ،گوتی او باهوگان واخلی چی ډیر توند وتیز رنگونه لری اونوردول ودال یی سیمه ییزه ځانگړتیارا اخلی .دتور کمنو ،په تیره دتیکه تور کمنو سپین زرینی گانی بیا په ټول افغانستان کی خوری وری دی.دغه سپینی گانی چی څه نا څه دانی دی او لږو ډیری دسرو (طلا) اوبه‌هم ورکوی ،په عقیقو او یا ســروښیښو جړاوتیا مومی .دکو چیانــو لپاره دښځو سپینی گانی یوه‌خزانه‌او پانگه ده .پښتانه .سپینو گانوته ډیر ارزښت ورکوی په تیره‌هغه زاړه او ژوندی رنگی پسولونه چی‌یووخت دبخارا اوسمرکند په‌زرگریوکی جوړ شوی دی په قزافــی کار شیو کی جوړ شوی بسه‌اونه ــــم‌همداسی در [illegible] اود ختیز افغانستان په ټبرونــو (قبایلو) کی دگانو ځانته جلاډولونه منځته راغلی دی .پخوا نورستانیــودرنی کوتینی (روینی) او وسپنیزی گانی او بنگړی کارول او هــزاره‌میرمنو دسپینو زرو غاړه‌کی ډیری‌خوښولی .

لکه څنگه چی جوماتونه اود تور کمنو غالی او دبلوڅو ټغر رنگین‌اوانځورین‌دی ،همد غسی افغانی‌موزیك هم له رنگینیو اورنگا رنگیو څخــه ډك دی .دمنځنی اسیا دغرنیو وگړودموسیقی ډول ترڅنگه دپښتنو هغه بیا درزمی گډو سندرو (کورس) بڼه‌لری .په نور ستانیانو کی ټنگ ټکوردیوه ځانگړ ی ټولنیز پوړ دانده گڼل کیږی چی په خورا ښه تول او تال‌دنرو او ښځو له نڅا سره ملگر ی‌دی .داوزبکو او تورکمنو موسیقــی دخپلی اړوندی دښتی‌سیمی ښکارندویی کوی .په کابل کی (دهند ی‌کلاسیك موسیقی تر څنگه) لوگری هغه ډیر دود او گرانښت لری .په‌دغه موسیقی کی له ساز اواوازسره‌زیاتره نڅا ملگری‌ده چی‌په چایخونه ، ودونو او نورو کورنیو ښادیو کی‌تر سره کیږی .په شیعه گانو کی‌یو ډیرو لولیز او رزمی ټنگ ټکور دود لری چی دشهیدانو له ساندواو ستاینو سره مل وی .په هــره‌توگه که دنده یی موسیقی وی اویا امیانه ، سم له‌سمونی (فی‌البدیهه)هغه پکی همیشه ستره ونډه لری.دهنرمند ځانگړی نوښت هماغه دی چی دپیښو پر ځای نوښت ولری .په دغه برخه کی دمتن (شعر)نقش‌ډیرغوره دی‌چی څنگه لوړ اوکیښکلی وویل شی .پریو ستوو سندرو تــر نورستا نیانو پوری زیات لنگراچول‌کیږی .



ACKU

دموسیقی الو په لړ کی ډولونه یوه ځانته ډله جوړوی .ځینی یوسره اوځینی دوه سره دی چیزیاتره خاورین وی او پوستکی پری اچول کیږی (دلته لیکوال ډولونه ،طبلی،زیربغلی ،نغاری اودوکړی تول سره په یوه ډله کی راوړی دی ـ زیار).ددغه وهنیو (ضربی) الو په وهنه کی تاکت (تال) ارزښت لری چی له بیلا بیلو نڅا وو سره بیلا بیلاړخ ولګوی .حلبی بادی الی پکی ګردسره نشته ددغو پر ځای بیلا بیلی لرګینی شپیلی، دروی، سورنی اوداسی نوری راز راز دود لـــری.وهنی کاسی او چمبی بیا تاری الی لکه رباب، غژکه ،تنبور ،دنبوره ،دو تار او ستار بشپړ وی .نورستا نیان چمبی وهی او بدخشا نیانی د خولی باجه غږوی .لینده یی الی چی دډیرو نورو ډولو غوندی له خپلاسی جوړونو څخه ګڼل کیږی ،په ځانګړی توګه دختیځ خواته ډیر ګرانښت لری .دموسایی او ساتیری نقش بیاهم زیاتره سندر غاړی لوبوی ځکه لکه څنګه چی ورته نغوته (اشاره) وشوه ،متن ددغه هیواد دټنګ ټکور بنسټیزه برخه جوړوی ،له نڅا اوموسیقی پرته چی سور وتال پکـــی ارزښت لری .

# دریم- څپرکی

## دغرنیو هیوادونو ارغونی مهال

په غرنیو هیوادونو کی دبشر تاریخ تر سل زریزو کلونو دمخه پیلومي . بشریت خورازیات دطبیعي اقلیمي آړونو اړوندو اود کنګل دمهال لس زرو نه کلونه دانساني شتوالی نښې نښانې لنډې تنګې دي. متې دکنګل به نوی مهال کی ۵-۶ مخزېږدی (قبل الميلاد دی) پيړۍ پخوا دکرکیلې او څاروی روزنی بنه لیدل کیږي .

تولنیز ژوند په دریمه مخزېږدی پيړۍ کی دولتی سازمانی بڼې ترلاسه کوی مگر بیا هم دنویو نویو توکمونو لکه دهند واریایی هغو له ځپان سره بیر ته تالا ترغی کیږي.ان داباسین ناوی دلوړو سیمو بلوـ سګرو هیوادونو لکه عیلا میانو همکوم لیکلی ګزارشونه را پریښی نه دی چی دهغو له مخې یې دراکړ ی ورکړی اندیوالان جوت کړای شو .یوازی به سومری بوللو (قصیدو)کی د «اراته» په نامه یو لری هیواد یاد شوی چی سومر یانو ورسره دلاجوردو سوداګری کوله .پاتـې کیږي ،پر مختلو نی ارغو نپو هنه چی لومړی پایلی یې دیوی څوارخیزی پرمختیا بهیرونه رانیسی . کرګر ي کلی پر ښارونو بدلیږی چی بیا وروسته په دویمه مخزېږدی پيړۍ کی له وګړنی ځپان سره دړی وړی کیږي اود هند واریا نیانو «دنړۍ بادارانو» (؟)دینی منځی (مرکزونه) یې ځای نیسی چی دوی بیا پر خپل وخت اریانیانو له ځپلو سره دختیځ پر لوری رالښیدوته اړوځی . په داسی ترځ کی چی دمنځنی آسیا په ځلګو کی شمالی اریانیانو جوړیدنه موندله ،دکسپین سمندرګی پرسویل غاړو لویدیز اریانیان اود ختیځ په غرنی سیمه کی دختیزو اریانیانو ژبنی تولنه (پښتانه او پامیریان)ځای کیدل .

له زرګونو کلونو راهیسی دمنځنی اسیا له غروڼو تیریږی راتیریږ ی او ان تر څلورو زر یودمخه په دغو لوړو کی لومړی ښارونه او هیواد ونه را پیدا شوی دی موږ بیا هم دهندو کش او تیانشان دسیمو په باب لیکلی ګزارشونه متیهخامنشیانو له مهال راهیسی په لاس کی لرو.دا هغه تولوا کمنه کورنۍ وه چی دخپل بنستیوا ل دویم کـورو ش(سیروس) پر وخت یې دمخزېږدی پيړۍ په شاوخوا کی ددغه هیواد

پولی تر اباسین او سر دریاپوری رسولی وی .یونانی پښتلیکو نکویی باختر (نننی شمالی افغانستان او سویلی تاجیکستان ، اریه (دهرات شاوخوا) ،کاپیسا (بگرام) ،کندهارا(دکابل سیند شاو خوا سیمه تر اباسینه پوری) ،ستا گیتنی اومکه (اوسنی مکران) یی له نیولو سیموڅخه گڼلی دی ..سره له دی بیا هم یونیانو هغه مهال له لری غرنی‌نړی‌سره دومره لیوالتیا نه درلوده .دشاهنشاه (خشیار شاه) په دربارکی دیونانی درملگر کتیاس په کښنو (ثبتونو) کی یوازی یو څو نومونه را اخیستل شوی دی .له دی کبله یی سیاسی انځور ډیر تت برینښی‌که نه په کار وه ، ډیر څه موتری‌تر لاسه کړی وای . متی دڅو ورو ستیو کلونو لرغو نپوهنیزو برسیرـونو پر دغه انځور پوره رڼا اچولی‌ده .همدار نگه دخوا شینی خبره ده چی موږ په باختر کی دیونا نـــی‌ښارونو په باب ډیر لږ پوهیږوچی‌دسکندر او دده دورو ستنیو لکـــه سیلیو کیدانو او را ورو ستـــه دیونان ـباختری شاهانو له خـــاوادان شوی دی . کتابتو نونه یـی له خاورو سره خاوری شول او دیونانی ځمکپو هانو او او پیښپوهانودیری لږی لیکنی ددولت دلمـــر لویدنی یادونه کوی . دشمال او یـادهند دموریا شاهانو دډبر لیکونوتغوتی هم خـورا نا څیزی دی چـی تر کند هاره یی دواکمنی پولـــی‌راغځولی وی . کوم یادښتونه چی‌له ۱۲۵ مخزیږدی پیړی شاو خوا راهیسی را پاتی دی ، هغه پـــه چانگشیان پوری اړه لری ، داهغه‌سری و چی دهونانو په وړاندی یی له جیوچی سره دچین دیو لاسکیدنی‌څخه کوله .بشپړی سپړنی بیاچینی‌گرځندو یانو را پرینښی دی چی د بودایی سپیڅلو ځایونو دلیدنی پـــه هڅه یی دهندپرلور یونونه (سفرونه)کړی دی ،لکه پر ۴۰۰ زیږدی کال فاهیسان او پر ۶۵۰ هونځن دهـان له پیر را هیسی دچینی شاهـــی‌کورنیو په کالنیو کی همیشه تـر سمندره پوری دهغو سیمو په باب‌ښبر تیاوی کښل شوی‌دی چی چینیانوپه اوومه او اتمه پیړی کی هغه دخپلی اویجی (قلمرو) یا په بلـه‌اړینا دتولو واکمنی منځنی ولایـت(پو ـسی) گانه .

اسلا می گزار شونه په اتمـــه پیړی کی پیلیږی په دغه لړ کـی‌دنومورکی لیکوال نړی‌ښود «حدود ـ العالم» چی په ۹۸۲ کلونو کی یـی‌کښلی دی .دبلخ ، بامیانو اونگرارادبودایی یادگارونو نومونه اخلی . په دی توگه دبامیانو بی گچه ۵۳متره لوړه بودایی پژی (مجسمه)او۳۵ متری هغه ډیرو گرځندو یانـو لکه بن یا قوت (حموی) دخپلی‌لاری‌په بهیر کی تر سپړنی لاندی نیولی‌دی .

همدا راز اروپایی گرځند ویان‌په ۱۴مه او ۱۵مه پیړی کی منځنی‌اسیا ته راورسیدل په دغه لړ کی کاستیلیایی روی گونسالز دی کلا ویجو ( Ruy Gonzales de clavijo ) دیادونی وړ دی چی دویره وړی (دهشتناك) تیمور پـــه‌دربار کی سفیر و، دهماغه تیمورچی‌غرنی نړی یی هم دچور چپاو او مرگ وژوبلی په کړی کی راتله .ددغی سیمی علمی څیړنه متی پـــه‌اتلسمه پیړی کی پیل مومی چی د اسیا دویشنی جگړه په پوره شوروزوږ روانه وه . هند ستان خو لامخکی دبریتش ایست اندیا کمپنـی ترگوندو لاندی ستمیده اوځاری‌لښکری‌شمال لویدیځ ته را رسیدلی وی .لومړی هڅیدنی دسکو پلټنی پـــه برخه وی . سوداگرو او گرځندویانوپرتمینی طلایی سکی له غرنی هیواده ښدو پارس او لـــه هغو ځـایـو څخه بیا اروپا ته لیږدولـی . پرهغو باندی دیونان ـباختری شاهانوالکه ایو کراتیدس او دولو دوتس نومونه کښل شوی وو . په دی‌توگه‌پر ۱۷۳۸ کال لومړی ځل باختر ی‌سکی دتیو فیلوس بایر
. Theophilus Bayer Historia Regni Graecorum Bactriani

په کتاب کی دتاریخی اخځونو په توگه خپری شو ی .

داروپایی تولوو نکو پاملرنه په‌اړه پوری سکه وهنو ته ډیره وه‌او په دی توگه دمنځنی اسیا څیړنی ډیر ژر له ۱۷۸۴ کال راهیسی‌جوړه‌شوی ( Asiatic Society of Bengal ) په چوکاټ کی ځای

وموند . انگلستان ددی لپاره دهند پر سرحدی هیواد باندی دخپلـــو باداری هڅه کوله چی دخپلی تولو-
اکمنی دخول (تاج) غمی خونـدی و ساتی او داسیا ارته لمن پـــه ښکیلاکی منگولو کی را تینګه کړی.
بریتانیی گرځندو یانو لکه هـ.و. بیلو Bellew او برنس A. Burnes په پیښور اونورو
سرحد ی ښارونو کی خبر تیاو ی‌تر لاسه کولی چی م .الفنستون M. Elphenstone یی مخ بیلګه
و .دبرنس غوندی ډیرو لړو دخپلوورسپارلو دندو په باب په ځرګندڅلیکلی دی .

دی خپل مله انجنیر تورن رابرت لیچ Robertliech ته دجنرال گورنر اوکلیند Auckland
له امر سره سم په‌دی توګه ځرګند ونی وړاندی کوی:«مادغه وروستی سړی ته داترغوږوه
تیره کړه ،دا به ښه وی چی ددغه‌هیواد ټول پوځی تاسیسات په ګوته‌کړی او هره خبرتیا چی دی یی را
ټولو لای شی ،یادښت کړی.» دوه‌کاله ووروسته (۱۳۳۸) انگریز ی ښکری مخ پر کابل رامارش شوی.
برنس (دانگلستان دسیاسی استازی‌په توګه لوړتیا وموندله خودافغانانوله پاڅون سره یی مرګ په برخه
شو .

لرغو نپوهنی او ځمکپو هنی هـم‌دبیلو Bellew مور کرفت Moor Craft او برنس له کر
ځیـد نـــــوښخـــه ګتـــه واخیستلای شوه . دچـارلس میسون نومی ماجرا غوښتو
نکی (ځرغره یی) او ځیړو نکی لـه ګرځیدنو څخه نوری ګټی هم ترلاسه‌شوی چی د ۱۸۳٤ او ۱۸۳۷ کلونو
ترمنځ یی ټول افغانستان له پښو وایست .ده کوم دیرش زره سکی‌له ځان سره هند ته یووړلی اود لومړی
سړی په توګه یی بګرام داسکندروداني ( Alexandria ) دپارویامیزاد سکندریه وبلله .کله یـی
چی کابل وکوت او بیا بامیانو تـه‌ولاړ ،نو دلوړ بوداپر سر یی خپل‌یاداښت ولیکه ،دغه یادښت سـل
کاله وروسته فرانسی لرغونپو هانورا بر سیره کړ او هغه په دی‌شعری‌بڼه دی :

((If any fool this high samootch explore Know Charles Masson has been before.))

(که چیر ی کوم شوقی غوښتل‌دائه لویه آشا وڅیړی ،نو بایدپردی‌پوه شی چی یو وخت چارلس‌میسون
دلته راغلی و .)

نوموړی ځیړو نکی به کابل ناوه‌کی ډیر بودایی مزدکونه را پیـداکړی او په دی لړ کی یی دکنیشکا
نومیالی پژی (مجسمه) وموندله .د هـ . هـ . ویلسن Wilson «لرغونی اریانا : Ariana Antiqua
(۱۸٤۰) په پراخه ګچه دمیسو ن‌په ځیړنو پسی ځی .

نور ګر ځندو یان له سویس ناروی او بیا هم پر له پسی لـه انګلستانه را مات شوی داشمال له
خوا روسان اوان یو مجاری وامبیری( H. Vambery ) هـــم اغلل .چی دهیواد اود بخارا دامارت
په باب سیړنی یی دتاریخی ځیړنو‌ایوه بی ساری نوره اخځ (منبع) په‌توګه را پاتی دی . ان لا دلوی‌پیتر
له مهاله دتور کمنستان او قزاقستان‌په باب ګزار شونه په لاس کـیشته دی .په دغه لړ کی کوم ګزار-
شونه چی علمی ارزښت او درنښت‌لری ،هغه په ف .نظروف (۱۸۲۱)،ل . بیچورین (۱۸۵۱) او داســی
نورو هغو پوری اړه نیسی چی ك .ریتر K.Ritter یی «کابلستان‌او نورستان» نومی کتاب (۱۸٦۷)ته
هڅولی دی .لار سیخی کارونه بیاپه‌و . و . بار تولد V.V.Barthold او اوریل شتاین Aurel Stein
پوری اړه لری چی ددوی یو‌نونه لاتر ننه دمنځنی آسیا دتاریخ لپاره‌نه وچیدو نکی سر چینی بلل کیږی.
له ۱۸٦۸ راهیسی ترروسی واکمنی‌لاندی بخارا کی پر ۱۸۷۵ کال لر غونپو هنیز کار پیل شو او پر۱۸٦۹
کال په سیمه کی لومړی ځل دسمر‌قند موزیم جوړ شو. دشوروی منځنی‌اسیا لرغو نپوهنه بیا تر ننه پوری
دخپلو کورنیو پوهانو دڅیړنی دګرپاتی شو چی اوس یی کارونه تـرسلګونو پوری رسیدلی دی . په

ACKU

شوروی لرغونپو هانو کی ماسو ن M.E.Masson یاکوبو فسکی E.J.Jakubowski
او برنشتم A. N. Bernschtam نورو تولو ښکارندویې کوی .ددوی‌کارونه له زاړه دبر پړاوه نیولی
تر نوی مهاله تول پیرونه (دوری)راخلی چی تاجیکی ، اوزبکی اوتور. کمنی ، سویلی سیمی پکی بیا تر
ستری پاملرنی لاندی نیول شوی‌دی.

افغا نستان پر ۱۹۲۲ کال پــــه آگاهانه ډول دلرغو نپوهنیزو پلټنوموټوپول له انګریزانو او روسانو
څخه فرانسو یانوته ولیږداوه .داسې‌بریښی چی په دغه برخه‌کی دفوشیه A.Foucher (۱۸٦۵– ۱۹۵۲)
دتول ژوند کار له «دګندهار اګریکوبودیك هنر Lart greco-boudhiquedu Gandhara)کتاب (لومړی توك
۱۹۱۵ ،دویم‌توك۱۹۱۸) ستر اغیز ښندلی وی :

یو افغانی –فرانسی تړون د «په افغانستان کی دفرانسی همیشنـــــی‌ارغونپو هنیز هیئت دبنسټ ایښو –
(DAFA) "Delegation Arc heologique Fransaise en Afghanistan"
ونی لیار برابره کړه چی (یادښتو Memoirs » خورا شتمن‌توکونه (مواد) دراودل او په ډیرو
سیمو کی یی دکیند نو پروګرا م اوزرګونه کلونه را اخیستل . ســوزکوتل ، ای خانم ، بګرام ، لښکری
بازار ،بست ،موندیګك او نادعلی‌په هغو ارزښتمنو موند غالیو کـــی:الحی چی فرانسیانو پری کار وکړ.
پر ۱۹۳۸ کال یوی بریتانیی ډلی‌په شمالی افغا نستان کی په کیندنوپیل وکړ ،بیا له نړیوال جنګ سره
دپلټنو لړی پری شوه . له ۱۹٤٦راهیسی هند په کار نده توګه په‌رغو نپوهنیزو پلټنو کی برخه‌اخیستی
ده . فرانسیان بیر ته راغلل او په‌پنځو سمو کلونو کی ایتالیی هیت‌په کار پیل وکړ او تر هر څه زیات
یی په غزنی کی کیندنی وکړی .پر۱۹٤۹ کال دامریکایی لرغو نپوهانویوه ډله لومړی کندهار او سیستان
ته او بیا موراسی غوندی ،بلخ اوقره کمر ته ولاړه . یوی جاپانـــی‌شیړندلی پر ۱۹٦۰ کال په کار لاس
پوری کړ او له ۱۹۷۱ راهیسی په‌شمالی افغانستان کـــی دشوروی –افغانی شیړندلی یوه پیاوړی سازمان
په کار پیل کړی دی چی تر دوه‌سووزیات موند غالی یی په ښنبه کړی اودیر یی شیړلی هم دی .په دغـــه
لړ کی داشلی ، امشی تپه اوطلاتپه یوه انځورنه ده په تیره بیا چـی‌پخپله افغانی لرغو نپوهانو دنورو
پلټنو په لړ کی دهدی ارزښتمنی موندنی رابرسیره کړی دی .

له دغو تولو هلو ځلو سره سره:دغه هیواد ډیر ستر تاریخی پیرونه‌لادتیر مهال په تیارو کی دی او ان
هغه څه چی را برسیره شوی هم‌دی، بیا هم کار غواړی‌ډیری سیمی لاسمی پلټل شوی نه دی او نه ځینو
څرګندو موند غالیوڅخه هم کله کله نوی نوی څیزونه‌را برسیر ه کیږی . له دی کبله‌دا ورو سته لنډه
کتنه دتاریخی‌بهیردبنستونو تشه یوه انځورنه ده په تیره بیا چی په یوه لند تنـګ‌اخځ ډډه لګوی .
لادمنځنی اسیا په زړه کی پراته‌غزنی هیواد لپاره لومړی بشری‌سل‌زریزه یا په بله وینا زوړ دبر‌مهال
ډیر لږ را سپړل شوی دی .په افغا نستان کی ددغه مهال لوښی اوزارهتی پر۱۹۵۱ کال پرسترګو ولګیدل.
له دغه پلوه په ښکاره توګــــــه تاجکستان پوره نوم لری چی ددبریږ په باب یی رانوف Ranow ،
دخپلو ګڼو توکیزو (جزوارو) پلټنوپه ترڅ کی ښه ترا رنا اچولی ده .

سمد لاسه دتر تولو لرغونــــی‌توکونه (مواد) هغه Choppangtooles دی چی دقزل کلا لــه
وخش سیمی څخه لاسته راغلی دی.وروسی یو څه ځوانی موندنی دپامیر رانه ژرندی پلونه را برسیره‌شوی
دناور دبنسټ لوښی آوزاردی ،همداراز دنرین په‌ان – ارچه‌کی دتینشان‌رانه ژرندی پلونه را برسره شوی
دی چی په لوړو غرونو کی دخورپخوانی میشتیا ښکارندویی کوی چی۵۰۰ ۲متره لوړی پرتی دی .تراوسه
تیر ه چی بیا له آره په یوه لنډدمنځنی دبر مهال په نښبو نښانو کی‌تر هر څه دمخه ددوشنبی سویـل

ختیځ ته دتیشك تاش سمڅی دیادونی وړدی .دنیناندر تال بشری پیردیوه کوچنی مړستو ن لاتر اوسه ددغه سیمی لرغونتر ینه ښخونه ده . دهغه مهال سمڅی او نور برسیر ځمیشتځایونه په سمر کند ، تاشکند، تاجیکستان او افغانستان کی شته دی ،لکه دبدخشان دکور دری سمڅی درواخله .دهدوکو موندنی داراجو- توی چی لا ان هماغه مهال دغرووزواو پسو دانسانانو آرخوراك جوړاوه .په دی لړکی دتولو هدوکو له سلو څخه ۹٦ برخی په سایبریایی وزو وری اړه لری .

ځوان ډبر مهال بیا دتولی سیمی لپاره ربړن (پرابدی) دی ،داروپاپه کلاسیکو موند غالیو - فرانسه او اسپانیا کی پر څرگندو ډولو ویشل شوی دی .تش په یو ځو تمغالیو کی لوښی او زار موندل شوی چی ددغه مهال اټکل پری کیږی .په افغانستان کی دقره کمر په لاند ینیو پوړونوکی دپخوانی اور غالی دلرگیو ایره دکاربن (C) دټاکنو له مخی په نیټه شوی ده .دځوان ډبر مهال مخکینی پیر د ډبر لوښی لاسته راغلی نه دی که څه هم دسمر کنداوشوقاو له جکسو سره ورته تمغالی شته دی .له دغه کبله غرنی هیواد زرگونه کلونه له انسانه تش بریښی . یو شمال قطبی ډوله وچ دشتی ساړه هم دښکاری ژویو نشتو- الی را اټکلوی . لکه څنگه چی په لومړی څپرکی کی ورته نغوته شوه. بارانی او زرغاییز (نباتی) اگرونه (حالات) کنگل وروسته Postglazial گنل کیږی او له اتلس څخه رالگیدو نکی سمندری شمال له بی کنگله اروپا څخه پروت (افقی)تیریږ ی خو کله چی دشمالی اروپا له. لاری مخ پرختیځ لگی ،نودوالگا پر سیمه اوکسپین باند ی وربښت امنځته کوی او له لویدیزی اروپا څخه تر اورا له پوری یو تود وچ ملا وستنی جوړ یږی .په دغه ترځ کی پر شمالی ایران ،شمالی افغا نستان تیانشن باندی دبراس اوباران کچه لوړتیا مومی .که نهیل لـه سو یلـی ډدی څخه وی ، نـوسویلی اروپا بارانی کوی اومنځنی اسیا له یوه وچ هوا پیر سره مخا .مخیږی . که داروپا کنگل پوړ پرمدیترا تانی سیمه باندی نهیل سم کړی اود اروپا یخچالونه لند بل یتهینگ وساتی ، نو دمنځنی اسیاناوه او شاوخوا غرونه کورټ وچیږی او دژوند نښه نښانه له لاسه ورکوی،داکیدای شی ،ددی توسن (عامل)وی چی متهی دکنگلیدو له شا تگ سره په غرنی هیواد کی دښکار غلیـوشتوالی بیا جوتتیا مومی ،لکه دبلخ په اق کوپروك ،دتاشقر غان په نژدو او یا هم دپامیر په وشخون کی چی دنورو ډیرو ښکار ځیو غوندی لـه ۹۰۰۰ تر ۱۰۰۰۰ کلو پوری زړښت لری . په هغه مهال پوری کیدا ی شی دختیز پامیر په شا ختی سمڅ کی دپر ښو انځور گری اړه ولری ،په داسی حال کی چی دسر او تساوی Sarautsai انځورونه ښه پوره نوی بریښی گنی سمڅی ،په تیره داماو او مرستیالانو ددواړو غاړو هغه هال نور ډیر تمغالی هم راجوتو ی چی دوزو او پسو دښکار له مخی تر شپږ زرو مخزیږدی کلو پور ی پر شا ځی .

دشمالی افغا نستان په درو سمڅو غارمار ،غار اسپ او دره کور کی دڅاروی ساتنی او غنمکر پخوانی نښی نښانی را په گوته کوی . په غارمار او غار اسپ کی دوزو ساتنی او غلی دانی دکولتوری پایلی په توکه دمخکینی خاورین سازی څرك لگیدای شی چی دکاربن دشمیرونوله مخی تر نهو او اووه مخزیږ دی زریو پوری یی لرغونوالی په نیټه کولای شو . دډبر لوښیو لړی یـی دمنځنی اسیا دلرغونو تمغالیو لـه لرونو ،لوښو پسو لوونکو ډبرو اوبغریو سره اړخ لگوی . په یوه راوروسته پیر پوری اړونده خاورین سازی تراوسه ډیره لنده تنکه چاپ ته سپارل شوی ،په بله وینا په دغه باب یادښتونه سره اړو پیچ (ضد ونقیض) دی .جوړ شوی خاورین لوښی گرد بیخی ،بد جوله اونانډوله پاخه شوی دی .جوړوونکی یی داسی ښکاری چی گرځنده وزپوونده اوسی چی موسمی کرونده یی ور سره هم پرمخ وړله اودا هماغه لومړی لیږد



ACKU

څپې دی چې دغلی دانې له کړ سره اروپا او افریقا ته خپرې شوې دی،خو بیایې هم نیټې نا باوری دی .
داټکل لـــــه مخـې دغـه کولنورچې په یومهال کې دکیندونکې دوبرۍ له خوا «نو ډبرۍ» بشـــوول شو ی
چې په یومهال کې دکیندونکې دوبرۍ له خوا «نو ډبرۍ» ښوول شوی ،دوزو پوونده وو اړوند ژیړ مهـــال
(برونز پیر) ښکار ندوی دی :

دکور دری «وزکو لتوری نوډبرپیر» :دلته دودیز وزښخونې موندل‌سوی دی ،خو بیا هم دغه راز ژوی ښخونې دشـالی افغانستان په ژیړمهال کې لړی نه دی .کار بونی نیټی‌تر ۲۰۰۰ مخزیږ دی کلو شاو خـوا دیوی موندنی ښکارندویی کوی چې‌دموند ځی له ژیړ نیو تیوتو سره هم‌اړخ لگوی .

موږ بیرته پر یوه داډ منه تاریخي‌ځمکه دسویلی توکمنستان دځرمـی‌سیمی (کوپیت داگ) له لوړیـــو کرگرو وکړو سره یو ځای پرځوځیدوراځو چې عشق اباد ته څرمه مونـدغالی له مخې جیتون تپه بدل شوی ده .دا په شپږمه مخزیږ دی زرۍ کی یو نیټه شوی کرگری کولتوردی چې ۳۰ـ۴۰ کوره خام خښتی‌کلی یی در لودل اواوسیدو نکویی غنم‌اواوربشی کرل او وزی ،میږی اوسپی‌یی ساتل داچی دغه کوالتور بیـــا ختیځ خواته ځومره تسبیدلی دی، لاتر اوسه څرگنده نه ده . دپر تلی‌لپاره په بلوچستان کې دکوټې ناوی دگل محمد کلی یاد شوی دی . ددغه‌موند غالی جیتریـن پوړ له خاورین‌بابو څخه تش دی ،په داسی حال کی چی پاسنی پوړونه یی دخاورینولوښیو ډیر اړخیز والی او بیا پـه پای کی دفلز شتوالی را په گوته کوی .له دی کبله دغه پرتلـــه یوازی دتر سره شوی پرمختیایـــی‌پوړی له پلوه سـه راځی ،بشپړ شمیرونه (ارقام) په څلورمه مخزیږدی پیړی کی دیوه زیرمه والـــی(ترسب) ښکارندویی کو ی . پـــه شمالی پاکستان کی دگوملی Gumla تمغالی هم ښایی هـــدا ســـــی نیټه شی . دبلو چستان دبولا ن سیند دغاړو کیندنو دغو بنو کرگروښایسته ښه زاړه استو گنځی راپه‌ډاگه کړی دی په میرگړ Mehrgarh کی له کورنی غویی اواسیښی سره میشتیدنه؟ شپږمی مخزیږ دی زری شاو خوا ته رسیږی . په مړستون کی دمړی تر څنگه ایښوول‌شوی پیروزی دارا جوتوی چـــی دمنځنی اسیا او غرنی هیواد ترمنځ سوداگری اړیکی لاهغه مهال ټینگ‌وو . ناپخ شوی وړی خاورینی پڅی (مجسمی) یی بیا له لویدیز ایران سره اړیکی ښیی .خاورین سازی متی‌په دویم پړاوکی را څرگند یږی ،له غلی دانی سره دهندی نیمی وحشی دبوټی (نبات) په توگه پنبه هـــم‌غاړی وځی .دخاورویو دهدوکو پـه ترڅ کی دغویی هغه ښه پوره پراخه دی .په خاورینو لوښیو کی زیاتره‌ناکډولی سره لوښی (۳۸) ترسترگوکیږی . په ودانیو کی دمر غلرو کار ځی هم لیدل شوی دی (۳۹) .متی په دریم پوړکی خاورین باب‌وینو چی دگل محمد له کلی څخه لاسته راغلی دی او ښایی په ۴۰۰۰مخزیږدی شاوخوا کی جوړ شوی‌وی(۴۰) .په دغه پیکی په پرخه‌گچه لاجورد ،بیروزه او عقیق ښه پریمانه‌کارول شوی ،هـداسی نیم گرانسی‌ډبری رواخله چی په څلورمه مخزیږدی پیړی کی دیوه پرمختللی لری‌سوداگری څرگند ویی دی .

دنوموړی موند غالی په څلور م‌او پنځم پیر کی دپخوا نیو دولتی‌بنو څرگندونه کوی چی تر دریمی مخزیږدی زری پوری پرشا ځی (۴۱).دشپږم او اووم پیر استو گنو کور(انگور) روزل او په ډیر پوړ یزو کورونـــو کــــی ژونـــد کاوه ددوی‌خاورین پیدا وښت باید یوی پراخی‌گچی ته رسیدلی اوسی (۴۲) او همدا راز دلته یوځانگړ ډول زرگونه پڅگی (وړی مجسمی) توټه تړتــــه موندل شوی دی (۴۳، ۴۴) یوازی ډیری لړی پکی روغی لاسته راغلی‌دی ! دښځینه څیرو ترڅنگه دنارینه غویانو ،خوگانو او مرغانو انځورنی هم دهغه مهال له پاتی شو نو څخه شمیرل کیږی (۴۵) .دوه مهرتاپـــی‌یی بیا داویدیز ایران استازی کوی (۴۶) .

دبلو چستان څروته او ناوونه لږ تر لږه له څلورمې مخزیږدی زر ی راهیسی په کرګرو او پوونده وو میشتنی شوی دی. تراوسه پوری دڅلورمې او دریمې مخزیږدی پیړۍ ډیر بیلا بیل کلیوالی کولتورونه پیژندل شوی چی خورا ښکلی انځورلی خاور ین پیدا وار لکه ښځینه پڅ ی (پیکر ونه) داورین پیداوار لکه ښځینه پڅۍ (پیکرونه) یی منځته راوړی دی. پخوانی ترین یی بیا دتګاو هغه دی. دنال خاورین سازو خپلی زیږونی په څو رنګه توګه پړانګانو، غویانو کبانو او هندسی بیلګو انځورلی دی. ددمب سادات مهر دتور کمنستان له مغو او ښځینه پڅکی (مجسمه ګی) یی دمیر ګړ (ژوب) له هغو سره ور توالی لری. له لاسبیلی سره دادیث سحر پوړ یز مزدك دتور کمنستان دالتین تپی له هغه سره اړخ لګوی. په سویل لویدیځ کی دپیا مپور ناوه یی سیمه دمیشتیا شپږ لرغونی پیرونه ښیی چی لومړی دواړه یی په عیلام، دریم او څلورم په منځنی افغا نستان کی دموندی یګك له څلورم پړاو سره سمون خوری او په پنځم کی خاورین سازی اځرګندیږی چی جوړوونکی یی دسویلی بلو چستان په تینګو استو ګنځیو کی اوسیدل او په را وروسته دریمې مخزیږدی زری کی یی له سمندرګی څخه تر عر بستانه واکمنی چلوله. دوی داباسین ناوی دکولتور دولتونو سره هممهال بریښې.

له منځنی اسیا سره یی دڅلورمی مخزیږدی زری په پای کی پیل شول. ددی خبری دلیل په منځنی اسیا او نیل ناوه کی دلاجورد راڅرګندیدنه ده. دبد خشان یا په بله وینا پامیر دغه نیم ګرانبیه ډبره چی له هماغه مهال دشمالی افغانستان په غرونو کی موندل شوی او لویدیځ ته لیږدول شوی وه. همدغه کار ددغه هیواد دپوره څرګند تیا سریزه بلل کیږی او داسی ښکاری چی دلته هماغه راز کر ری کولتور ونه وو لکه شوروی لرغو نپو هانو چی په وروستیو لسیو کی دسو یلی تور کمنستان خواته را بر سیره کړی او یا هم لږ تر لږه دتاجکستان حصار ـ کولتور له پرمختیاوو سره ورتوالی لری. له دغه وروستی کولتور څخه تر اوسه ددریمی او دویمی مخزیږدی زری تر سلو ځیات استو ګنځی څرګند دی چی ان تر فرغانی ناوی، تینشان او کراکا لپاکی جلګو پوری پرمخ تللی دی. اوسیدونکو یی بورنی څاروی ساتل، فلزیی کارول او غله یی کرله. همدا راز دوی ښکاریان هم وو اولایو څه ارغونی لوښی کودی هم کارول چی دزاړه ډبر پیر له هغو سره یی ډیر نژدیوالی درلود.

دګړیو (واحو) کرګر بیا خورا پرمخ تللی وو لکه دتیجن ګړی هغه چی په پنځمه او څلورمه مخزیږدی زری کی یی دری پړله پسی پړاوونه دتوپیرولودی. لږ تر لږه دریم (اکسجور ـ کولتور) هغه یی تربلوچستان پوری جوتتیا لری. دغه پړاو ښایی دداشلو جی ـ پیر په لومړی پړك کی منځ ته راغلی وی، چی د موندیګك دلاندینی خاورین (کرامیك) پوړ دپرتلی له مخی تاکنه مومی. موندیګك ښار دکندهار ښار په ٥٥ کیلو متری کی دهلمند دمرسنیال سیند (ارغنداو) پر غاړه پروت وچی په دی توګه داوبو له پلوه پوره بسیاو.

فرانسی کیندنو دلته اووه پوړونه جوت کړی چی له (١ـ٣) پوری دری لومړی یی له کرګری کلیو څخه آره اخلی او څلور م او پنځم یی د یوه ښایسته لوی ښار ښکارند ویی کوی اووروستی دوه (شپږم اواووم) پوړونه یی په وسپنیز پیراړه لری. همدا راز دکندهار شاوخوا دغه کولتوری پرمختیا په تور کمنستان کی دتپولنر غاونیزی سمسور تیا له پړاوونو سره هم سمون خوری چی ددریمی مخزیږدی زری په سر کی دهمداسی ورته ښار جوړیدنی توسنی (سبب) شوی دی.

له لومړی څخه تر دریمی برخی دکلیو ودانی له سمګوتو خونو څخه داسی رغیدنه مومی چی څو څله

سره ترښت موندلای شی .دخاورینو لوښو ځمکه څر منی او سور رنګ لری او کومه رنګونه چی پری را څرګندیږی ،همیشه توره ده .نقش ونګار شطرنج ډوله او دری ګوتی دی .یو لړ لوښی لیکی لیکی دی او په ترڅ کی یی دژویو دځیرو څرك هم لکی .دغه نقش ونګار په داشلیجی او همدا رنګه دبلو چستان دکوتی په ناوه اود ګل محمد کلی په دریمه برخه کی هم بیا را څرګندیږی .

په دریم پړاو کی چی دڅلورمی مخزیږدی پیړی په پای اود دریمی په پیل کی نیټه کیږی ،ددودیزو ځیزونو تر څنګ ډیر نوی ډولونه پر سترګو لګی ،یوه بیلګه یی ، ددویم دمب سادات دمال په توګه په بلو چستان کی څرګنده شوی ،دویمه یی په کوټه کی دموند غالی لـه مخی نومول شوی ده ،په داسی حال کی چی دریمه یی (امری) نومیږی. ددی آره دسیند له سیمی څخه ده او په هند پوری اړه لری ، مګر دکوتی (کویتی) ځیزونه ښایـــیتورکـنیٔ آره ولری .دایوازی دتیجن سیمی په ګیو کسجور ګـږی کـی نه وو ،بلکی دلویدیز تور کمنستان په دریمه مسکه تپه کی یی هـم شتوالی درلود . په موندیګك کی داله راوړل (وارد) شویو مالو نوڅخه ګڼل کیږی اوپه تور کمنستان کی بیا یو آرمال ګڼل کیږی چـی جوړوونکو یی لادوختته بیا څه ناڅه په لویو ښارونو کی ژوند کاوه .مخکښ نقشونه یی ((زینی)) چلیپاوی او څلور څنډونه (مربع ګانی) دی او پر روښانه ځمکه یی توره او سره رنګمال لیدل کیـږی (۵۳) . همداسی ورته نقشونه له تور کمنستانه دکوتی تر ناوی پر ډبر ینو مهرونو باندی ښکاری . ډو ل وډال (نقش ونګار) چی په راوړو ستـه وختونو کی کارول شوی دی،باید یو ارزښت وماتایی درلودلـی وی چی تر اوسه یی په هنر ی ډولونو کی کاریدنه نه ده موندلی.

په دریمه مخزیږدی زری کـــی دموندیګك پر غونډیو باندی پراته استوګنځی خپله ښه کورته بدلوی او پراختیا مومی . داستو ګنځیو تر څنګه دیوه مزدك تولنځ (معبد ی مجتمع) او یوی مانی څرك لګی . دغه مهال دپخوا نیو کرګری ولسونو ښارونه او همدا راز هیوادونـه پیر پای ته رسیدلی و ،لومړ ی (دولتونه) هم په غرنی هیـــواد (افغانستان) کی را منځته شو ی وو .

مانی چی په څرګندونه یی لانجمنه غونډی ده ،پر غونډی پرته وه او اولاتر ننه پوری دپاسنیو برخو لـه ړنګیدو سره سره تر خپل چاپیر یاله یوولس متره نیغه ختلی ده .دغه مانی که څه هم څو واری بیـا رغول شوی ،مګر بیا هم تل ه څه شوی ده ،دباندی پرتمین وربو ی یی چی په نیمکیو ستنو ښکلا شوی اود زاړه میزو پو تامین ودانی را په زړه کوی ،په پورته توګه له ورایه پر سترګو ولګی .دوه مخنی بور جلونه یی سره چی په یـوه غبرګ دیوال نښلول شوی (*۱۵) داسی ښکاری چی له مانی څخه به راڅور لیدلی وو .مخامخ (ختیزی) خواته پر یوی بلی غونډی یـوه مزدك ورته پخه ودانی لیدل کیږی.

دوه پیړ بهرنی دیوالونه چی پـه ساتندویو دیوالونو سره نښلو ل شوی ،دیوی لویی نقشی له مخی له یوه ډیر خونیز کورڅخه راڅر خیدلی دی . دپخو خښتو دری څنډیزو شاتیرونو دمخی انګړونه پسوللی دی .دواړی ستری ودانی تر ډیرمهال وروسته په زور ړنګول شوی دی .دڅلورم پوړ په موندنو پوری ډبرینی او مسینی پڅګی اړه لر ی چی دنورو بیلګو تر څنګه دڅلور څنډو (مربع ګانو) زیاته هڅه یی خوندی ساتلی او دیوه سر لـــه ترښتی (ډبرینو یا خاورینو) توکوڅخه رغول شوی دی .

دهیلمند په سیندنی ناوه کـی ددغه ښاری کولتور وخت تاکنه لا شخړ منه ده . ښایی ددریمی مخزیږدی پیړی په منځ کی یی پیـــل موندلی وی او لاتر اوسه څـــه ناڅه ځانته بریښی .همدا رنګـه خاوری هم دومره څه نه راڅر ګندوی دکوته خاوری په څلورم پیر کی ورکیږی او یو خاوری سر راښکاره



ACKU

کوی چی پر سره ځمکه یی رنګمالی‌شوی ده له تور سینګار سره یی دانځور بیلګی په‌امرنه کی له‌سیمه ییزه دود سره سمون خوری که څه هم‌نوی نوی ډولونه اوانځور بیلګی یی ډګر ته راو ځی. یو ډول‌کټوری پکی ډیر لیدل کیږی چی دکونیاکو ګیلاس ته ورته دی . جګ بیخ لری او پر دیوال یی دهندسی نقشونو تر څنګه له هندی سبك‌سره سم ژوی او پاڼی موندل کیږی. یو لړ لوښی یی داباسین ناوی د داکولتور له اړوند کوټ دیجی څغه له موندنو سره ورتوالی ښیی چی‌داباسین ترنامی هرپه او موهنجدارو کولتور مخنی بلل کیږی .څلور م پوړ دغه راز نیته ټاکنه دبلو چستان له وار داتو سره هم اړخ لګوی چی همدار نګه تر اباسین‌کولتور څخه پخوانی دی .

دموندو یګك په دریم او څلـورم پیر کی کندهار ته نژدی دوه کلی‌را برسیره شوی دی :
سید کلا اود مورا سی غونډی کلا ، دلته په ځانګړی توګه دبلوچستان دپژیو پیدا کیدنه په زړه پور ی ده . داپیښه را جوتوی چی پــه دریمه مخزیږدی زری کی داویــو ښاری استو ګنځیو تر څنګه کرګری کلی او پووند کلی پند غالی شــته وو چی له دوی څخه تر اوسه ډیر لږ څه څرګند دی . دسیستان په لمنو کی بر سیرنی موندنی داوریل شتاین ، Aurel stein لــه ناړامویو نونو (۱۹۲۸) راهیســی ښایسته ډیر وخت پیژندل شو ی دی .په دغه ناوه کی چی دومره‌ورښت نه لری ،ژوند یو مخنیز له هیلمند او اړوندو ویا لووندونـو سره غوټه دی . دغه سیند په تیر مهال کی خپل بهیر ډیر ځله بدل کړی دی ، داسی چی دیو وخت ګڼ میشتی سییمی نن سبا له نریـــوشګلنو پر دو څخه سرونه راباسی. پرپریښلیو اویو پنا شویو میشتځایو باندی دڅلورمی اوددریمی مخزیږدی‌زری داوړیو وختودبیلا بیلوخاورین ډولونو داسی کودړی موندل شو ی دی چی په موند یګك او شمالــی بلو چستان کی هم لیدل کیږی . غوره ډولونه یی‌هغه ښکلی (مزین) لوښی دی چی له دریم او څلورم موندیګك سره اړخ لګوی او همداـ رنګه دامیر ګړی خاورین چی سیمه ییزډوله غوندی بریښی .ډیرپریمانه پکی دمسودو سپنځړی کاسی پــر سترګو لګیږی اود یوی سیمه ییزی کان ایستنی ښکار ندویی کوی .ارز ښتناکتر ینه ځمکه (ساحه)چی تر اوسه راکیندل شو ی ده ،هغه شهر سوخته دی (۱۹) . ددغه‌ښار یوولس پوړه (قشره) استو ګنځی پر څلورو کولتوونو ویشل کیږی.شهر سوخته په راوروسته څلورمه مخزیږدی زری کی بنسټ ایښو نــی له پیل راهیسی یو سوداګری اولاسګری ښار بریښی چی دسیند په اوبو خړوبی کرنی سیمه‌کی دمنځنی اسیاخواته تلونکی لاره باندی ودان‌شوی و .په زاړه ترین پوړ (قشر)کی یی لاد مخنی ختیځ ډوله یژګی او یوه خاورینه تخته خوندی پاتی‌ده چی میزو پوتامینی لیك وربانده‌دی اوله دی څخه دترانزیتی سوداـ ګری نقش په ډاګه څرګند یږی .شهر سوخته یوه غوره چلند غوټی (تقاطع نقاط معاملاتی) منځی جوړوله دامن دره په مکران یا په بله وینادبامپور په ابادی پای کیدله اوهغه مهال یی اوسید ونکو په هماغــو وګړ آره دراوده چی له سیستانه دختیز عربستان تر ءمانه پور ی خواره واره پراته وو او ښایی د دهمــاغه «مـکان» دولت بنسټ یی ایښی وی چی دسو مریانو او هغو ((ملوخو)) په ګزار شو نو کی یی یادونه شوی او په ختیځ‌کی دمیزو پوتامیانو سوداګری اندیوالان وو . لکه څنګه چی له امریکایی کیندنو څخه څرګند یږی ،له شهر سوخته څخه هلیل نومی دره دلویدیځ خواته غځیدلی وه چی په نیمه لار کی یی له یحیی تپی سره دایلا میانـو(عیلا میانو) تمغالی پروت و . هلته ایلامی مخکی متونه او سیر نیــك لــر و نکــی ژیړ (برو نــز) لیدل‌کیږی چی کانی ډبری یی باید په‌زابلستان پوری اړه ولری .له شهر سوخته څخه یوه لار پر غرونو باندی‌دبدخشان دلاجوردو کانونو ته تلله‌ځکه چی ددغه ښار په دریم پیر کیـ چی دموند یګك له دریم او څلورم‌پړاو سره سمون لری ــ په زرګونولاجورد ټوټی را څرګندی شوی دی.

دغه تیوتی دکاروني دپاتي شونوپه توگه ځای پر ځای را پاتي دي . داراز کار ځي له کار لوښي (اوزار) سره یو ځای را ایستل دي .دلته دلاجوردو تر څنگه منځني اسیایـــيپيروزه ،عمیق ، بکر ،شوکاني او سمندري سیپي تر کار لاندي نیو لشوي دي .دپیروزي تر راڅرگندیدووروسته داور مند (حکم) کیدای‌شي چي شهر سوخته له سویلي تور کمنستان سره اړیکي درلود چي دهغه له مخي مور په نمازگه تپه او التین تپه کي دښارونو څرك لگووچي دشمال لویدیز ایران له لارییله ایلام او میزوپو تامین سره اړیکي ټینگ کړي وو .په حصار تپه اوسیلك تپه کي دهغو لارو نورتمځيهم موندل شوي دي چي مخ پرشمال دایران دننه پرښنگلنو (ښوره یي)داگونو باندي سپري وي .په ختیزکرمان کي له شاهداد سره ایراني لرغو نپوهانو دمړو خاور يني پژيموندلي دي چي په ښکاره توگه دایلامي مړي دود دهغو ني زیږنـده بریښي او داسي ځيري پکي شته چيدایلامي ــ سومري بلاستیکونو یادراتاندوي . دسومري ادبیاتو په یوه بولله (قصیده) کي دسودا گـري کاروانونو کیسه راغلي چي دسویلي‌عراق له اوروك څخه لري ختیـــز هیواد «اراته» ته لیږدیده او ددغه ځای اوسیدو نکو دسو مریانو دغمیوپه وړاندي داوروك دمزدك دودا نیو لپاره لاجورد ورکول .اراته Aratta ته ورته نومونه په افغا نستان کي جوت شوي دي ، خوبیا هم تري دباوري ځای ټاکني څرك نه لگي .دا کیدای شي ، سیستـــان اواړوند ښاريي شهر سوخته او یاهم دموند یگك شاوخوا سیمه اوسي چيمانی يي داوروك له ودانیو ســـرهاندولونه (معاد لتونه) ښیي .همدا راز په ایلامي میزوپو تامیني برخه او بیا د۳۰۰۰ مخزیږ دي کلونو په شاو خوا کي دشهر سوخته پژگـي زموږ دخبري پخلي کوي .

همدارنگه پر ۱۹۶٦ کال دفولول‌یا گوش تپي خزاني په نامه دکرگروله خوا را برسیره شوي خزانه هم له منځني آسیا سره دغرني هیواددا وسید ونکو اړیکي ښیي . داخزانه له پنځو سره زرینو لوښو او اووه سپینز زرینو کاسو او همدا رازلږتر لږه له نورو پنځو فلزي جوړونځخه رغیدلي ده چي ۹۴۰ گرامه سره او ۱۹۲۲ گرامه سپین زر لري .وروسي کیندني دا اتکل په لاس راکوي‌چي دغه موندنه به‌له مړستوني اینښوونو څخه وي . له بده مرغه موندونکو لوښي ترخني‌ترخني کړي‌او سخت زیان يي ور رسولي دي . ددغي سیمي بیلا بیلي استو گني‌غونډي پیژندل شوي دي خو تـراوسه لاتر ځيړني لاندي‌نه دي‌راغلي. دلوښیو تشه یوه برخه ښکللـــي(منقشه) ده مگر ډول ډال يي بیاهمي‌به زړه پوري بریښي .دوه‌سپینز- ـرین کټوري دسویلي تور کمني ــبلوڅي خاوریني رنگمالي‌پوري‌ډوله یاپه بله وینا څلور څندیز نقشونه رانښیي .پر یوه سره زرین کټور ی‌دغژ غویي ځیره کښل شوي چي‌پژي(بدن) يي اړخیز او کوټي (سر) يي یو مخیز ښکاري .دوه سپین زرین‌لوښي دغویانو ځيري راخلي چي دایو يي له دوو ژونیو ځيرو سره جگ او له پانو ډك دي اودا بل يي بیاهمغژ غویان په مخامخ دریځ‌رانښیي..ددغه وروستي ځمکه په یوی اته برخیزي غوږ يخي (گړ گوټي Wirbel ښکلل شوي ده دسره‌دا یوه باندي دیوی وني مخي تـه خوگ او پر دا بل يي دوه ماران اوزرین لوښي له دوو ټوکرو څخه پریو مرغه لیدل کیږي .دغژ غویانـو ځيري کښني ،هغه هم له مخامـخ‌سـرونه ســره داور (Ur) دشاهانو دمړ ستونونو هغه نامــي سره زرین سرونه را په زړه کوي‌چي لاجور دي پاني پري کښل شوي‌دي او غژ غویي بیا دزرگرو س او ققفاز برخي دموندنویا دراتازه کوي.

خوگ له همداسي یوی انځورنــي‌سره اړخ لگوي چي دمایکو پ ( Maikop ) پر سپین زرینـو کټوریولیدل کیږي‌اود فولول( Fullol ) خزاني هم مهال بریښي.دغه کټوري تر هرڅه دمخه دسویلي

تور کمنستان نماز گاه خاوریــو دوولیز چولو له مخی ددریمی مخزیری زری ددویمی نیمایی نیته را داخلی (۲۰) .

خزانه کیدای شی دمنځنی اسیــاپه کوم یوه ښار کی ترکار لاندی نیول‌شوی‌وی که څه‌هم څه ناڅه له مخی اسیا یی بیلگو سره ورتوالـی‌لری .په‌دی توگه دآستراباد دورکی‌خزانی اود حصار تپی موندنی را په زړه کوی چی هلته د ۲۰۰۰مخزیږ. دی کلو شاو خوا دلاجوردو دلاری دسودا گری تمځی ډوبی ډوبیا شوی دی .

دموندو یگك‌او شهرسوخته ښارونولپاره په تور کمنستان کی لا ډیرستر بازارو نه سودا گری بپارا ن او لاښایی بډان (رقیبان) وو . په‌تور کمنستان کی دریمه مخزیږدی‌او ددویمی مخزیږدی زری پیل‌دخوا پرخوا سترو ښارونو اوډیرو کرگری‌کلیو مهالو (٤٧، ٤٨) .په تیجن‌گری کی چپوس دیپه یوه څرگنده زړه منځی (مرکز) و. په لویدیــزتورکمنستان کی نماز گاه (٤ او ٥)یو ٧٠ هکتاره ځمکه راخیسته او د اوسید ونکو شمیر به یی د ۱۰۰۰۰۰او ۱۲۰۰۰۰ ترمنځ اټکل کیـــــده(٤٩ ــ ٥١).التین دیپه (طلاتپه) هم ور سره همزولی ده چی غونچه‌مزدك مانی پکی را کیندل شوی دی.یوزیکورات ( Zikkurat ) یا په بله وینا یو لوړ برجی مزدك ددغه ځای منځنی (مرکز) جوړاوه .

خاوری هندسی کښنبیلگی لری خودوزو او مرغانو څیری ورباندی لیدل‌کیږی .کینډی (قالبونه) یی‌نری‌دی او په دی توگه دپخوانیو فلــزی‌کینډیو یاد را تاندوی .

تور کمنی ښار جوړونه مخ پــرختیځ پراخ اغیز خپروی اود خاوریومخبیلگی یی دسمرکند ترلتی (علاقی) پوری لید وړی دی .په سوخ ناوه‌کی یو کولتوری ځیز موندل شوی‌دی چی داټکل له مخی له ایلامـی کولتور کړی څخه آره اخلی .دسویل‌سودا گرو به ښایی دجستو لتــه کوله چی په قزا قستان کی ایستل کیدل .

مگر بیا هم یوازی منځنی آسیـادغرنی هیواد (افغانستان) اوشاوخوالمنوبه شتمنو پسی لاس‌له راغځاوه. سیستان کی داباسین دکڅونــــــو(سواحلو) له تیټی سیمی او یا له‌ان لادموندو یگك په موند غالیو او بلو چستان څخه راوړی مالونه هم‌لیدل کیږی .موږ له ۱۹۷۵ راهیسی‌اوس په دی پوهیږو چی پخپله د اباسین کولتور لیږدوو نکی دغرونوپرلوری راتمبیدلی دی،که څه هم‌وگړنی آره یی شخړ نه ده . دبدـ خشان دلاجوردو کان ته نژدی داموسیند پر غاړو خورا ډیر کرگر ی‌او سودا گری تمغالی شته وو چی شور توگی ته دځرمه «هندی» هر. په کالا وو ښکارندویی یی کوله .لاجور دی مری ،عقیق او پیروزه‌هم دغرنی هیواد خواته دوړاندی تگ‌نښی نښانی‌بلل کیږی .ځرمه موندنی‌دهر په میشت ځای او (ځلورمی) نماز گه سره نښلو ی ، شورو ی‌لرغو نپوهانو دغسی اړیکی لاپخوااټکل کړی‌دی ځکه‌دتور کمنی ښارونو دیژگیو کینډی (قالبونه) او لیکنی‌نښی اباسین کولتور را په زړه‌کوی.ښایی دشور توگی تر را بر سیرونی وروسته دغه راز ساز ښتونــــــه(موافقتونه) کیدونی شوی وی ،په‌دی چی آمو سیند په همدغه برخه کی لاوختی دبیړی چلونی وړو اوپه‌داسی گوښه ډول دپنځو یا شپږوموندل شویو کلیو منځته راتگ هم گران بریښی .ځنگه چی دهر په دښار یا ښارونو سیاسی جوړښت لاتر اوسه څرگند نه دی ،نو موږ هم لانه پوهیږو چی دلته له اباسین‌ناوی څخه دآمو سیند غاړو ته را. لیږدیدلی ځانته جلاډله میشته شوی، او یا هم دیوه ځواکمن دولت سودا-گرو ابادی (کلونی) ځای پر ځای‌شوی ده .

ددریمی مخزیږدی او ددویمــــــی‌مخزیږدی زری په سر کی وگړ نپوځپانونو له بیلا بیلو ځپو سره غرنی

هیواد او شاو خوا لمنی ولړزولی.ښارونه له خاورو سره خاوری شول‌او نژدی ۱۵۰۰ کاله بیا لـــو ی میشتځایونه را منځ ته نه شول .یوازی دفرغانی په ناوه کی دچوست Chust ، ښاری کولتور راپاتی لری چی پر سره ځمکه کښل شوی‌دی .خاوری یی تور هندسی نقشونه‌دی .همدغه ته ډیر ورته خاور ی دمونډیکگ په څلورم پوړ (قشر)کی‌پروت و. دغه مهـال دمونډیکک دمانۍ پر غونډۍ باندی یوه کلکه ټینګه شوی کارخونه ولاړه وه .چی‌تر یو څو پښتو وروسته ړنګول‌شوی‌ده .له دی پلوه دغه ځای پیړی پیړی بیا میشتن نه شو ،دپنځم پوړخاوری دافغانستان لـپـاره یـوه‌ړدی ښکارنده‌بلل‌کیږی‌او له‌شماله دلیږدیدنی څرګند ویی کوی همـدارنګه شهر سوخته هم ددویه‌ی مخز یږدی زری په سرکی پوپنا شوی، خو بیا هم یوه ځای پر ځای ټینګه‌شوی کارخونه تری دوروستی برخی‌په توګه را پاتی ده . په دغوپیړیو کی هیتیان کوچنۍ آسیا ته لښیدلی‌دی .داباسین کولتور ،بی له دی‌چی‌ور سره تړلی پیښی ښه تر اوپو - هیدلی شی ،دوبی ډوبیا شوی دی .په اوزبکستان او شمالی افغانستان‌کی درا وروسته کلونو کینډنو یوه ډله وبله تړلی کولتور ونه راجوت‌کړی دی چی خاوندان یی باید هغه‌مهال (د ۱۸۰۰ مخزیږدی شاوخوا ،د پاسنی آمو ددواړو غاړو سیمو تـه‌رالیږ دیدلی اوسی .داد (۱۷۰۰ تر۱۵۰۰ مخزیږدی) سپلی Sapalli : تپی د (۱۵۰۰ تر ۱۳۵۰) مخزیږدی)جارکو تانر ( Jarkutaner )اود(۱۳۵۰ تر ۱۰۰۰ مخزیږدی) مولالی Molali تپی کولتور ونه دی(۲۲) .

سپلی تپه دپنځمی او شپږمـــی نمازګی له کولتور ونو سره اوهمدا رنګه په اباسین ناوه او ختیز بلو - چستان کی له څپاره شو ی کولتورسره تړل کیږی .دغه پاس یادشوی‌دری کولتورونه دموند غالیو دیوی غونډۍ لړۍ له مخی جوت شوی‌دی.سپیره او څرمن رنګی نا انځور لمګر جولی له پلوه ډیر ښکلی لوښی یی بیخی یوه ځانګړ یزه لوښه لری.په دی لړ کی ټوټی (کاسی) اوجګ«ترومپیټ» ډوله پښی لرونکی‌کټوری (ګیلا سونه) له کښته ریښـــدو(مایلو) اوتیرو ملاوستنو سره خیټورلوښی او لاسو لونی راځی چی دشمال لوید یدیز ایران له خاوریو اوهمدا رنګه دتور ینګ تپی ،حصار تپی‌او نور ځایونو له هغو سره اړخ لګوی چی په ټولیز ډول ډیر لوړنیته‌شوی اودا ټول‌په سپلی کولتوراړه لری .له دغو څخه دا پته لاسته راځی چی داړوندو و ګړو ټاټوبـی‌به دکسپین سمندر ګی سویلی لته(علاقه ) وه .دکوچنیو موندنو پـه ډله کی ژیړ ینی کوکنۍ (ګلدانونه)او لاستوری او بی لاسه هنداری اوهمدارنګه ډیری پسو لیزی ستنی دیادولو دی کدا وروستی بیا پـه بیلا بیلو پلاستیکی کوټیو (سرونو)او همدا رنګه په وزو ، لاسونو ، غوټیو او داسی نورو څیزونو ښکلل‌شوی دی .څه چی بیخی پریمانه دی،هغه دبرینی اوفلزی پژګی (مجسمه - ګی) دی او په هغو کی هم څلـورڅنډیزی او چلیپا ډولی دوه مخیزی‌پژګی دلیدو وړ بریښی .دیوی‌پژګی پر یوه خوا څلور ماران او پردابله‌خوایی دوزی ،خوګ اود یوه بـــل ناپیژندل کید ونکی ژوی یوه‌زومبک لیدل کیږی .

دغه مړستونی موندنی له یوی‌ځانته ډول مهندسی سره اړیکـــی‌ښیی .کیند ونکی «اسکاروف» ټول ټولځ (کمپلکس) یو کوټ بللی خوبیا هم ودانی داسی ځانګړی بڼه لری‌چی دکار وړ ودانی په توګه یـــی څرګندونه وشی .یوه دو اتیا اوږدڅنډی ودانی له یوی دوشپیته متره‌اوږد څنډی منځو دانی او له دوو سمګو ټو ودانیو څخه رغیدلی ده‌چی‌ددغی سمګوټی ودانی یوه خوا څلو یښت ځلی شپږ متره او بله خوایی دیرش ځله پنځه متره راځی (۱۶*).سړی هری ودانۍ ته دیوی ډیو ډی(دهلیز) او مخ پر منځنی انګړ کښل شوی کوټۍ له لاری ورتلای شی .دا لاری کوټی له مخی کیڼ لوریزه‌دی ،داسی چی ټولی ودانی ته یوه

تا وراتاوه چلیپا یی (صلیبی) بڼه‌ور کوی . دلته دری ودانیز پیرونه‌سره توپیر یری چی په زاړه ترین پیر کی یی دننني رغاونه نقشه‌شوی بریښي .دروازی ته مخامخ‌پروت ودانیز غونډ استو ګنځی او میلمستونونه لری . په دواړو راوروسته پیـــرونو کی لـږ تر لږه‌ښکللی بهرني جولی ته هم پام نه دی شوی .

یوه خپلوانه ودانی یی سر یـانید ( W.Sarianidi ) ددریمی‌ودانی په توګه په داشلی ګړی‌کی راسپړلی ده .له ٤٠ ځله ۳۸ متره‌دننني انګړ ځخه ګرد چاپیره یـوه‌ډیوډی (دهلیز) ډوله ودانی لیدل کیږی .هغه ډیوډی چی دو متـره‌پسور لری او له انګړ را ځر خیدلی‌دی ،ګوټونه جوړوی او په هر یوه ګوټ کی دوه ګرځنی اود هری خواپه منځنی برخه کی یویو (T) ټوله ودانی ۸۸ په ۸٤ مترو کـی ګچل‌کیږی (*۱۷) .یوازی یوه ټینګه‌ور ودانی دانګړ تګلار جوړوی چی‌ساتندویه دیوالونه تر ی چاپیره دی دانګړ په شمالی ډډه کی یوه‌وړه مانۍ لیدل کیږی او په انګړکی‌یوځو ځرمه ودانی ولاړی دی. همدا ـ رنګه دغه ودانیز غونډ (ټولځ) ددوورا وروسته ودانیز وپیر ونو لـه‌منځته راتګ سره ځپل پخوانی جوړ ـ ښت له لاسه ورکړی دی .ځوارلس‌کاربونی نیټی ډیری وروستني دی‌او ښایی چی دریم داشلی به هـم ددویمی مخزیږدی زری په منځ کی‌ودان شوی وی .

په ښکاره توګه په همدغی ګړی‌پوری له ۱۳۰ تر ۱۵۰ متره اوږدځندیز ځلـــور ځنـــډ ښار هـم اړه لـــــر ی . زړی (هستـــه)یی ددروراچور لیدلو دیوال ګړیوګرده ورده ودانی ده . دننه یی یو اورتون لیدل کیږی چی دځوارلس‌کاربونی نیټو له‌مخی دولسمه مخز ـیږدی پیری راښیی .دداشلـی له ژور غالیو ځخه داسی ژیړ لوښـی‌کودی تر لاسه شوی دی چی دسپلی‌ټپی له موندنو سره اړخ لګوی .

همدا رنګه ور سره دمروی ګړی‌هم مهال استو ګنځیو ورته کولتوررابر سیره کړ .دداشلی په موندنو پوری یو لړ پڅګی (وړی مجسمی) او مهر په توګه کار وړ ستومی اړه‌لری چی دګلیپتیك ( Glyptik ) دځلورمی او دریمی مخزیږدی زری‌دودو نه نور هم پسی را اوږدوی .په دوی کی هغه ډبریني اومسیني پڅګی استازی لری چی انځورو نه یی دډك کړو ټو کوله لوړونـــــی(برجسته کی) ځخه رغیدلی دی او پـوری ډولـه دری ځنـــډ یز ی‌او ځلـــور ځنـډ یزی بیلګـــــــــی‌لرونکی مهرونه را اخلی .په خواکی یی بیا داسی مهرونه لیدل کیږی‌چی‌داباسین کولتور هغه را پـه زړه‌کوی .دادوه مخیز مهرونه دی چـی دغویانو ،پړانګانو او سویانو ځیری‌ورباندی کښل شوی دی .دداشلی‌دژور غالیو دیوه مهر پر یوه خوایوه ونه له دوو مرغانو او پر دابله یی‌دوه کوهانه اوښ له یوه سړی سره‌کښل شوی دی ،دغه ردز پڅګی له هغو مهرونو سره ورتوالی لری چی‌پر همدغه مهال به اباسین ناوه‌کی‌دجوکر ( Jhukar ) کولتور به راځرګند شویو ټابوباندی لیدل‌شوی‌دی خو دغه ټاپی ددود (قاعدی) له‌مخی ګردی دی .په داشل کی یولړ موندل شوی مهرونه دمسوله پاتی‌شونو (وسپنځړو) ځخه دماتونی په‌تخنیك سره جوړ شوی دی پر دغو بیاهم چلیپاوی ،پوری ډوله ځلورځنډه او له (T) ډولو برخو ځخه‌رغیدلی ګـــوړ ګوتی لیدل کیږ ی او هغه پیچلی (معمایی) ودانی راپه زړه کوی چی داپکی موندل شوی‌دی .

په زرګونو ور ته هنری کارونه په ۷٥ ـ ۱۹۷٤ کی دافغانستان‌بازارونو ته را شیوه شوی وو .د هیټونو کیندنو ټبرونو (قبایلو) ته په ډاګه کړه ،په هغو مرستو نـی‌توپیو کی خزانی ښځی دی‌چی زرګونه زرګونه کلونه تری لکه ځروی (ببو)ډډه کیده .او بهر نیان چمتو وو ،ډیری پیسی پری ورکړی .کله چی پر ۱۹۷۳ کال پاچا راو پرځید او نالاسوهلی ځمکی یی له منګولو ووتی‌او په دی توګه افغانان آزاد او د خپلی خاور ی خاوندان شول ، نووسله والی ډلی پسی را سر شوی،ټولی کند کوندی یی له ‌پښو وکښلی

او په زرگونو موند غالی یی تار ومار کړل ،داسی چی تروسی وسی تری‌یو هم بچ پاتی نه شو .ژیړ او ځینی ښکلی لوښی یی ولجه کړل اوپاتی‌یی له خاورو سره خاوری کړل .په‌زرگونو پڼگی (مجسمه گی)، وسلی، هندار ی او داسی نور ډیر شیزونه دگرځندویانو لپاره بازار ته وړاندی‌شول (٦٣، ٦٤) او تش یو څه یی موزیمو ته ورسیدل ،زیاتره موندنی‌په ځانگړی‌تولوالی (ملکیت)کی‌تری‌تم‌شول ،متی یوڅو توتی یی شورروی لرغونپو هانو سریا نیدی( Sarianidi ) لږ تر لږه لا دهماغه بازار پر سر عکاسی هومره کړا ی شول (٧١ـ٨٠) .مگر هغه برخه یومخیزه پوپنا شوه چی په تیته وړشیزونو یی اړه درلوده .په دی توگه راته یوازی پرتله پاتی ده چی له‌دغه پلوه دداشلی او سپالی تپی‌هغه‌ډیر ارزښتناك دی ځکه په دغـــو ځایونو کی لږ تر لږه دتاکلو ځیلونو(تیپو) یوه برخه بیا بیا راڅر گنـدیږی لکه دژیړو کوکنی ،پڼگـــی (یامهرونه) ، گانی ،پڼی یا ستنی ،هنداری او وسلی ،دلوری Louvre دلومړی تولونی خپرونه یـــی لاجوته کړی‌ده‌چی دمړستونی لوتمارو،منگلو ته ددویمی مخزیږدی زری په‌مړستو نونو سر بیره نور ډیر هم لویدلی دی پیړی پلا ستیکی پڼگی‌لو له او تاپه یی مهرونه دمرگیانادویمی مخزیږدی زری دسبك دتاپو ترڅنگه لیدل. یو لړ مسینی تاپی‌چی‌دانسانانو او ژویو گډوله پیدا ښت‌انځوری ،لاتر اوسه موږ ته موخـــی (معماوی) دی .څانگو رډنگر دیوان‌دشوکمارو مرغانو له سرونو سره ،پرژویو باندی ناست خدایان ،لړمان، غویان ،بیزوگان اوداسی نورشیزونه لکه تاوراتاو صلیبونه او ورتـــه سمبولونه دلته لیدل کیږی چی له کیندنو څخه لاسته راغلی دی .څیره‌والا انځورونه یی دسوریی لـــه‌دویمی مخزیږدی زری‌داومړی نیمایی له هغه هنری آثارو سره اړخ لگوی‌چی په میتنی وگړو اړه لری . داهغه خلك وو چی ژبه یی هندو اروپایی اریایی بلل کیږ ی اود اوسنیو هند یانو او اریانیانو مخکینی (اسلاف)وو .میتنی په ١٨٠٠ مخزیږدی کی له شمال لویدیزایران څخه دسوریی‌خواته تمبیدلی او هلته یی خپـــل‌دودیز هنر چی ښایی ډیر مهال تـــر ایلامی اغیز لاندی راغلی وی ، له‌سوریایی ، مصری او میزوپو تامینی‌هغه سره اخښلی دی .دوی په‌څرگند ډول په ختیز افغانستان کی له‌هغوتیر نیو ډلو تپلو سره خپل ځایونه بدل کړی چی همدا رنگه هغه مهال له لویدیځه دغه هیواد ته راغلـــی‌وی او یوه برخه یی پسی نوره هم‌مخ پر اباسین غځیدلی چی هغه‌همدا ننني هندی اریایان دی .

دا دټبرونو او ولسونو یو نانډوله (نامنظم) لیږدوا وکوم گډ لاربښوو لشوی پوځی اوپړا سیون نه و ،مگر دننني قزاقســـتان ،ختیزی اروپا اولویدیزی -سایبریا ترجلگو پوری‌یی‌غځونی وکړی .دمروی گړی په‌موندنو کی چی تر ډیری گچی یی دسپالی‌تپی اوداشلی له توکونو سره یورازدی ،دداسی یوه کولتور خاوری‌لیدل کیږی چی ددویمی مخزیږدی زر ی‌په منځ کی له اورا له تر لیناپوری‌خپاره وو او هغه داندرونو Andronowo کولتور یا په بله وینـــادجلگو دژیړو کولتوروهغوی خپل‌بی لاستی لوښی یوازی په توږنده نقشو پسولل او داسی بریښی چی‌دجلگو شمال ته له اتلسمی تـــراوولسمی مخزیږدی پیړی پوری جوړ شوی او ښایی چی مخکینیو (اسلافو) یی دولگا له جلگو څخه آره اخیستی‌وی .دهغوی هدیری او استوگنځی ان په دیارلسمه مخزیږدی پیړ ی‌کی دتاجیکستان خواته مخ پر سویل‌راغځیدلی اود وخش یاپه بله وینا دکوکو یبلسو Kokuibelsu او غرنیو گلانو له لاری پامیر تـــه‌رسیدلی دی .

په شمالی جلگو کی اند روـــوگړو ددویمی مخزیږدی زری دپا ی‌شاوخوا داس روزنی کوچیتوب خواته پر له پسی زور موندل دی .دسویل‌په گرنیو یا په بله وینا غرنیـــوسیمو کی یی پخوانی اوسیدو نگی چی له دوی سره ژبنی خپلوان‌گنل کیدای شول ،یا یی پر شا وتمبول‌یـــا یـــی خـــو لـــه ځان سره واخښل ،ددوی وگړلیږد له هغو ډلو تپلو سره اړیکی وموند چی ددویمی‌مخزیږدی زری په نیمایی‌کی دغرونو



ACKU

تر ختیزو ترو پوری چی پر اباسین‌ناوی ورکړی دی ،کوچیدل دی .په سوات او بلو چستان کی له ۱۵۰۰ مخزیږدی راهیسی داسی خاورینـی‌کینډی (قالبونه) ،پژکی او درستی(وسلی) راپیدا شوی (۶۵- ۷۰)چی دشمالی ایران ـمنځنی اسیایی سیمی‌له هغو سره کټ مټ ارخ لګـوی .ښایی موږ په دغه څپه ،لږ تر لږه په شمال کی ددردانـو مخکینیا ن(سلاف) سهی کړو ځکه پر پرښـوباندی یی دهماغه جنګی ګاډیـــو انځورونه کښل شوی دی چی همزمان‌یی له چینه تر اروپا پوری پـــه غځیدلی جلګه یی سیمه کی ځـرك لګیږی .په هغه مهال کی داباسین‌کولتور دوران شوی ښار (هړپه) دکنډوالو څرمه هدیره دراليږدیدلـو دردانو دمیشتیدنی ښکارندویی کوی،پر ځینو خاورینو لوښودهغه زرین‌مرغه څیره کښل شوی ده‌چی ددردانو (پشه یانو او نورو اړوندو ټبرونو)او نورستا نیانو لپاره تر ننني‌مهاله‌پوری دبریالی «وژو نکی» سمبـول دی .

دغلته ددویمی مخزیږدی زری‌په‌ورو ستیو پیړیو کی رالیږدیدلـی‌خلك چی په شمال لویدیز ایرا ن‌کی لاسته راغلو جوتوړو سپیرو خاوریوله مخی پیژندل شوی ،په کابل‌ناوه‌او شاوخوا اړوندو سیمو کی هـم جوتتیا مومی .دوی کیدای شی ،څه‌څه دسپالی تپی اوداشلی دغرنیـوکولتورونو ااو همدا رنګه دمنځنـی اوسویلی اباسین ناوی کولتور لیږ..دوونکی اوسی چی ښایی هلته بـه‌دهندو اروپا یی ژبو هند یا نـو مخکینیان میشته وو ،دا هماغه‌ویدی په اندرو نوو -ټبرونو کی ښایی‌اریاییان وو چی دغرنی هیواد لــه اریانیانو سره‌یی ټینګ اړیکی درلود.دشمالی اریانیانودنیکونو (مخکنیانو)څرك ولګی چی دهغوی له تر څه نومړ جلګه اوسیدو نکی سکیتیا ن‌او زرماتان راولاړ شوی دی . دوی‌کیدای شی ،دختیزو اریانیانو سوـ غدیانو ،ساکانو او خوار زمیانو ..په‌راپیدا ینبت کی ونډه درلودلی وی.له‌دغو درو ټبرو څخه بیا دمخکنیانو اوسید ونکو د راپیدا کیدو اټکـل‌کیږی چی پاتی شونی یی ددردانـو،نورستا نیانو او نورو په نامـه د ختیځ په غرونو کی پسی پاییدلی‌دی ،ددویمی مخزیږدی زری پـــه‌پای کی ددغو وګړو یوه ډله چی اندرونو ونه ، بلکی هندو اریایی‌ډله ده ،دشوروی لرغو نپوهانو له‌خوا دبیشکند په لوړه ناوه کی‌سهی کړای شوه .دلته په غرنیو سیموکی‌سورخان سیند او کافریانو سیندترمنځه ډیری هدیری لیدل کیږی چی ښایی په نهمه مخزیږدی پیړی کی‌رامنځته شوی وی .مړستو نونـــه‌ددوریو (دخمو) بڼه لری‌چی مړستونی کوټی یی په اړخیز ډول دمړستونی‌ګورنډو تر ځنګه پرتی دی .دتولخاراو بابا شو دمړستو نونو په موندنو کی یوځائته ډول نغری او اورمحرا . بونه دډیر پام وړدی .دغه څیزونه‌په ښځینه مړستو نونو کی ګردورد او په نرینه هغو کی څلور څنډی‌دی .په ځینو مړستو نونو کـــــی‌څلور څنډی اور محرابونه په دوو وړو دیوالو سره پر څلور څنــډو(مربع ګانو) ویشل شوی‌دی (*۱۸).په یوه بل مړستون کی یو همداسی، اور محراب چلیپایی (صلیبی) ډو ل‌لری .په دی توګه دلته دداشلی‌اوسپالی تپی دمهرونو ،خاوری نقشونو او ودانیو بنستیزی بڼی بیا راڅر ،ګندیږی چی شننی (تفسیرونه) یی‌داوستا او ویدونو دروا یتونو په مرسته کیدون لری .تر نوی مها ل‌پوری په هندی ټبرونو کی دمځکنیو‌نمنځ محراب څلور څنډی دی او یو نارینه یی پاملرنه کوی مګر دکوزمیرمنی دپخلی نغری لګه کړی ګردورد دی .دغه دواړه بنستیز ډولونه دنوږیو (جنسونو) لپاره سمبو لونه‌شوی دی او په یو مهال کی له اوراو همدا رنګه له چور لندی نړی سره تړلی دی ،هغه نړی چی څلورڅنډه (مربع) او کړی یکی سره یو بهیرجوړوی .

دکړی (دایری) څلور څنـډیزول(مربع‌کول) دنارینه ترآر (پرنسیپ)لاندی دښځی لاسکتوی (مادو نیت) یو شمیر پوهنیز (ریاضی) مجردیت‌دی چی پخوانی اندو اریائیان سره‌په سمبول لیکه ژبه یو له بلـه پخلا کوی او هغه دنړی سمبول‌ګڼی.داخبره هغه مهال ښه ترا څرګندیږی‌چی که موږ دهند په نامه په ټاکلو بودایی کیسو کی ددریم داشلـــی‌ودانی بیلګه او همدا رنګه دمندلاپه توګه جاینیزم Jainism

بیا مومو .په دوی کی کړی (دایره)ددیوانو دنانهولی نړی ،یا په بله وینا دګهوډی پر ضد او څلور څنډه (مربع) دڅلورو اسمانی لوریو پـه توګه څلور وریزی میشتنی (مسکونی)نړی سمبول دی .دڅلور څنډ پـه منځ یا په بله وینا دهغی نړی په منځ ومیانه کی دمهال څښتن‌اوسیږی‌چی په یو مهال کی چور لنده ګنل شوی ده .ستر هندویی شاهان لکه‌دخمرو هغه له یوی څلور څنـډی‌مانی څخه واکمنی چلوله چی منځ یی دنړی چور لیځ (محور) بلل‌کیده،په داسی ترڅ کی چی دبودا سمبول(ستوپی) دنړی په‌منځ کی دمړستون څرګندویی کوله .که موږ دغـه‌څیزونه دهمدا نن سبا څه ناڅـه ژوندیو جاجو نو (تصورونو) لپاره په کار واچوو اود داشلی او سپالی‌تپی ودانی او مهری انځورونه لـه‌مخی وشنو ،نود داسی نړی دمنځیو (مرکزو) په توګه به یی ویپژنـوچی په هغو کی (دخپلو جوړوونکودجاج‌له مخی) دنړیو واکمنان پرتخت کښیښنی .دنړیو واکمنانو پر هغوتپولو«څلورو نړی ییزو سیمو» باندی‌واکچلاوه چی سومریانو ته یی دغونډ ی نړی ارزښت درلود .سپالی تپه اومهرونه ،همدا رنګه دګیو کسجور اوکوتی زړی خاوری انځور بیلګـی ددغی چور لنده نړی ښکارندویـی‌کوی ،داسی چی ښایی جوړوو نکی‌یی په اریایی وګړو اړه ولری یـا ، لږ تر لږه یی دنړی لید دبنستیزوتوکونو ښکارندوی وو .همدا رازپه‌جلګو کی دژیړو دهنر په برخه کی دغرنی هیواد دکولتورونو بنیاد ی‌هڅونی په ډاګه لیدل کیږی . دلو ټمارو کیڅکنو (قبر کنو) لوټمـارو او همدا رنګه دکیندنو «باختـری»مسینو لاس رغاوو خوځنده اوړکنده‌کینډی (قالبونه) راښیی چی ځینـی یی ژونی انځورنی لری او بیخـی‌دلورستان له نومړو لویدیز ایرانی‌مسینی هنر څخه سرچینه راخیستای شی .دوی کیدای شی ،په بنستیـزډول‌دمنځنی اسیا دوګړو دژونی‌سبک‌په راپیدا ینښت کی ونډه اخیستی وی .

ددویمی مخزیږدی زړی په پا ی‌کی داسی وګړ ویش رامنځته شوچی دلرغونی زمانی تاریخ یی وټاکه . دغرونو شمال ته دسکیتانو اوساکا نو کوچانی ټبرونه پرووده راغلل .دغرنی هیواد لویدیځ ته لویدیـز اریانی میدیان او پارسیان او پـه‌غرنی هیواد کی له فرغانی ناو ی‌څخه تر بلو چستانه او همدا راز په مخ ته پر تو لمنو کی دختیزاریانی ژبیو وګړو ټبرونه اوسیدل‌چی له هغو څخه بیا هندو اریایـی او زاړه هندی توکمونه دختیز غرنی‌هیواد یا په بله وینا شمالی هندته بیر ته راو ګڅیدل او همدلته میشتیدل .

# څلورم څپرکی

## دزر تشت په هیواد کی

دزیږون مهال اود اسلام تر راتګ پوری تاریخی پیړۍ دمنځنی اسیادغه غرنی هیواد ته داریانی او بیا له شمالی جلګو څخه دتورکی ډلوټپلو له پر له پسی بیا بیا راتلو نکی څپانه رنګ اخلی .په همدغه یوه مهال کی له اویدیځه او ختیځه پارسی او هندی لښکری پر غرنی‌هیواد رایر غاللی دی او هغه هم ددی لپاره چی دغرونو خزانی‌وپلټی‌او له ختیځه لویدیځ او له سویله‌شمال ته سوداګری لاری په خپل واک کی راوړی .همیشه به دباختر‌په لوړو ،سوغدیانا او سیستا ن‌کی‌سیمه ییز دولتونه‌سره راټینګیدل. او تر څواسیو او یا هم تر څوسلیوورو‌سته به دنوړیو یو وګړنیو یرغلونو له لاسه بیر ته تار ومار کیدل .دمغا منشیانو تر نیواك(اشغال) دمخه چی سکندر لنډ مهالی‌ټولو اکمنی وړپسی راغلله ،لرغونی بخدیانا اود سوغدیانو دولتو نه دومره څرګند نه دی . بخدی اوسوغدی دولتونه چی دلویدیځ له خوا دمنځنی اسیا دواکمنو سلوکیدیانو Seleukiden تر فشار لاندی وو ،راپر ځیدل او بیا له سره راپاڅیدل .

په دویمه مخزیږدی پیړۍ کی‌دساکانو توپان ښارونه او دولتونه‌تار ومار کړل او بیر ته کوچنی خانخانی اود جنګیالانو ټولنی رامنځته شوی .تر څو په زیږدی (میلادی )شاو خوا کی پارتیانو مخ پرختیځ راواړول او له ځواك لویدنی یی‌دکوشا نیانو دستری ټولو اکمنی‌لپاره لاره او اره کړه . منځنی آسیا دنوی بودایی کولتور په سه‌سوره‌لمن کی پریوته چی ترننه یی‌دډیروځایو نو په کنډوالو کی نښی نښانی خوندی پاتی دی .

په څلورمه او پنځمه پیړۍ کی‌هونا نو غرنی نړۍ او شاو خوالمنی‌ولړزولی او له جنګ جګړو او اړو دوړو څخه یفتلیان سو بمن (فاتح)راووتل .دوی کوشانی اریانی کولتور بی لاسو هنی پریښود او سویلی اریا نیان یی سره له کولتوری‌پلوه‌په‌داسی پرتلیز یووالی‌کی راونغاړل‌چی له هغه راهیسی یی پښتنی



ACKU

پرګنی ښکارندویی ګوی .په باختری‌سیمه کی دزړو میشتو سویلی اریا نیانو اور اتریدلو شمال ختیزو اریانیانو او بیا له دویم کورو ش(سیروس) راهیس راتمبیدلولویدیزونیانوچی‌تر هرڅه دمخه یی دلویدیځ او شمال ښارونه میشتن کړل ، یوویلون را منځته کړ .له دی سره‌دهغی وګړدلی بنسټ راونښلا وه‌چی نن‌سبا دتاجیکوپه نامه نومول‌کیږی.

په اوومه پیړی کی دهرات شاوخوا ته دعربو تیل راورسید او یوه‌پیړی یی له بودایی ګروهو اونورو هندی ګروهو سره واخیستل اوکیښودل .داوستا په (٤، ١٢، ١٦)میتر ایشت کی وایی :

موږ میتر اته لمونځ کوو چی‌اَرتی ورشو وی یی په واک کی‌دی ...

چی په زر پسو للو ستونځونو(قللو) باندی

درون ناست دی او له هغه‌ځایه یی په ټوله ځواکمنی ،

ګرده اریایی سیمه تر سترګلین‌لاندی نیولی ده ...

هلته چی ژور ډنډونه له پریمانواوبو سره غځیدلی ،

هلته چی پراخه او بیړی چلندحپاند سیندونه په شور وزوږاواو غور ځو پرځو درومی ،

ان ترا شکته او پوروته ، ترمرو،و هروا ،

دسوغد یانوتر ورشواو خوارزمه ...».

دپخوانیو اریانی وګړو دسپیڅلومتنونودغه «ټولونه» ترزیږد «میلاد»مخکی پیړی پیړی پر شاځی . په میترا یشت کی راغلی جغرا فیایی نومونه ،مرو (Mouru) Merw او هرات Harova سوغدیانا او خوارزم ،دسیندونو دمو خو په توګه یاد شوی چی دمیترا له غرونوڅخه مخکښته ور دورمی ،دهرات پر لوری هریرود ،دمروی خواته مرغاب‌اود خوارزم لوری ته آمو سیند(یا لرغونی اکسو س) بهیږی او د میترا غرونه دهندو کش غرونه‌دی.دغرنی هیواد ختیز اریانی وګړ ی‌داوستا په اوولسو زړو متنو «کاتها» کی هم په څرګنده یاد شوی دی ، دغه متنونه مذهبی سرودونه دی‌چی‌په زړه ختیزی اریانی ژبه داریانیانو داساطیر و او افسانو په رنګ‌رنګیدلی بیغمبر زرتشت په نامه کښل شوی دی . «اپاستك Apastak چی زړو اریانیانو دځپلو سپیڅلومتنونو غونډ باله او په (منځنی)پارسی کی داوستا په توګه ښوول شوی ،په لیکنی بڼه وړاندی کیږی.څنګه چی په زاړه اسیا یی ګروهه کی سپیڅلی متنونه بولل کیدل یاپه بله وینا زمزمه کیدل او نه اورول‌کیدل ،نو داکیدونی وه‌چی تراسلامی‌مهاله دمخه لیکلی او ستا هډو هیڅ نه نه وه .دغه سپیڅلی سندر ی‌دهندی ویدونو غوندی یوازی خوله پر خوله یو بل ته لیږدیدلی .متی هماغه مهال (٦٥٠ زیږدی) چی سو بمنو مسلمانانو له لاسکتویو څخه دقران او انجیل په اندول «سپیڅلی کتابونه» دګرو همنی دلاسوند(دستاویز) په توګه وغوښتل ،ښایی‌دغه سندری تر لیکنی لاندی‌راغلی وی .

په لاسته راغلو سندرو کی دزاړه‌اریایی دود هغه ټولی برخی نشته‌چی ددولتی پوښتنو ګرویږنو په او ډون پوری یی اړه در لوده .هغه ټولی هیری شوی او اسلامی حقوقویی ځای ونیو ،تاریخی روایتونه متی‌ځلور پیړی راوروسته دفردوسی‌طوسی په شاهنامه کی وکښل شول،په شاهنامه کی تر ساسانی ټولواکمنانو دمخه ددغی کورنی دپیړیوپیړیو کیسی او افسانی راخیستل‌شوی چی دهغو په ترځ کی ډیر اریانی څیزونه هم نغښتی دی اوموږیی دشاعر له اساطیرو او انګیرنوڅخه جلا کول نه غواړو .دفردوسی له خوا کښلی کیسی په پوره باورزړی دی دداوومی زیږد ی پیړ ی‌دپنځده دیوالی انځورونو ددغه راز زړو بدلو ښکارند ویی کوله مګرپه اوستایی اړه نه درلوده .



ACKU

داوستا «ټولونه» نن سبا په دې وروسته بڼه راپاتې ده :

۱- «یسنا Jasna » نمنـــــځ سندرې چې په هغو کې نوموړې ۱۷«ګاتهاوې Gathas » راخیستل شوې دي .

۲- «یشتو Jashts » نمنځ سندرې یو وخت ترې دېرش راپاتې وې او ۱

۳- «ویدویو دات Videodat ددیوانو په باب کتاب (یاددیوانـو پرضد قانون) په بله وینا «اروا وې» یا هغه دیني کتاب چې دپخوانیــولاسته راغلو یوویشتو نسکونو Nasks «کتابو نو» له ډلې څخه یې دیوه انځورنه کوله .

دغه اثار په زیات اټکل تراسلامي مخکې مهال پورې پر شاځي . پـــه دوې کې یو لړ دیني لیکنې رانغښتې دي چې یوازې دمنځنۍ پارسي پـــه اړونه کې لیدل کیږي ،دامانا چې تراوومې مخزیږدی را وروسته منځته راغلې دي .دا په څرګنده ځینـــې لرغوني توکونه (مواد) را اخلي لکه په بند هش Bundahes د (پیدا ینبت تاریخ) او په «دینکارت Denkart (دیني کړن) کې .

دهند او ایران په پارسیانو کې لاژوندې زوړ اریاني دین دزرتشت Zarathuschtra یاد یونانیانو زور واستر Zoroaster » له نامه سره غوټه دی چې تر ازموینو رحقیقته یـــې تاریخوالي زیات دی .دزرتشت په باب په اروپا کې هم ډېر څه لیکل شوي دي ،ان له اپلاتون را هیسې دیوه بیا زیږیدلي زور واستر پـــه توګه ګڼل شوی دی .داوولسمې او اتلسمې پیړۍ سولمنو (عقیلونو)ته دجادو ګرانو ښوو نکی دهوښیار تیا سرچینه وه ،دا یو داسې لید (نظر)و چې دموځارت MoZart په «جادویي شپیلۍ Zauberflote کې دزر سترو Sarastro په توګه جاوداني شو .کله چـــې انکتیـــــــــل د و پـــــــر و ن داوستالو مړې متنونه له هنـــدو ـستانه له ځان سره راوړل اوژباړې یې خپرې کړې ،زړغه (تردد) رامنځته شو او هند دایران ځای ونیو .

بیا هم له زر تشت سره لیوالتیاپاتې شوه او بیا بیا هڅې وشوې چې دژوند ارقام یې وټاکل شي .تاریخپو- هان او ژبپوهان بیا بیا له بیلابیلولارو څخه شپږمې مخزیږدی پیړۍ ته ورسیدل ،مګر دوې دیته اړوو، پر له پسې څرګنده کړې چې تول وړاندې شوې اریاني لیږدنې (روایتونه) له همدې یوې تاریخي افساني سـره اړیکه (تماس) پیدا کوي چې پـــه شاهنامه او پیړۍ پیړۍ تر ساسا. نیانو (۲۶/ ۲۲٤- ۶۵۱) دمخـــــه کیسو کې وړاندې کیږي ، ددغـــې تاریخي افساني تاریخي انځور البته خورا لنډ دی .افساني دنورو څیزونو په ترڅ کې دپارسیانو له خواپږدې ګڼلې دوه سوه کلنه (۲۲۷ مخزیږدی-۲۶/۲۲٤ زیږدی) واکمنه پارتـــې کورنۍ هیره کړې او یوازې څوهخامنشي هغې (۵۵۰ ـ۳۳۰ مخزیږدی)پیژني .په دې ډول دپیغمبر دژوند مهال په باره کې تش اټکلونه پاتې کیږي، هغه څوک چې لیکوال یې دیوې کیدونې (ممکنه ) تاریخي هستي په توګه لیدل غواړي ،چې دډېرو دین ښوونو اواندیانو (مفکرینو) له خوایې نوموړې اثر په نامه ګڼل شوی دی. هغه کیدای شي داریاییانو دستــــر لیږدپه پیر یواوان ددویمې مخزیږدی پیړۍ په پای کې ژوند کړی وي . داغیز سیمه یې دآمو دواړې غاړې بلل کیږي ،ځکه یو خوا داوستا اسا طیرې ځمکپو هنه همدغې سیمې تـه نغوته کوي او بل خوا ګاتهاوې یالرغو نترینې سندرې هم په زړه ختیزه اریاني ژبه راليږد یدلي دي. دګاتهاوو په لړ کې چې یوازې دیوه زرتشتي دین ښوون (زرتشت) داثرپه توګه له پوښتنې سره مخامـــخ دي ،ځیني دیني بنسټونه دخپـــل چاپیریال څرګندونه کوي ،داسې چې په ټولو برخو کې له پارسیانو سره یو مخیز اړخ نه لګوي .

که موږ دزرتشت شتوالی لومړی وګڼو، نوپټلیزیې ورسره باید اغیزمنۍ هم را چوکاټ (محدود) کړو ،دی د زاړه اریانی دین بنستوال نه بلکې یو له سمونوالو (مصلحینو) څخه و.دزړو اریایی پامیریانو اودردیانو له پیژ ندل شویو مذهبونو سره دویدونو او اوستا ډیر نژدی ورتوالی داپایله په لاس راکوی چی په اریاییانو کی لاتر زرتشت دمخه ښواړخیز ډیر خدایی دین خپور و .هری تبرنی ډلی او هر ولس دپیریو په اوږدو کی دغو ګروهو ته بدلون ورکړ ،دساری په ډول هندیانو ته «اسوریان Asuras » ویره وړی شیطانان وو او اریانیانو ته بیا اهورایان Ahuras اسمانی خدایان .داریانیانو په وړاندی دیوان دشرار واوی وی او همدغه بیا ددیوایانو Dewas په توګه دهند لوړ خدایان بلل کیدل .

په ایرانی جال ودود کی دڅیزونو او پنځپدیدو (طبیعی پدیدو) نمانځنه تر هر څه دمخه وه ،داورته دومره ځواکمن بریښیدل چی په انسانی څیره کی یی دپژی (مجسمی) یاکینلی انځور په توګه ښوول .ان هیرودت لاهغه له یو انسانی خدایی ګروهوسره تر پرتلی لاندی نیول وو :

«که دپار سیانو ددودونو او ګروهوپه باره کی څه ویل په کار وی ،نو زه دومره پوهیږم :په دوی کی انځورنی ،ستنی او مزدکونه اوبلهار ځایونه (قربا نګاوی) Altar جوړول دودنه دی .زما په اند دوی دغه کار ددی لپاره نه کوی چی دوی دیونانیانو پر خلاف خدایانو ته دانسانانو په سترګه نه ګوری .دوی دزیو س (خدای) لپاره خپل دروړی (قربانیان) پر لوړ ترینو غرستو ځو باند ی کوتی (حلالوی) .زیوس دوی ته د ټول اسمانی کړی مانا لری مګردوی لمر ، سپوږمی ، اور ، اوبو اوبادونو ...» ته هم بلهاری (قربانی) کوی .

دخدا یانو نومونه دټولو ایرانی وګړو له خوا په یوه بڼه رالیږدیدلی نه دی او همدا رنګه یی ور سره اړوندی ګروهی هم توپیر مومی .په پارسیانو کی دلمر او اسمان خدای اهوارا مزدا Ahura-Mazda لومړی ځای درلود ،یا په بله وینادتورتم او اوبو له خدای او ځمکلا ندی انګرامنیوش Angra-Manyusch (منځنی او نوی ایرانی «اهریمن» سره یی یو بده (مخالفه) جوړه جوړوله .ددوی (اهورا او اهریمن) ترمنځ میترا Mithra (دترون یا دجنګ او پاچا خدای) دستوری کرلی شپینی اسمان ډوله څادر په توګه منځګړ یتوب کاوه او دارپایی تبرونو دجنګی سر کښانو انځورڅیره (دعکس) بلل کیده . په جنګ کی تری خوګ څیره ور ترګنا Vrthraghna دمخه تله .او اخواته یی رشنو Raschnu یا هغه خدایی ورمندون (قضاوت) درومل چی په نامه یی خدایی ور-مندنی (محاکمی) تر سره کیدی .دمیترا لښکر له مړو منانو Manen (ارواوو) یا فروشیانو Fravashis څخه رغیده چی په لومړی لیکه کی ورپسی اړوندان یا ورو ستنیان (اخلاف) تلل .دوی دسر کښانو (مشرانو) دشاتلو نکو (پیروانو) یاپه بله وینا دنارینه وو دټولګیو په مخبیلګی سره انګیرل (تصور) کیدل چی نښی یی ښاماری بیرغونه او وسلی یی ډانګونه Kaule وو. دوی په دودیز (تشریفاتی) توګه غویان دروړول او نه یوازی دودیز ښباك هوما چی ځانګړ تیایی تر اوسه شخړ منه ده ، بلکی اوسه شخړ منه ده ، بلکی نور شه یی ښباکونه یی هم خوښیدل.

زر تشت دټولو نښو نښانو له مخی په ټبر ټولنه کی ددغه ګردومستو ونکو نمنځونو (وجد راوړونکو عبادتونو) پر ضد و او پر ځای یی ور ته «دښی نړی او ډون» خدای میرمنی «اشی Ascha » په نمنځ کی دګروهنو (معتقدینو) یووالی په ګوته کاوه چی په هغه کی دوینو ابلهاری (قربانی) ته ځای نه وه .همدا رنګه زرتشت په ښکاره توګه له زوروان Zurvan سره هم نا یاندی و ،دی یو له هغو ډیرو اریانی خدایانو څخه ګڼل کیده اود «جاویدانی زمان» ښکارندویی (تجسم) و ، اړوندان یی دټولو هستیو او همدا راز دخدایانو آره (منشا) بلل کیدل .دزوتار Zautar شخړه (مشاجره) دټبر ترښت او پخپله ړنګیدو ...

تبر او دون (قبیلوی نظام) دایدلو-ژیکو جولو (اشکالو) ته مخامخ وه.دی داسی برېښده چی دخدایانـــو جاجونه (تصورونه) یی دخپل وختـ له تېرنی دودونو څخه پخشو (خلاص) کړی او اخلاقی اړانه (طرح) یـــی ورکړی وه ،داسی چی ټول گرو هن باید په «آشه Asha » ټولنه کی ځای پیدا کړی .دغه سمو نـــوال (زوتار) ته دخلکو هـر کلی سوړوبرېښېد او تیښتی ته اړ شو . تـرآمو سیند هپوری ووت چی خدایگوتی یی اردوی -سوړا -اناهیتا Ardvi-Sura-Anahita په اریانی گروهـه کی ستر نقش لوباوه او تور انو ته ولاړ .توران هغه وگړ دله وه چی‌په سوغدیانا یا خوارزم کی اوسیده‌اوداسی برېښېدل چی باید سمو ن اندونه (اصلاحی افکار) یی اخیستی‌اوسی .په کړن کی دغه راز جاجونو بایدد‌لومړی اودویمی مخزیږدی‌زری ختیزو اریانیانو لپاره هماغه ارزښت‌درلودی وی لکه څنگه چی یی موږته دپارسیانو له خوا پته شته ،همدا راز دسپالی تپی او داشلی ۳ کوټونه‌دهمدغه ډول جاجونه لەمخی‌څرگند نوړدی .

په ویدیودات Videodat یوه افسانه راغلی چی داریانـــی‌میشتځایونو یا په بله وینا پخپله دنړی دپیل په باب ویل شوی ده :داریانیانو تېرنی اتل او لرغونی‌پاچایما Yama داهـوارا مـزدا په گومار نه ژوند پر ځمکو سمبال کړی‌او یو میشتځای ،یو میشتوړ جها ن‌یی‌ودان کړی دی .اهورا مزد داورته داسی ویلی دی :

«بیا یوه اسمنډی (څه ناڅه ۲۰۰۰گامه) هومره اوږده او سروره څلورڅنډی سمڅ جوړه کړه . په هغه کی دوړو او لویو څارویو ، وگړیو سپیواو مرغانو اود سره بلند اوریوه‌ټولنه ځای پر ځای کړه . بیا دوگړو داستوگنځی په توگه یوه سمڅ بجوړه کړه‌چی له څلورو خواوو څخه هره یوه‌یی اسمنډی هومره اوږده وی اوهمدا سی یوه اسمنډی لویه څلور خوایېزه‌غوجل دڅارویو لپاره .»

شوروی لرغو نپوها ند تولستوښایسته کلونه مخکی دخوارزم پـرسویلی پوله باندی دغـه راز دوه سمڅی میشتځایونه ،په بله وینـــاد‌کلالی گیر (Kalaly-Gyr) او کیو سالی ـ گیر (Kusali-Gyr) «میشت ډیوډی» ودانی دهمد غسی‌اندونو (مفکورو) مخبیلگی ښوولـی‌دی .کلالی ـگیر ۱۰۰۰ ځله ۷۰۰ متره سمگوتی بنه لری او کیوسالی‌گیر ۱۱۰۰ ځله ۴۰۰ متره دریگوتی‌ساحه له دواړو څخه شپږ ـ اووه کیلو متره اوږدی ډیوډی راچورلیدلی‌دی .مگر اوس له داشلی ۳ ســره‌دنمځچارو لپاره یوه ډیوډی ودانـی لیدل کیږی‌چی پیړی‌پیړی زغونوالی‌لری ،داسی چی ښایی دغه آباد ی‌دیوه یما ـښار دلیرد انځورونـــو (کاپی گانو) په توگه رامنځته شوی‌وی ،په دی ډول دغه جاج (تصرر)تر هغه زیات پخوانی برېښی چـی تراوسه یی اټکل کیده .

دختیزو اریانیانو ددینی جاجونـو‌دیږلږ پلونه زموږ پرسترگو لگیدلی‌چی دلویدیزو اریانیانو له پیژند ل شوی انځور سره اړخ لگوی .دآموسیند شمال ته دسو غدیانو خدا ی‌په ښکاره توگه زوروان و لکه څنگه چی یی لږ تر اړه ځینی میدیان گرو هن وو .دخدایی جوړی په توگه را ورو سته داسلام له راتگ سره کښل شویو متونو اهورا مزدا Xwarmzt=Ahura-Matda اومیترا Myshy=Mithra راڅر گند شوی دی .

دورتراگنا Vrthraghna ههغاړی وشاخن Vashachen دی . داناهیتا Anahita استازی دخپل ټوك (اوبو) له خوا کیـږی .قهر ژلی اړخ شیمنو Shimnu یادپارسیانو اهریمن او اړوند دیوان‌باید وردی اروای وی .دشاهنامی درزمی‌داستانو له مخی دوی پرخوگانـو ،سپلمو ،سپیو ،مارانو ،پیلانـو او سیمسارو سپریدل .

ختیزو اریانی ساکانوته دتوفا ن‌خدای «اود Vad » لومړی پوړی‌درلوده .مزدا پکی دونو Uano «سو بمن» ستاینوم درلود اود جنگـی‌ځانگړ تیاوو څښتن و چی په لویدیزاریانی اهورا مزدایی اړه نه لرله . تر څنگه یی میهر Mihr (میترا Mithra ) دلمر خدای او اسمانـــی‌ژغور اند په توگه شته‌او دسپوږمی

استازی ماه Mah اوفار Farr «دنیکمرغی ځلا» یو شاه خدایګوتی(ربالنوع) ګڼل کیده .اردو خش Arduachsch سیند میرمن وه . دیونانی خدای زغرور جنګیالی په توګه شهر یور نمانځل کیده چی په خول او ډال سمبال و .همدار نګه (دلته په ختیځ کی) دورتر اګنا Vanindo نمانځنه هم کیده چی اریانی کالی یی اغوستل اود ګوربت خولیی په سراوه ،په خوا کی ور ســـره ونیندو یاد بری خدا- یګوتی ناسته وه .دلهراسپ Lruvasp ترڅارنی لاندی اسونه ولاړوو چی داناهیتا په چوپړ کی وو . دیببروری (باروری) خدای تیر Tir و چی دانسان او اس په څیره پیژندل کیده .ستر رول یکی بیا اتهر Athr «اور» لوباوه .

په افغانی غرنی سیمه زابلستان کی ان تر اسلامی مهال پوری دغر وخدای زون Zun (؟) نمانځـــل کیده چی ښایی دزوروان یو انډول و.پر دغو اریانی خدایانو را وروسته هندی او یونانی هغه هم سرباری شول چی یوازی دیونانی خدایانـــودرا منځته کولو مهال ټاکنه باوری بلل کیږی .همدا رنګه نوموړی اریانی نوموونه لکه څنګه چی ورته نغوته وشوه ،له را وروسته اریانی مږ) لځخه آره (منشأ) اخلی .

په ختیزه اریانا یا په بله وینا په غرنی هیواد او سوغد یانا کـــی لیکلی تاریخ چی باید په دریمه مخزیږدی زری کی یی دښاری اودولتی سیستم له منځته راتګ سره پیلموندلی وای ،ډیر را وروسته پیلیږی تش په بیلګه یی توګه راته دیونا نیانو د «پاتمړی (میراثی) دښمنانو» یا په بله وینا دپارس دهخامنشیانو دختون (عروج) پر باب په یونانـــی ګزارشونو کی دغه سیمه را ترسترګوکیږی .دکوچنی آسیا دیوه یونانـی ښار دهلیکرنا سوس Halikarnassos زوی هیرودوت Herodot چی دپارس په وړاندی یی دیونـــی یونانیانو تر تولیز پاڅون وروســـته دیونانیانو ددښمنو او له دوی سره دجنګ تاریخ لیکلی دی ،په لنــډ ډول یادونه کوی چی باختریانو دیونانیانو غوندی دپارسیانو پر ضـــدپاڅونونه درلودل مګر دختیز هیـــواد خواته دکوروش (سیروس) دلښکـــر لیږدونو په برخه کی پټه خوله پاتی کیږی .دیو دور چی په دوېمه مخز- یږدی پیړی کی ددویم ارتاخر خس Artaxerxes خشیار شاه یاشهنشاه (٤٠٤ ــ ٣٥٩) مخزیږدی دڅانګړی در ملی (طیب) کتیساس Ktesies په کومارنه دباکتریا ناخواته داسوریانو دجنګ لیږد کیسه کوی.همداسی هغه افسانه یی ګزارش‌هم درواخله چی کیدای شو ،ددریم تیګلات پیلزار Tiglatpilesar (٧٤٥ ــ ٧٢٧ مخزیږدی) له هغــــه لښکر لیږد څخه سر چینه واخلی .هغه دشمال ختیز لور ته پر یـــوه جنګ لیږد «بیکنوبر ګ Biknuberg » یا ښایی دیماوند تـــه رسیدلی او ددغه لیږد په ترڅ کی یی له ابدادانی پاچا څخــــه نژدی لس تونه لاجورد ترلاسه کړی دی چی په افغانستان یی اړه درلوده .

داسی بریښی چی دلومړی مخزیږدی زری په سر کی یو باختری دولت دشمالی افغانستان لملمی سیمـــه او ختیز تور کمنستان تر خپلی واکمنی لاندی سره یو کړی وو او ښایـــی ،دجستپی په خاوریو کی یی تری یو لرغو نپو هنیز پل هومره راپاتی‌وی .دغه پل دپیاوړو ارګونو دکو چنیو ښارونو په کنډ والو کی لیدل کیږی چی تر پارسیانو پیړی پیړی دمخه ودان شوی دی خو دسیاســی تاریخ په باب یی دومره څه څرګند نه دی .یوازی څه چی جوت دی ،هغه دکوروش (سیروس) دلښکرو له خوادشمال او لویدیزو غرنیو ټبرونو ښکیلونه ده چی تر هغو وروسته یی سوغدیانو ته مخه کړی او ترسردریا پوری پر مخ تللی دی . د اوسنی قزاقستان په جلګو کی پـــر ٥٣٦ مخزیږدی کال دپارسیانو لښکری‌ډوبی ډوبیا شوی دی .

کله چی لومړی داریوش (دارا) سر غړاندی هیوادونه لاندی کړل ،دجلګو دسپرو نړی آزاده پاتی‌شوه مګر دمنځنی اسیا کروندګر په پارسی‌تولوا کمنی پوری وتړل شول .هغه په ختیځ کی دا لاندی لتی (ایالتونه) منځته راوړل :

ACKU

۱ـ اریا Areia دهـــرات شاوخوا ،

۲ـ باکتریا Baktra لـــه منځوال ښار بکترا Baktria له «ننی بلخ» سره یا په بله وینا دآموسیند سویلی هیواد ،

۳ـ درنگیانا Dranganiana (زرنگ) یا ننی سیستان ،

٤ـ اراکوزیا Arachosia لـــه کندهاره تر عربی سمندر گی او ابا سینه پر ته سیمه ،

۵ـ ستاگیدیا Staffagydia دکابل چاپیر منځنی افغا نستان چی راورو سته «دگوربت ترالوتنی هسک هیواد» پارومیزاد Paropamisadae بلل کیده ،

٦ـ گندهارا Gandhara دجلال آباد له ناوی او بیا له پیښوره ترمنځنی سنده پوری سیمه ،

۷ـ اندوس Indhara ننـــی پنجاب او سیند ،

۸ـ سوغدیانا ( Sogdiana )دتینشان غرونو ته پرته سیمه او

۹ـ خوارزم Choresmia دآموسیند دلتا .

پارس له خپلو ختیزو نیولو لتـــو(ایالتو) څخه گرانبیه ډبری ، سره‌زر و څاروی او بیا تر هر څه مخکی دخپلو جنگونو لپاره جنگیالیان لاسته‌راوړل .په همدی اړیکه هیرودوت‌دخرخس (خشیار شاه) دهغه ستـــر لښکر دټوکونو په توگه چی پریونان‌یی‌توپان راوست،دباختریانو ،ساکانو،هندیانو ،اریانو(هراتیانو)، پارتیانو، خوارزمیانو ،سوغدیانو، گندهاریانو،او داندیکیانو یادونه کوی . ورپسی‌دکسپیانو ، سرانگیانو (زرنگیانو ؟) پکتیانو او نورو وگړ ډلو نومونـــه راځی چی دنوی مهال له وگړ پوهنو سره یی پتلیزول گران بریښی.دا هغه شوی ده چی پکتیان «پښتانه»وگڼل شی مگر ددوی جنگیالی ارزښت‌ددی لپاره نه بس کیږی چی په تر موپیلین Thermopylen کی‌دپار سیانو دجنگیا لیانو په توگه‌وپیژندل شی.دختیځ‌ولسونو په‌غوره ډول دسپرو جنگیا لانو په توگه‌له‌مقدونی سکندر سره تر وروستـــی‌ستری جگړی پوری دهخا منشیانـــو ملاتړلی وه چی داربیلی Arbela (۳۳۱ مخزیږدی) هغه یی ټاکونکـــی‌جنگ و که څه هم ختیزو سیمو لا هماغه مهال پوره آزادی تر لاســه کړی وه .

په سیستان او بلخ کی ایتالیایی‌او شوروی لرغو نپوهانو دهغه مهال‌داسی ځانگړ ډولی ودانی را برسیره کړی چی په لویدیز اریانی برخـــه کی هیڅ کوم انډول نه لری . پــه‌سیستان کی «دهن غلامان» ښارکیدای شی ،سارین Sarin وی چی‌ددرنگیانا له منځیو (مرکزو) څخه‌یوه منځی وه .داله شپږمی څخه تر څلوررمی مخزیږدی پیړی پـــور ی‌میشتن و اود هیلمند دیوه مرستیال‌سیند پرغاړه ددویم ځل لپاره هغه مهال بیا ودان شو چی خپل بهیر یی‌پر یښود او نن سبا بیخی وچ شوی‌دی .ښار په نقشه جوړ شـــوی و (*۲۰) او بیا هم دیوی ستری څلورڅنډی (مربع) ودانۍ بنه لری .ډیرپه رجه یی هماغه دکور اورتون دی چی ۵۳ ځله ۲ر۵۳ متره یی لویوالی‌دی اودننه انگړ یی په داسی څلورڅنډ ډول جوړ شوی دی چی له‌څلورو خواوو څخه پری دتیرونو دالانونـــه را څرخیدلی دی . په گوټونو کـــی‌څلور څنډی پوړۍ ییزه کورونــــه پراته دی . په شمالی او ختیز اوهمدا رنگه په لویدیز دالان کی‌اورمحرابونه شته وو .له یوه دویـــم ودانیز پړاو سره په انگړ کی در ی‌نور اور محرابونه را منځته شول‌او دتیرونو ترمنځ تشی پــه ډیرو برخو کی تودنیو (بخاریو) ډکی‌کړی‌وی . ښایی چی مزدك په یوه ختیزدریوالی (تثلیث) ته ډالی‌شوی و ، یامزدا ،میترا او اناهیتا ته ؟همدا رنگه ماڼی او زیرمتونونه دڅلـــورڅنډو په بڼه ودان شوی‌وو .شوروی ـافغانی څیړندله په‌شمالی افغانستان‌کی دهغه مهال دښار ونو اومیشتځا .یونو پر یوه سمت غونډ وړ برابر شول چی همدا راز یی دهخا منشی‌مخکی دودونودپایځوړ (دنبالی)ښکار ندویی کوی .

دالتینی ـ دلجارتی ښار له څه ناځه ۱۲۰۰ مترو چمبر (قطر) سره یو گرد ښار دی چی په منځ کی یی په ۲۷۰ مترو څنډیز اوږدوالی یوه څلور څنډی کوټ ولاړ دی . دتیلجاتی ښار کوټ بیا نور هم پخوانی دی چی دوسپنمهال په لومړی پیړی اړه لری . په لسم التین کی خورا ډیر ودانیز غونډونه رابرسیره کړ شوی دی چی لومړی برخه یی ۸۰ ځله ۵۵ متره کیږی .همدا سی دوه ستر انگړونه (*۲۰) له دروتیر ډولو انگړو سره دیوی اوږدی لیکی غاړو ته پراته دی ،مگر په ښکاره ډول داسی بریښی چی دغو انگړونو سره اړیکی نه درلودل . پر هره یوه څنډ باندی یوه «تخت» خونه اویوه مخخونه اچول شوی وه چی له هری یوی څخه انگړ ته لار تله .دواړه تولځونه (کمپلکسونه) سره بیا دسالو نونو په دریگونی غونډیو یوله بله جلا کیدل .څلورو بهرنیو انگړ گوټو نو څلور څنډی خونی درلودی .تر اوسه پوری ددغو ودانیو په باب یوازی یو اندول دسوزیانا ددور ـ اونتاش په مړستونی ودانی کی شته چی دڅیړو دراوروسته مهال پنځه درباری ودانی لـــری.هغلته پخوانی پاچا او ناش ـ گال(۱۲۶٦ ـ ۱۲٤٤) مخزیږدی (؟) په کړی وه چی تر ودانی لاندی پـــه پنځو ډوریو (دخمو) کی ښخه شوی وه .مانۍ ته څرمه پر اورتون سر بیره له را څرخیدلو دالانونو سره پنځه وبله نښتی در بارونه جوړشوی وو چی ښایی دمړو دنمانځنی لپاره به منځته راغلی وو .کیدای شی په لسم التین کی جوړه شوی ودانی دیوی شاهی جوړی لپاره دمړـ ستون مانۍ په توگه وانگیرو .

ددویمی ودانی شننه چی کیندونکی سر یا نیـــدی ورتـــــــه دمانۍ په سترگه کتلی دی ،هم شخړ نه ده .دایوه څلور څنـــډی ودانی ده چی څنډیز اوږدوالی یـی ۳٦ متره دی ،دننه یو څلور څلور څنډی انگړ لری (*۲۲) او چاپیره تری یوه ډیوډۍ راڅرخیدلـی ده .لویدیز وربوی یی چی ددو څلـور څنډو گوټخونو ترمنځ پروت دی ،یو لوی ننوتوځی (مدخل) لری .نوروخواوو ته یی سم یو برابر کوټی پرتی دی چی دری په اوو متروکی راځی او شاته گوټونه یی دوی نوری سه گوټی (قایمته الزاویه) کوټـــی جوړی شوی دی .دغه نقشه دراورو سته کاروا نسرایونو له اډانـــی(طرحی) سره اړخ لگوی چی موږ ته تراوسه یوازی له اسلامی مهالـــه راڅرگند وو .

دکوتلوگ تپی کوټ بیا هم یوگردجوړښت دی چی چمبر (قطر) یی څه ناځه ٦٥ مترو ته رسیږی .دوه ننداـ رتونونه (گالری) له یوه انگـــړه را څرخیدلی چی لږ هوسا ییز والی لری ،داسی چی دنارینه وو دیوه ناستځی اټکل تری کیدای نه شـــی.زیات اټکل پری دیوه لښکر ځـای کیږی چی دگړۍ (واحی) دساتنی یا چلونی لپاره به جوړ شوی وی .

دبخدیانا ددغو کوټونو استوگـــن هماغه میرونه وو چی پر ۳۳۰ مخز ـ یږدی کال یی دپارس له خواددریم سنکدر دراغوته کیدو نکی مقدونی لښکر په وړاندی یوه سخت پاڅون ته دانگلی وو .دریم داریوش (دارا) په داسی حال کی چی داربیلی Arbela جنگ ډگر یـــی پریښود، دختیزی اریانا ټولگی لاان تر شپی پوری جنگیدل .دباختری ،ساکی ،سوغدی او کندهاری سپرو اوبخدیاناولایت بولندوی (قوماندان) بیسوس Bessos دارا کوزیا دوالــــی په ملگر تیا تښتیدو نکی پاچا لـــه پښو وغور ځاوه اود څلورم Artaxerxes(شاهنشاه) په توگه یی دسکندر پـــه وړاندی پاڅون پرمخ بوت چی البته دختیځ ولسونه نور دبری غاړی غرنۍ سیمه دری کاله زړه نا زړه وجنگیده . بیا دریـم سکندر دهخا منشیانو دپاتوړی(وارث) پـــه تـــو گـه ډگـر تـه راودا نگیــــــــد ل ا و پـــه ډیرو ځایونو کی یی لښکر لړونـه

(ستونونه) واچول . په دې توګه یونانیان ،په مروه ،کپیشي ،تاکسیلااو نورو ښارونو کې میشته شول چې له هغه را وروسته دسکندر یو په نامه یادیدل . سکندر کور ته لــه ستنیدو سره په بابل کې ځوان تاندـ لبان مړشو او تولوا کمنی یې تــالاترغې شوه .دیرو پوځي ډلو غرنیسیمه پرینښووه او له ختیځ څخــه هندي لښکرې دآباسین ناوی تــه ورګډې شوي .چندرا ګوپتادموریا Maurya تولوا کمنی لښکر یې دافغاني غرونو په لوری راو ځکاوهاود لومړی سیلیکوس Seleukos مقابل یرغل چې میزوپو تامیااوایران یې په خپل واك کې راوستي وو ،متې همد ومره یو څه شو چې دهند وکښې پر شمالي سیمه بخـدیانا او سوغدیانا بسیا پاتې شي .دغه یونانيدمنځنیو غرونو سویلي لتو (ولایتو)لپاره له خپل هندي بډ (حریف) څخه پنځه سوه جنګي پیلان ولجه کړل .

پــه کندهار کــې پر ۱۹۵۸ کالداشو کاډ برلیکونه را برسیره شولچېدموریا دپاتوړيشاهزی (ولیعهد) په توګه یې پر غرني هیـواد واكچلاوه .هندي کولتور او دین په تیرهبودیزم چې په تاریخ کې یې لوی دودوونکی اشو کاوه ،پوره پراختیا وموندله .

دهند وکښې شـال ته لومړی انتیو کیوس Antiochios دخپلپلار سیلیو کوس داستازی په توګه ددغه هیواد دپرمختیا لپاره هڅــه کوله .موریي یوه سوغدي شاهزيوه اوداسې بریښیده چې تر نـورو یونانیانو او هم تر خپلو ورو ستنیویې دیوی یوناني – باختري انډیوالزیات پلوی اوسي .دده تروا کمنی لاندې دآمو دغاړې ښار ای خانــمسمسور تیا وموندله .ددغه ښار پهاستوګنه برخه کې یوه اداری منځې ځیدلی وه چې یوه «باختری» ځلورځنډې مانۍ او له ستنې لرونکــودالانونو سره یې یو «یوناني» دربار درلود .یو مزدك یې دلرغونو میزوپوتامینې بیلګو ښکار ندویې کوله.په داسې ترځ کــې چې دبنستوال کینیاس مړستون یو یوناني هیرون Heroon یا په بله وینا دیوهساتونکیاتل مړستونې مزدك انځوراوه. دای خانم کاشې ،پڼې ،تختونه اونور هنری څیزونه په یونان کې هموندل شوي دي ،شوروی لرغونپوـ هانولیتو ینسکی اوپیچکیان شورویتواته دسیند پر مخکښته غــاړه د«تخت سنګین» ښار را برسیره کړ چې مزدك یې بیا راڅرګند شوی اودغه مزدك ځلور ځنډې دالان یــاوور محراب لري .چت یې پر ځلورو ستنو ولاړ دی او یو کوچنی محرا بچې دیوه یوناني دو Sileu په مسینی پڼې او یوه یونانــــي سپیڅلي ډبر لیك ښکلل شوی دیدوی څرمه کوتې یو وخت دزیر متونونو (دیپو ګانو) په توګه کارول کیدی چې په هغو کې غواړه دوسلویوه زیرمه (انبار) زرګونه شتـــي(دغیشو څوکې) ،توری ،جمدرونه او همدار نګه پڼې اود مقد ونـــيسکندر یوه څیره هم خوندي شويوه.په یوه ځا نګیزه برخه کې دیــوی لند کې ایراني توری پیلنابنی (عاج) تیکې وچېپای یېدلیوه ککره ښووله.تولیز انځور یوهولاړ زمرین دیوښبیې چې یو غرڅه یې په پنجالو کـــيــنیولی دی. په دغه ډول ډال (دیګور) کې سره اسوری مخبیلګې له ایراني توکونو (عناصرو) سره اخښل شوياود لمن انځور (حاشیوی تزئین) په توګه پرې لرغوني ښاپیریانې هم ور ږ ز یــــــا تــي شـو ي دي .

دغه زوړ ښار چې د«ستورینښار»په نامه هم نومول شوی ،دهغـــياکسوس (آمو) ګنجینې دنامې مونــد غالې په توګه له خرخشې ســرهمخامخیږې چې پر ۱۸۷۷ کال موندلشوی او دهند له لارې تر انګلستانه رسیدلې ده .داګنجینه ښایي چـېدمزدك دزیر متون یوه برخه بهوه.سره زرینې تختې لمونځغاړې د سپرو په کالیو کېښیې .سره زرینې ګوتېپه خورا ښکلې توګه دجلګو پـــه ږونې (حیواني) سبك کار شویدی. دا کیدای شي ،دساکې ټبرونو لــه سپیڅلو څیزونو څخه وي چې هغــه مهالله المانو Almen ترپامیره اوسیدلي لکه څنګه یې چې دتا جیکستان دکیندنو له مخې جوتتیاموندلې ده .

دتور کمنستان په لویدیځ کې‌ددریمی مخزیږدی پیړی په راورو سته کلونو کی دپارتیانو واکمنی جوړه شوه چی لوړ پوړ یی دداهر Daher ټبرونو له کوچانی وګړوڅخه و .دښار نوم دلویدیز تور — کمنستان دلرغونو اریانیانو دوګړوپه نامه پاتی شوی چی لاان دهخامنشی‌ولایت پارتیانومونه یی‌رامنځته کړی ده .دهغوی میشتځای (مقر) اواړوند مزدك ښار دنیسا Nisa اومنصور تپی په نامه په عشق آباد کی بیا موندل شوی دی .په کنډوالوکی یی دنورو ځیزونو تر څنګـــه ځلوینښت پیل نانښی (عاجی) ریتا Rhyta رابر سیره شوی چی دډول وډال (دیکور) له مخی ښایـی‌دبخدیانا تونه (حکاکی) وی.پارتی سر حدی کوتونو مروه دپار تیانودوخت یو لوی ښار او له بخدیانا اوخوارزم سره یی دراکړی ورکړ ی یوه سوداګری هده تر ساتنی لاندی‌نیوله .نه دپار تیانو اونه دسیلیو کانو ځواك ددی جوګه وچی ترجلګو پوری ورسی او همدار نګه خـوارزم‌هم ددوی لاسکتوی نه و .

ددغو لتو وګړو لرغونی دودونـه‌تر هغی ګچی ښه تراپالل لګـــه څومره یی چی دیونا نیانو له خوا په نیولو ځمکو کی کیدون درلود .دغه‌ټکی دخوارزم شاهانو په هغه مړ ستونی ښار کی په داګه څرګندیږی چی په څه ناڅه روما نتیکی نامـه«دتورو وریو کلا» (کوی کـرولګان‌کلا) نومول شوی دی .په څلورسوه مخزیږدی کال ودانه شوی ګرده کلایوه‌دوه پوړیزه لوله (اسطوانه یی)ودانی ده چی چمبر (قطر) یـی ۴۲ متره دی او بهرنی کړه یی له ۸۲‌مترو چمبر سره داستو ګنی اوزیرمی‌جوړښتونه لری .دمړو هدوکی پـه خاورینو ٔ Ossoarien کـی‌ایښوول شوی وو .دلرغونی خوارزمی‌واکمنی دوه استو ګنبارونه پـه جانباز کلا او توپرك کلا کی موندل‌شوی دی‌چی سه‌ګوټی استو ګنځایونه یی پر کهولونو ویشل شوی دی .

داورال سیندګی له‌ختیځه نیولی‌تر سر دریا پوری په ټولو پرتولتوکی دساکانو ښارونه ،مانـــی ، او مړستونی ودانی جوت کړ شوی دی‌چی په دویمه مخزیږدی پیړی کی‌یی سویلی لوری ته دټبرونو لـه رالیږیدنی سره پری ایښی دی .

سیلیو کیان له مصری فطلیمانو Ptolemaern . سره دجګړی له کبله پر ۲۵۰ مخزیږد ی کال دبخدیانا خوشی کولو ته اړوتل‌خو دریم انتیو کوس Antiochos بیاهم پر ۲۰۶ مخزیږدی کال هغه وکړه چی ختیځ لاندی کړی خودبلخ‌پیاوړو کلاګانو یی یرغل ناکام کړاواړشو چی دایو تیدیموس ترواکمنی لاندی دبخدیانا آزادی په رسمیـت‌وپیژنی او خپلی لښکری تری ولیږ دوی .په ستنه کی یی دهندوکښ سویلی سیمه تالا والا کړه چـــی‌وروسته بیا ایوتید یموس هندیانوته وربیله کړه .زوی یی دیمتر — یوس ٔ Demetrios دسوبوجنګ‌دهند خاوری ته ورولیږ داوه . ده‌دخیل ځواك په لوړتیا پر بخدیانا، هرات،سوغدیانا ،اراکوزیا ،سیستان،ګندهارا ،پنجاب او اباسیـن ناوی‌واکمنی‌چلوله .وروریی اپولودوتوس Apollodotos کاتیوار ٔ Kathiawar ګوجرات،ملوا لاندی کړل او یو بل لښکریـی ماتورا ونیوه او پتا لیپوترایی لابیاوخته کلابند کړی وه .په دغه وخت‌کی یوسیلیو کیایی لښکر بیا ختیځ ته مخه وکړه ،دیمترویس ورك‌شواود نیواکګرو بولندوی ایو کـرا تیدس Eukratides (۱۶۴–۱۶۳ مخزیږدی) دستر شاه دستاینوم ادعادرلوده ،مګر یوازی په څو کوچنیوسیمو کی وپیژندل شو .دهند وکښ سویلی برخی یو هندی -یونانـی‌هیواد (دولت) جوړ کړ چی دشاهانوپه لړ کی یی میننډر Menander ٔ (۱۶۳ ـ ۱۵۰ مخزیږدی) په بودایی‌متونو کی دمیلیندا Milinda په نامه یاد شوی دی .

هغه مهال (د ۱۵۰ مخزیږدی شاوخوا) ښایی ګریکو باختری ښار دلبر جین Dilberjin (*۲۳)ودان شوی وی چی شوروی لرغونپو هانودبلخ دشمال لویدیځ په ۵۰ کیلومتری کی را بر سیره کـړی دی (۱۲۴ ،۱۲۵ ،۱۵۰، ۱۵۱) .په یوه‌څلور څنډی کلا کی چی دهری څنډی‌اوږدوالی یی ۳۸۳ متره کیږی ،یو

ارگ پروت دی .بنستیزه بنه یی بیا هم باختری ده .تر کلا دباندی بودایی سمځی او استو گڼوند (داستو گنځیو مجتمع) لیدل کیږی.په شمال ختیځ گوټ کی دکلا دیوال د Kapellen مخ ته ددیو سکورانو Dioskuran مزدکودان شوی دی چی دیوالی (*۲٤)انځور گری یی په هیلنستی سبك دی (۱۲٦ ، ۱۲۷ ) کلـــه چیهغـــه ښـــار منـــځ تـــه راغلـــی،په ختیزه منځنۍ اسیا کی هم دواړه یو نوی وگړ لیږد پیل شوی دی . هیون گنویانو Hiungnu په مغو لستان کی یوه نوی سارایی واکمنی منځته راوړی وه او یوه ډله خلك یی له کانسو Kansu څخه لویدیځ ته وشړل چی چینیانو یوچیان Gue Shi بلل .یوچیانوساکان لـه تینشان او تـرا ورال‌سیند گی پرتو غاړو څخه پســی واخیستل او په همدی توگه بیـلابیلو وگړنیو ځپو دبخدیانا بولو ته‌ورو څکیدل .بندونه په کورنیـو جنگونو کی وران شول او پر ۱٤۰ مخزیږدی کال باختر دهغو کوچیانو په لاس کی کیوت چی ستر ابون اسیایان ،تخاریان او ساکاران کان Sakaranken بللی دی .ساکان‌دپامیر له لاری مخ پرسویل دپنجاب خوا ته ولیږدیدل او له بلی‌خوایی‌پر پارتیانو ورودانگل اولویدیزایران‌او عراق یی تری ونیول .دوی په درنگیانا (زرنگ) کی میشته شـول‌او له هغه راهیسی دغه سیمه په ساکستان (سیستان) ونومول شوه.
په دویمه مخزیږدی پیړی کی‌اوسنی‌افغانستان دکوچیانو تر‌واکمنی لاندی‌راغی یوازی «تر گوربت هسك Paropamisadai » تر دیره‌پوری‌دیو نانیانو دواکمنی‌سیمه‌جوړوله دلومړی مخزیږدی پیړی په سر کی ساکی شاهانو پر پنجاب ،گندهارا،ماتورا او کپیشی باندی واکمنـــی‌درلوده او همدا رنگه په بخدیانـا کی ساکی شاهزیان شـــته وو .شوروی لرغونپوه پر ۷۸ــ ۱۹۷۷ کال‌دشبرغان په طلاتپه کی (۸۱ـ۸۲) دساکی شاهانو Mekropole ښاروموند چی استو گنځی یی څرمـــه امشی Emshi تپه وه .دابیا هم یو گرد ښار و او ښایی چی ترساکی مهال دمخه په‌ودان شوی‌وی.دشاهی کورنی مړی څه ناڅه ۵۰۰ متره تر ښار وړاندی پر یوه مخنی‌وسپنیز مهالی استو گنی غونډ ی باندی ښخ شوی دی اوداسی بریښی چی دغه کار دخوند یوالی له کبله دشپی تر سره شوی وی ، څکه مړستو نونه لوټیدل . تر اوســه له شپږو را برسیره شویو مړستو نونو څخه لس زر گونه طلا کاری‌تر لاسه شوی چی دکنځولو نو ، مړوند ونو ،سرونو اوپښو دسینگا رونی لپاره کارید لی دی .

بنگړی ،په ژونی (حیوانی) سبك‌سره زرینی جمدر موتی ، والی اودکنځولو نو تنی ډوله توتی سره دسکیتیانو دودونه اوگریکو باختری‌کالی ،هندی پسول ډولونه او همداـرنگه خپـل کورنی ختیز اریا نی موتیفونه یو له بله اخښی راخښی.چـــی دســـا کـــا نـــو لـــــــه ســا یبر یا یـی بیـــد یـــا یـــی ځینی کارونه پکی لاداسی بریښی،چی دساکانو له سایبریایی بیدیایی‌تاتو بی څخه یی آره اخیستی وی . نور یی دجنگ خدای شهر یور (؟)ښیی چی له یونانی جنگی سمبا لتیا سره دغو تیو دستنو په منځ کی دلرغونی پارسی گډوله موجودپراوږو سپور دی.خو لونه (تاجونه) دساکانو ددودونو ښکارند ویی‌کوی چی مونږ ته یی‌له اسیك کورگان Assakurgan څخه پتـــه‌شته .په څو که کی یی دیوه غرڅه څیره لیدل کیږی نور ډول وډال‌یی دونو لړی جوړوی چی دبودا شوی دی .دمړستو نونو نیټه تاکنه گړی Buddigara پرسکو ،دتیبروس پر یـــوه Tiberius سپین زرمینه کاسه باندی انځور (۱٦ـ۲۱ زیږدی) پر یوه Aureos ددویم میتریداتس Mithridates (۱۲۳ ـــ۸۸ مخزیږدی) پر سپیـــن‌زرینو سکو اود څلورم فراتس (۳۷ـ۲ مخزیږدی) پریوه‌سکه لگوی‌چی‌نوی‌ساکی وهنه (ضرب) پری لیـــدل‌کیږی .په دی توگه دلومړی مخزیږدی پیړی په پای اود لومـړ ی‌زیږدی پیړی په پیل کی ددغـــومړستونونو نیټه اټکلیږی .دادساکی واکمنی دسمسور تیا وروستی پیروچی بیا پری له لویدیځه پارتیا نړاسم شول .

دډغو لاندینیو پېښو یوه ځلیدنه دعیسویت دا پو ستل په افسانـــوکی لیدل کیږي . داسې چې تراپو-
کریفن «توماس Thomasa-Kten وروسته دختیځ اپوستل Apostel توماس دمریی ؟په توګه دیوه پارتي
واکمن ګودنافر Gudnaphar دربار ته رسیدلی او هلته یې خپل تبلیغ پیل کړی دی ښایي دا دارمنیانو
هماغه ګتاسپر Gathaspar اوسي چې یو له درو سپیڅلو شاهانوڅخه ګڼل کیده او اروپاییانو کاسپر
Kaspar بللی دی .پخوانی یې په اټکلی توګه هماغه پارتي ویندا فردي چې «ځلا پیدا ګر» یا په بله
وینا «دشاهانه بخت ځلا» مانا لري او له ۱۹ څخه یې تر ۴۵ زیږدي کاله پرسیستان ،اراکوزیا (کندهار)
پارویامیزاد (غرجستان) او داباسین ناوي پر یوه ستره برخه واکمنـــي چلوله .الماني لرغونپوه اوریانپوه
هرځفیلد Herzfeld دا اټکل څرګند کړی دی چې ګوندی دغه پاچا به دپارتي واکمي دختیزي برخي
دسوریانو داشرفي کورني دمشر په توګه زا پرځیدلی وي . داخبـــره یقیني ده چې دګوند افر په نامـه
همیادیده ،ساکان یې لاسکتوي کړل،دیوناني دوات ښښي ښښاني یـــی له منځه یووړي او یوه لنډ ژوندی
ستره واکمني یې دایران ښنګلنـــودښتو څخه تر پنجاب پورې ټینګه کړه .پر یوه سکه یې ځان «دشاهانو
ستر شاه» بللی او هندي پایتخت یې تاکسیلا و .

ښایي په لویدیځ کی دهیلمند ډنډته څرمه پر افغاني -ایراني پوله باندي دخواجه کلا «کوه خواجـــه»
دهندو پارتیانو استو ګنځی ولـــی اوسي .دغه کلا پر یوه یوستوي غره باندي ولاړه ده .ودانی تر هر
څه مخکی دیوی بودایي سمڅي یادراتاندوي دیوالي انځور ګری او کیندنکاري یې باختری -منځني اسیایي
ښه لري او ځینی یې دختیزي اسیارنګ وښه پر زړه را وروي . کوه‌خواجه چې باید تر پنځمی یاشپږمی
پیړۍ استوګن پاتـــی شـــوی وی ،کیدای شي هغه مهال داومړي پیړۍ په پای اودویمی پیړۍ کی دګوندوفر
Gondophar دوروستنیو (اخلافو) دواکمنۍ میشتځای (مقـــر)ولی اوسي چې باختر ،پارو میزاد او
اباسین ناوه یې مخکی له مخکی دیوه‌نوي ځواك یا په بله وینا دکوشا نیانو په وړاندی بایللی وو .

دچیني هان شاهي کورنی Annalen په لنډو تنګو غونډلو(جملو) کی ګزارش را کوي : «یـو
مهال یوچیان Jue-chi (افغانان)دهیو نګ -نو Hiung-nu له خوا لاندی شول .دوی خپل میشتځای
داهیا (بخدیانا) ته والیږداوه دغـه توا اکی یې دپنځو هی -هو Hi-hou (سرغنه وو) ترمنـــځ
هیومی Hiu-mi شوانګی ګویشوانګ Shuang mi Gui—shouang هیدون Hi-dun او دومی Du-mi
ترمنځ وویشله تر سل کلن ځنـــدوروسته دګویشوا نګ سرغنه کیو-دسیو کیوپردا نورو څلورو سرغنه وو
وير غلل او ځان یې پادشاه وباله .دیوی تولواکی نوم ګویشوا نګ و.دی بیا پرانسی Ansi (هنـــدو
پارتیا) (؟) وروبلو سید او اوګاوفو Gao-fu (کابل) سیمه یـــی ونیوله .» دګویشوانګ دغه سرغنه
دخپلو سکو له مخی دکوجولاکدفیسس Kudjula Kadphises په نامه یاد شوی اود هـدغه اخځ (منبع)له
مخی یې اتیا کاله حکومت وکړ .دغه مهال کیدای شي دلومړۍ پیړۍ په پیل یا ددویمۍ پیړۍ په نیمایـــی
پوري اړه ولري . مګر ډیر لږ نیټه لیکونه (کرو نولوژي) به دکوشا نیانو هغو غوندي شخړني (متنازع
فیه) وي ،که څه هم موږ ددوی دپیر ښایسته ډیری سکـــــی ،پژۍ(مجسمی) ،ودانۍ او نور هنري اثار
په لاس کی لرو .

سمدلاسه دکوشانیانو ډیرپخوانی‌مشر هیراوس Heraos نومی‌چی‌سکی یې‌په‌هند ویوناني مخبیلګړ
-پیښي ځی مګر هماغه تیپیکه څیره‌رانښیي چې موږ ته یې دخالچیان Chaltschajan دمزدك مانـــی د
تیـــرا کـــو تـــا Terrakotha نقشه یـــــی پژیو لـــــــــه پلوه پته شته .دغه مانۍ په‌خانکو
Chanako کی دینو Denau ته نژدي موندل شوی ده .داورال‌او کیندلو څیرو ښکلل شوي دي چې
نیو مانیو سره اړخ لګوي . تولنیزدالان او مخ خونه یې په انځورونوسیند ګی پر غاړه دساکانو له پخوا

ACKU

دمنځني برخې په توګه دتخت ننداره(صحنه) لري .دلته دتېرني نیکونو Ahnen او جنګ نندرای ،دحدا
یکوتو پڑی اورنګا رنګ دولــــیخیزونه ځای پر ځای کیدل چـی دباختري کوچانی ګډوله سبك ښکار
ندویی کوله . دنیکی Nike اواتینی Athene تر څنګه اریانيخدایان لکه میترا اوداسی نور لیدل
کیږي .دپاچا څیره دهیراوس Heraos دسکو له هغو سره ورتوالی لري‌له دی کبله کیندو نکی پوګا چنکووا
دغه ځای دهیراوس استو ګنځي‌بللي‌اود نورو شننو له مخی دخلچیا زمانې دکوشا نیانو دشاهی کورنـی
دتېرني نیکونو مزدك اټکل شوی دی.به کوجولاکدفیسس پسيویماکدفیسس‌او په هغه پسی بیا یو بل واکمن
راځي (۸۳، ۸٤) چی پر سکو باندي‌یی تش ده سو ترمیګاس Soter Megas لاسلیك لوستل کیږی .دده
ځــــای‌ناستی کنیشکا Kanishka وچي‌دکوشا نیانو ستر نومیالی پادشاه‌بلل‌شوی دی په کنیشکا پسی وسیشکا
Vasishka هوویشکا Hovishka‌او واسودیوا Vasudeva بیا تول‌تال‌څه ناڅه سل کاله واکمنی چلولی
ده .دسکو له مخی داراجو تیرې چي‌کیدای شی، څو شاهان په یوه نامه بیا بیا منځته راغلی وی او هغه هم
ددی لپاره چی ددغی شاهی کورنی‌دواکمنانو دواکمنی لړی نوره هــــم‌پسی وغځوی .بنایی دغه لړی له
دویم واسو دیوا سره دساساني پاچادویم شاهپور دیرغل له کبله په‌ایرانی سیمو کی پر ۳٦۸ کال پای
ته رسیدلی وی .په هند کی بیـــاکیدای شی ،کوشانی شاهانو یو څوپیړی نوری هم پرورپاتی نیمګړ ی
تولواکمنی لاسبری پاتی شوی وی.

کوشا نیان په څرګند ډول ختیزاریانیان وو ،هر کوره له کنیشکاراهیسی یی دسکو لیکونه لویدیـز
اریانی راغلی دی . دشلـو مبرژي‌له خوا دافغانستان په شمال کــــې‌د ســــره کــو تــل را بـــر-
سیره‌شوی «دسو بمن کنیشکا مزدك»هم له لویدیز اریانی دود سره‌سمون لری .دلته سمت غرپراور تون
Ahnenfeuertempel‌اړول شوی دي‌پر یوه نقشه شوی لوړه باندی په‌یوه رادیوال شوی (۷۵ متره) څلور
څنډی» انګړ کی چی بهرنی دیوالونه برجونه لري‌یوه دري‌برخیزه پیچلی‌ډیوډی لرونکی (۱۲ متره) څلـــور
څنډی اورتون جوړ شوی دی .پنځه پوړی پیزی ښلونه (زینی) له یوی‌بمبوتی څخه بلی ته مخکښته کوهی
ته ورکیوځی ،او په دی توګه سره‌اورو اوبه یو ځای کوی .په انګړکی ډیری ولاړی څیری انځور شو ی
دی (۱۱٦، ۱۱۲، ۱۱۳) ختیز اریانيډبر لیکونه په یونانی تورو کنیشکادبنستوال په توګه رابښیی . دغـه
اورتون ډیر مهال نور هم له اریانی‌دود سره سم دشاهی سمڅ مزدك په‌ډول کار یدلی دی .دباندی په لمن
کی دسره کوتل له سره دیوه بودایی‌مزدك چوتره له ورایه لیدل کیږي‌چی دخاورینو پڑیو (مجسمو) خورا
غټ غټ کندونه پری ولاړ دی .

دکوشا نیانو له تولو اکمنی سره‌دهند دسترو برخو پتیلیز یدنی په‌منځنی اسیا کی دیوی خورا پراخی
هندو بودایی استازی (رسالت) رامنځته کړ چی تر هر څه دمخه دکنیشکا له نامه سره تړون لری .
کیدای شی دا خبره دومره سمه ونه‌خیژی ،ځکه دکنیشکا پر سکو باندي‌بودا تش دنورو پخوا نیو هند یاو
اریانی ولسونو دخدایانو تر څنګه لیدل کیږی .دده مخکینی ویما کـدفیسس یاد شیوایو Devoter
غوندی ګروهن بریبنی او همدومره‌درناوی یی ور ته کړی دی چی پرخپلو سکو باندی یی څیره هومو ه
وکاړی . داسی ښکاری چی کوشـــانیانو په هندی برخه کی دبودا دنمانځنی تینګار کړی دی.په دي‌توګه
په لر ختیځ متورا کی «دهوویشکاویهارا» په بله وینا دهوویشکا له‌خوا جوړ شوی کشیشی سمڅ مزد ك
شته و چی په ګنو پڑیو (مجسمو)سمبال و . دغو پڑیو دنورو په لړکی لوی پاچا کنیشکا دکو چیانـــی
پراخو سپرلی کالیو له اوږدی توری‌او ګورز سره ښوه کټ مټ لکه‌پر سکو باندی چی دشاهانو څیر ی
کښل شوی وی .

دمتورا پڑیو دیوه داسی پرتمین‌هنر پیل وچی دختیز افغا نستان اوهند دګډی سرحدی سیمی ګندهارا

په نامه نومول کیږي .ددویمی اودریمی پیړۍ له ګڼو بودایی سپیڅلوځایونو څخه ژوندی ننداری (صحنی او همدا راز دسلیټ بیلا بیلی پڅکی‌را پاتی دی . دوی دمهایانا بودیزم(۱۱۹) داسی افسانی څرګند وی چی په هغو کی پخپله ددین بنسټوا لدنورو تر څنګه خدای شوی دی اوله انسانی او ماورای انسانی ښواو بدو سره مخا مخیږی او زغمی یی(۱۲۰) . هندی لید توګی له باختر یونانی لیږدنو (روایاتو) او رومی وارداتو سره تړون مومی . کالی اووګړ دولونه له هندی لنګونو څخه دمنځنی اسیا دسپرو کمیسونو او پرتګونو ته اوړی . دګندهارا هنرمخپورته تر کابل ناوی او کښته ترجلال آباده رسیږی ځینی یوستوی آثار دشمال او لویدیځ خوا ته پسی‌رالیږدول شوی دی .مګر په غزنی‌هیواد کی داسان کار وړ سلیټ پر ځای لانور هم پاسته توکونه (مواد)ګچ او خټه را منځته شول چی په دی توګه تری په ګندهارا سیمه کی رغول شوی پڅی دموسونـــــی‌بارانونو بلهاری (قربانی) شوی‌دی.

دبخدیانا او همدا رنګه دهند و کښی دسویل په موند لو ځیزونوکی‌انځورونه او خاورینی پڅی لید ل کیږی .په دلبر جین کی دیوسکورمزدك پر یوه شیو ایی او پاروتی‌مزدك اوښتی دی چی داتکی دنمنځ انځورونو (پرستش تصویرونو) لـه‌مخی روښانه شوی دی . دکلا دیوال‌ته په څرمه پرته کوټنۍ Kapelle دکو شانیانو دبنسټوالو انځورونـه‌په سترګو لګیدلی دی . ددوو پڅیوراپاتی ټوټی داسی خدایی ځیـــری رانښیی ښایی بیا هم یونانی ،باختری‌آره (منشاء) ولری .

په بګرام کی چی دلرغونی کاپیسا‌په اړوندی دافغا نستان پخوانـــی‌استو ګنځی دی (۱۴۳) ، فرانسـی لرغو نپوهانو (۱۹۳٦ ـ ۱۹٤٦) دنورو ودانیو تر څنګه دوی خونی‌هم‌رابر سیری کړی چی لـه راز راز هنری آثارو څخه ډکی وی (*٢٦)لکه هندی پیلنا ښونه (عاجونه) ،چینی لاکی لوښی ،یونانی کریستالی کارونه ،سکندری‌کټوری (ګیلاسونه )او دهیلنی (یونانی) پڅیو (مجسمو)دتویونی ګچی کینډۍ (قالبونـه) (۱۲۲، ۱۲۳) دغه ټولون (کلکسیون)دکوشا نیانوپر وخت‌ځای پرځای‌شوی‌اود ساسانیانو له یررغل سره پری خاوری اړول شوی دی .

دکیندنو په ترڅ کی دبر کوشانی‌ښارونه او مزدکونه جوت کړ شوی‌دی ،لکه دګندهار زړو ښار ،دوردګو (خوات دری) یو استو ګنځی ،د سرتپی دو باخ کاروا نسرای (رباط) دسردار تپی یا هډی سمڅ مزدك او په کابل ناوه او جلال‌آباد سیمـــه کی نور بودایی ځایونه (۱۴۷،۱۱۸،۱۱۷) .

دآمو سیند په شمال په تیــره‌ترنداو آیرتم کی دهغه مهالپیر اثاررامنځ ته شوی دی چی خورا ښکلی بیلګی یی دګندهارا دغوره ترینـو‌پڅیو یاد راتاندوی ، لکه داغزنی‌ونی دپاڼو په منځ کی دآیرتم اووه متره اوږده ښاپیری له سازیانوسره‌اویا دفیاض تپی پرتمین دری‌غوندیز بودا له دوو شاګردانو سره او د تر مذ بودایی سمڅ مزدك .دغــه بودایی ځیره په بستر خونه کی دانځورلیو خدایانو مخی ته ولاړه ده چی کوشانی کالی لری .سرونه یی‌بیا دباختری یونانیانو ژوری اغیزی‌ښیی .په ترمذکی دقره تپی دبودایی سمڅ مزدکونو دپڅیو دول دال دومره‌ښه خوند را پاتی نه دی . دغـه دواړه مـزدکونه ستوپی هـم لری. دګوشانی مهال دموندنو له پلوه دلورسین تپی ښار پوره شتمن دی‌چی خاورینی پڅی او خدایی ځیر ی پکی ټوټه ټوټه را برسیره شوی‌دی دکـو شا نیانو بید اوښتونـــه ښایسته ډیر بهر ته وړل شوی دی. ان دمغو لستان دنوین‌اولا Noin—Ulla دهونانو په مړستو نونو کی رابرسیره شوی توکونه (مواد) ښایـی باختری ـ کو شا نی آره ولری .

سوغدیانا او همدا رنګه خوارزم‌داسی بریښی چی‌په دویمه یاددریمی‌پیړۍ په سر کی دغرنی هیواد دوا- کمنانو له ښکیلنو څخه ولی اوسی.متی دپارسی ساسانی واکمنی لــه جوړیدو سره کوشا نیان بیر ته را-

وتمبیدل او خوارزم بیا لوړتیـــاوموندله . پایتخت یې توپرك کلازیاتره برخه رابر سیره شوی ده. کوټ یې په ګنو پڅیو او دیوا لانځورونو ښکلل شوی و .دآموسیندپرګوزه غاړه دنورو کوټونو اواستو- ګنځا یونو یـوه بشپړه لـړی ددیځرګند وني اجازه راکوی چې بودیزم‌دخوارزم خواته دومره مخ پرورڅندی تللی نه بریښي .خوارز میان دخپل‌فرهنګ له پلوه زیات له ایرانـی‌دود سره اړوندی لری .

کوشانیانو له هغه راهیسی ځان‌نور دخپلو لویدیزو ګاونډیانو ،ساسانیانو تر پر له پسی فشار لاندی لیده ،چې لومړی شاهپور (۲۴۳ ـ ۲۷۳) سیستان ونیو او تر اباسینه‌پوری یې‌ددغه هیواد نیواك (اشغال) دخپل سیاست دموخی په‌توګه اعلان‌کړ .دساسا نی پاچا مرستیا لانو چې‌څو څو ځله یی شاهی واګی ترلاسه کړی وی ،په ختیځ اوښایې دهیلمندپر غاړو یا په هرات کی د «کوشان‌شاهانو» په‌توګه ژوندکاوه .دتاریخ په اوږدو کی زیاتره شخړی دغزنی‌هیواد دځکنیو شتمنیو اود هند اوچین خواته دسودا ګری لارو له کبله منځته راتلی .دځلورمی پیړی‌نیمایی‌شاوخوا ختیز باختری ځمکو ته له‌شماله نوی وګړی رامات شـــول . ســا ســا نـی کوشان شاها نـــوکیدارایی شاهان پسی واخیستل چې‌یوه کوچیانی وګړو ډله وه او ښایی مرکز به یی په کار شی Karshi ګړی (واحه) کی و .ددغه ځای ارکورګان په خپله غیږ کی دیوه‌ښار کندوالی راخیستی چی ۱۵۰ هکتاره‌لویوالی لری .کیداریانو داس ګوټکلونوپه اوږدو کی‌خپل‌سپاره‌ساسانیانو ته اړم کړی وه چې تور کمنستا ن‌دپارسیانو له منګولو څخه را خپل‌کړی.دوی داسی بریښي چې‌دخیونیانو لوړ پوړیی رغولی او ښایی دهونی‌پراخی وګړ ډلی ددغی پښی شاهی‌پلرینه اوسی .

دویم شاهپور (۳۶۸ ـ ۳۷۸) دکیدارایانو اوپرکابل واکمنو کوشا نیانو پر ضد لښکر وکیښی. دبخدیانا او کابل ناوی ښاورونه ـ (مشی تپه ،ترمذ (۲۷*) دلورسین اونور استوګنځایونه وران ویجاړ شول کیداراـ یان دلاسکتوو په توګه دپار س ترښکیلاك لاندی راغلل او کوشا نیان‌نورهم پسی دخپلو هندی تولوالیو (متصرفاتو) خواته شا تګ وکړ .څو لسیزی وروسته دهونی سپـروڅپان بیا را سر شو .کیدارایان مخ کښته هند ته وکښید ل او ساســانیانو دپنځم بهرام (۴۲۰ ـ ۴۳۸)ترسر غندویی لاندی یو ځل بیا مخ پر سوغد یانا واچول . دهونا نو یوی‌نیوا ککړی (اشغا لګری) تبر ډلـی‌کیدارایان پسی واخیستل او یو څو لسیزی یی پر کشمیر او پنجا ب‌باندی دمرګ وژوبلی یو ناتار ګډکړ .یوه دویمه ډله غرونو تــه وتمبیده او دبدخشان شاو خوا ته‌یی دیفتلیانو په نامه سره تبرونه‌راتول کړل چی تر ۴۵۰ وروسته یی له غزنی هیواد څخه دلویـدیځ اوسویل خواته مخ پر وړاندی ولاړل.یوه ډله چی ښایی پرخیو نا نواړه لری ،تر ۴۸۵ وروسته کابل ناوه‌او ګندهارا ونیول ،ددوی سردارانوتر ۵٦۰ پوری یو ډول سکی خپرـ ولی‌چې پر هغوباندی دمیښی سرخول‌لرونکی څیری او NSPK کښل‌شوی وو .

یفتلیا نو یو ګڼ شمیر سوغد ی‌دولتونه لاندی کړل ،ساسا نیان یی‌بیر ته پر شا وتمبول او ډیر ځله یی به تریا لیتوب سره په پارس‌کی دتاج وتخت جګړو ته وروداننګل،هر ګوره ددوی اړوندی شخړنه ده. ددوی لیکني په‌تیره سکه یی‌متنونه‌په هماغه ختیزه اریانی ژبه راپاتی‌دی‌چی کوشا نیانوهم کاروله .ددوی لویو شاهانو په توګه دبد خشان په‌څږ ځایونو کی ژوند کاوه او دخپلوهغو لاسکتوو وګړو اوتبرونو پروتپه (اقتصاد) او فرهنګ یی دومره نه بلو سل چی په جلا جلا کوچنیـــودولتونو کی په اسانه اداره کیدای شول .

متی کله چی دشمال ختیځ لـه‌لوری نوی وګړنی څپی او هغه هم‌داځل تور کی پرګنی راوتور بدی ، یفتلیان د۵٦۵ شاوخوا پر هندوکښ‌اوښتل او پـه کابل ،زابلستان ،کپیشی Kapishi او غرجستان کی ځای پر ځای شول .

په سوغدیانا او بخدیانا کی تورکی واکمنی دیفتلیانو له هغی سره کوم توپیر نه درلود . تر ۵۸۸ وروسته تورکی ټبرونه په ننی شمالی افغانستان کی نوکی ښخی کړی اود کابل له خوا «تور کشاهی» کورنی پر ختیزو اریانی ټبرونو واکمنی چلوله .لاان په اوومه پیړۍ کی دلویدیځ له لوری راتوییدلی عربان دتورک یفتلی سردارانو تر لاس لانـدی ځمکو ته را ورسیدل .

له فرهنگی پلوه دیفتلیانـو اوتورکانو تر واکمنی لاندی پیړ ی پیړی دویرو توکونو (عنا صرو) د یوی گډ ولی په خم کی رنگینـــوی .دایران له خوا دساسانی پیردلومړیو وختو دلرغونی اریانی دین دیوه سه‌و نوال مانی زده کړی راتمبیدلی وی‌او بودیزم یی پرمخ بوت.زوروانی اونورلرغونی اریانی مذهبی دولونه پر ځای پاتی وو او همدار نگه مزدك تولنیز انقلابی زده کړه‌دکډوالو له‌خوا چی له ساسانی دولته یی غروته راتښتیدلی ،راوړل شوی‌وه .مسیحی کلیساوی او خانقاوی‌په مرو او دسوغدیانا په ښارونو کی تر قرغز ستان پوری پراختیـاموندلی وه.خو بیا هم بودیزم تـرټولو پیاوړی و چی دگوتما Gautama له‌زده‌کړی سره‌یی دیرلږ گډون‌لاره. بودیزم به په پنځمه او شپږمـه پیړۍکی خپلی لوړ ترینی سمسورتیا ته ورسید او له تبته نیولی ،ترچین‌او جاپان اوان دمغو لستان تر کومی‌پوری یی مذهبی نړۍ اغیزمنه کړه.

مگر بیا وروسته په بخدیانا اوسو غد یانا کی بودیزم له پښـــووغور ځید اود کوشا نیانو له خـوا ښایسته پوره پالل شوی شیواییزم‌او همدا رنگه صو فیانه ډلو ټپلو(فرقو) پسی وده وموندہ. دغه خبره تر هر څه مخکی دهغو درو سـرو بودایی چینیانو په یو نلیکونو (سفر نامو) کی‌پوره څرگنده شوی‌ده چی‌پر اسیا باندی هند ته تللی وو اوخپل‌هیواد ته تر ستنیدو وروسته یـی‌دلویدیځ پر هیوادو باندی لیکلـی گزار شونـــه وکښل . فاخسیان Fa-hsien چی ۳۹۹ او ٤١٤تر منځ په منځنۍ اسیا کی تمیدلی و ،د ۱٤۰۰ خانقاوو (سمڅ مزدکونو) یادونه کوی او همدا رنگه سونگ‌یون Sung Yun چی د۵۱۸ او ۵۲۳ ترمنځ یی سفر کړی و ، پـه بودایی زده کړه کی ددغو هیوادوداوسید ونکو ټینگوالی ستایلی دی. مگر هیون څن چی له ۶۲۹ څخـه تـر ٦٤٥ پوری لـه منځنۍ اسـیاتیر شوی دی ،داسی گزارش راکوی چی زیاتره خانقاوی نړیدلی او دین‌ښووانو پوهه له لاسه ورکړی اوجادوگریو ته یی مخ کړی ده .

دافغانی بودیزم مشهور تریـنـه سیمه دبامیانو دره ده چی دغلتـه بودایی هنر مندانو دغره پر څوړی باندی د «رڼو لشوی» (بـودا) دوی‌پیاوړی پژی (مجسمی) کیندلی دی‌چی یوه یی ۵۳ (٥٦) متره او بله یی ۳۵ متره لوړه ده .دهیون څـن‌دگزارش له مخی دواړه په سروجړا وی وی (۱۳۱ ــ ۱۳۳) .دایوه داسی ښکلنه او ډول ډال وچی دشډلوشیروپر مخ تر سره شوی وه .ددغو پژیواوسنی انکړ دپیړیو هوایی اغیزو او انسانی زیانونو زیږنده ده . په دی‌لړ کی دواړه بودا پښی دنادر شـاه‌په امر په توپونو ویشتل شوی دی. له بده مرغه دځینو پخو گوزارونوله کبله یی دری کوچنی قبی داسی‌زیانمنی شوی دی چی پسو لیز ی ښنی ښبانی یی دومره نه نه پیژندل‌کیږی .دلوی بودا دسمڅی پرښـــن‌دیوال سره بیلا بیل بودایی سمڅ څله ځایونه جلا کوی (*۲۸) دغـه څله ځایونه لکه دککرك ناوی نژدی‌نمنځ سمڅی یو مهال ســر تر پایه انځورنی شوی وی . همدا راز دبودا‌په سمڅ کی‌رنگه انځورونه لاخوندی‌پاتی دی چی دبودایی خدایگوتـــی (رب النوع) انگازه کوی . تر ښارپورته شهر ضحاك کلا پر پرپښـوولاړه ده چی ان دمغولو دتاړاك تر مهاله استوگنه وه .نوره سمڅ څله‌ځایونه په غزنی ،جلال آباد او ایبکو کی څرگند دی . هلته هم له ډبری څخه یو توږل شوی ستو په شته (۱۳٤) ودانیز توکی (تعمیری مواد) بیا هم خټه ده چی زیاتره په ښـا یسته رنگو نو رنگول شـوی ده .په دی لړ کی فرانسی لرغو نپوه‌دفند قستان دځله ځای په بورجلونو

کی دځلور څنډی انګړ چاپیر ودان‌شوی دی ، دبــودا او یستـــوا Bodhisttva پړی اوهمدا رنګه دبنستوال څیری اود انځورونو توټی‌وموندلی چی دسپړمی او دلمبـــر دخدای ښکارندویی یی‌کوله (۱٤٥، ۱٤٦) .

دمرنجان غوندی په ځله ځای‌کی‌له بده مرغه تش دپړیو توټی لاسته راغلی دی ،حال داچی افغانی لرغو ـ نپوهانو دهدی داوښ غوندی په‌ځله‌ځای کی خورا غوره پړی رابرسیره‌کړی (۱۲۸ـ۱۳۰) ستوبی له پړیزو ـ سینګارونو او قببی له پړیو ســره‌داسی ښکاری چی په هماغو پیړیــوکی به رامنځته شوی وی. یوه قبه بودا په سمندرکی دنګاراجا (دمارانوخدایګوتو واکمن) تر څنګه ښیی ،دا یوه داسی کم پیښی نندازه ده چی دتوړلی انځور په توګه انځورل‌شوی‌ده .یوه ورته انځور نه وړاندی دشمالی سوغدیانا په پنجیکنت کی لیدل کیږی .

یوه لړی خاورین توړلی انځورونه ایتالیایی ډلی دغزنی دسردار تپــــی(*۲۹) دځله ځای په کوټنیو کی را برسیره کړل (۱۳۵ ـ۱٤۲) .په دغو بودایی انځورنو کی دیوان (*۳۰)اوپه پارینیروانا Parinirwana کی دیوه غځیدلی بودا خورا ستره پړی(مجسمه) پر سترګو لګــی (۱٤۸ ،۱٤۹) چی اندول یی دسویلی تا ـ جیکستان داجینه تپی په ځله ځای‌کی رابرسیره کړ شوی دی .(*۳۱)هلته دوه ځلور څنډه (مربع ګانی) یوتړلی ودانیز غونډ (توږلځ) جوړوی‌چی لمو نځخونه او ستو په او یوه‌ستره انځوریزه جوړونه لری ،خو له انځورونو څخه دومره څه راپاتی نه‌دی .همدا راز دکلای کافر نیهان په Kalaiy-Kafirnihan مزدك غونډ کی یوازی دانځور لــــوپیکرونو یوه برخه او څو خاورینی‌پړی راپاتی دی .

همدا رنګه ددغه مهال له بودایی‌مزدکونو سره دمروی ستو په او دبودا دستری پړی توټی اړوندی در ـ لودای شی . له دی څبری داتکی‌جوتیږی چی بودیزم دساسا نیانوپه‌سرحدی ګړی (واحه) کی هم پښــه ټینګه کړی وه .دبودا څیری تــــه‌څرمه کونډاله (ګلدان) دیوی سا نسکریت لاسلیکنی پاتی شونی را ـ خوندی کړی دی .پېر دغه کونډاله دیوه سوغدی (؟) مړی دود رنګـــه انځور شوی دی .دمړی دودله هغی بودایی لاسلیکنی سره‌دومره اړوندی‌نه لری چی په کونډاله کی اینبوول‌شوی ده .دکونډالی انځور دلاسهرو نمنځونو (عبادتونو) یو سیمه ییـــزتوپیر راښیی په لرغو نپو هنیز ی(ارکیولو ژیکی) موندنه کی هم په څرګنده بریښی .داسی ایسی چـــی‌سوغدیان دومره پر بودیزم ولاړ نه‌وو .چینی ګرځندوی هوای چاو Huei-Chao چی ۷۳۰ کال شاو خواله منځنی اسیا راتیر شوی دی ، دغرنیو هیوادونو یو رنګا رنګ انځور کاږی .دآمو سیند په سویل کی له بودایا نو سره مخامخ شوی او بـــامیان یی دیوه ایرانی پاچا ،یا په بله وینا دیوه فان یین نومی سرغنه ترواکمنی لاندی آزاده شاهی سیمـــه‌ښوولی ده .په ګندهارا ،کاپیسا ، تخارستان او زابلستان کی توکویه Tu-Kuah (تورکانو) پرهو Hu (ایرانیانو) حکومت کاوه .ده‌نګه ایرانی دولتونه ان An (پارس) څاوشیه Tsaoshih (تاشکند) ،شیلو Shi-lo (سوغدیانا ؟) می Mi او کنګ K—ang(سمرکند؟) ښوولی او زیاته کړی‌یی ده «په دغه شپږو هیوادونو کی په تولیز ډول زر تشتیزم دودلری اودبودا زده کړه څوك نه‌پیژنی‌او یوازی په سمر کند کی یو بودایی ځله ځای او یو کشیش شته دی.» لرغو نپو هنیز ی موندنــی ده‌یادونی تایید وی ،لکه ددلبر جین دوی کوټنی چی په څرګنده توګــه دتورکی ـسوغدی اغیزو ښکارندویی‌کوی .په دولسمه کوټه کی یــو تورکی ـایرانی خدایګوتی لیدل‌کیږی‌چی‌دری لمونځغاړی ورسره له سره‌تر پښو انځورل شوی دی اوپه ۱٦مه کوټه کی‌یولړ داسی تنداری (صحنی)شته چی‌په هغوکی څیری له تاجونواو نکلیو خولو نو او جشنونو سره لیدل کیږی،لکه څنګه‌چی دسوغدیاناو شمالی تخارســـتان دکوټونو اومزدکونو ددیوال انځور ګری له‌مخی

ACKU

هم ځرګند دی .دساری په ډول یوه‌جشنی ننداری له ۴۷ تنو سره ددبالایك تپی دکوټ لویه خـــونه ده چی له ترمذ څخه ۱۵ کیلومتره‌واټن لری ،ددغی کلا پرتمین جوړښت‌دا اټکل په لاس راکوی چی دمروی دناوی په ګنو کلاوو کی دهنر ی‌کارونو څومره لویه شتمنی پرتـه ده .داچی په برکوت کلا اود سوغدـ یانا په‌استو ګنځایونو کی به‌څومره‌اثارولی وو ،له سپیوو کندوالوپرته‌تری نور څه پاتی نه دی .دورخشا مانی انځورونه بیا کورټ بل‌رازدی،دغه‌ښار دبخارا دناوی هماغه پخوانی‌پایتخت و چی نن سبا به شګو کی ډوب شوی وران ښار دی . «سورسالون» په اخوا دیخوا راڅرخیدلـودیوالی چوټیو ښکلل شوی دی چـی هلته یوه ننداره څو ځله ښوو ل‌شوی او هغه په هندی کالیو کی‌یو پیل سپور شاهزی ښیی چی له زمریانو ،پړانګانو او نور دښنو سره‌په جګړه کی دی .دپاسه وربانډی‌یو توتی توتی توتی را پاتی چوتی او پر هغه بیا دیوان یا خدایان پر ژویوولاړ ښوول شوی دی . یو دویـــم‌سالون دنمنځ او تخت په انځورونو ښکللی دی .

بیا هم هغه انځورونه یو ځانته‌جلا ډول دی چی دزاړه سمرکند دافراسیاب دورانو پر غونډی بانډ ی په یوه څلور څنډی سالون کی پـرسترګو لګی .دغه انځورونه په بیلا بیلوننداروسره،دسمر کندی شاهانو کیسی کوی .پر یوه دیوال بانډ ی‌دسمرکند یو واکمن لیدل کیږی چی‌له تخار ستان څخه ورتــه ناوی رالیږدول کیږی .په انځورونه کی‌دآمو سیند دپاسنی سیمی د وګرودداسی کالیو او وسلو بیلا بیـــل توکونه (جزئیات) ښکاری چی پـــه نورو ځایونو کی یی دکوم اندو لڅرك نه لګیږی .پر یوه دویم دیوال بانډی کنښل انځورونه په شاهـــی‌دربار کی دبهرنیو استازیو یو لـړمیلمستیاوی ښیی چی په هغو کـــی چینیان، کوریایان او تورکان دیادونی وړ دی .

دریم دیوال دیوه چینی شاهنری یون(سفر) انځور وی او پر څلورم بانډی‌دکیسو ننداری لیدل کیږی . بیا هم تراوسه ټول موند غالی په پنجیکنت‌کی را ځاله شوی دی چی دیوه سوـغدی شاهی ښار په‌توګه دزرافشان په پاسنی برخه کی پروت دی .په‌سلګونو څلور څنډو کیلو متـــرودیوالی انځورونه دنورو په لړ کی داریانی اتلانو افسانی وړاندی کوی‌چی‌رااوروسته دفردوسی په شاهنامه کی کنښل شوی دی .ورپسی بیـــا یونانی افسانی اوهندی ژونی کیسی،هندی موسیقی هنرمندانی او هندویی‌خدایان ،چینی ګرځندویان او داریانا بیلا بیل خدایان انځور وی . ددووسترو مزدکونو په لړ کی پر یوه دادبودایی مخبیلګو پر بنسټ مـړی ساندی انځورل‌شوی دی،مګر دنیروانااله بودا سره اړخ نه لګوی بلکـی‌یوه داسی ځوانه ښیره ده چی خول یی پر سراینبی دی .په کلای ،قهقهه کی‌چی(په اوسنی شمالی تاجیکستان‌کی) دهغه مهال داسترا شانه پا ـ یتخت و ،دخورا ډیرو ښیره لرونکوجنګی او خدایی نندارو (صحنو) ترڅنګه له رومولوس Romulus اوریموس ، Remus سره درومی‌لیوه‌ګی یو یادګاری انځور هم لیدل‌کیږی .داټکل له مخی دغه لیوه ګی په اریانیانو اوتورکانو کی‌دجنګیالی‌غونډونو دلیوه نمانځنی او یا ګـــردسره دتورکانو دآری (نسب) کیسو دځلونی په توګه ارزول کیږی چی‌هلته یوی لیوه ګی‌دتورکانو آرنیکه له مرګه ژغوری .

دباختری ،هندی ،ایرانی اوتورکی‌موتیفونو یوه ورته ګډو له دمنځنی‌آسیا پر سپینو زرینو کاسو بانډی لیدل کیږی .مسیحی ننداری دڅلورلاسیو خدایګوتو تر څنګه ښکاری .دغه ننداری له یونانی نندار لیکونو (نمایشنامو) څخه را اخیستل شوی‌چی دسوغدیانو له خوایی ننـداره‌کیږی ،خو پر زرینو کاسو دهوناـ ورښتینی کوپړی ډولونه لیدل‌کیږی،چی له هندی ستنو اریانی نځاګریواو شاهی ښیرو سره پیوند ورکـړ شوی دی .دغه انځور ګری دساساـنیانو دنفیسو لوښیو تر اغیز لاندی‌دی مګر بیاهم تری‌په موتیفونو او

ACKU

تخنیکونو کی ښایسته ډیر توپیـرلری په سیستان ،مروی او تور کمنستان کی ودان شوی کوټونـــه او استوګنځایو نه لا تر ننه پوری‌شمال اوختیځ‌ته دپارسیانو دوړاندی‌تګ ښکارندویی کوی چی‌پر مخبیلګه باندی‌ورخشا په‌سوغدی سکواوټوکر ښلونی Stuckarbeit پسی ځی .

دمنځنی اسیایی دولتونو نـړ ی‌سمسور تیا هغه مهال وزمولل شوه‌چی عرب له لویدیځه دنیولی دساـ سانی ټولواکمنی پولوته راورسیدل،هغوی تښتیدو نکی شاهنشاه دریم‌یزدګر دترمروی پسی راواخیست‌مګر یوازی یی مثبی پر مړی لاسبری‌شول(٦٥١) .لاپر هماغه کال هغوی‌هرات‌ته راورسیدل اود غه سیمه یـی کال وروسته له سیستان سره یوځای په لاس کی کیوته .دواس‌کاله‌وروسته یی کابل ته سر راورسید اود یوه سیمه ییز روایت له مخی‌یی هغه لاندی کړ ،مګر لکه څنګه‌چی دیوی ګړنی روایت له مخــه څرګنده شوی ده . اوسیدونکـو یی بولنتون (ګارنیزون) ورته‌انګړی‌دنګړی کړاوپه دی‌توګه کابل،منځنی اوختیز افغانستان دری پیړی نورهم داسلامی ځواکمنی ترکړی بهرپاتی شو . دیوه لنډ مهال له‌مخـی له شمال ختیځه چینی لښکری پـرمنځنی آسیا را توی شوی او شړل‌شوی ساسانی ځای ناستی (ولیعهد) شاهزی یی دځپلو نیواکی پلانونـولپاره دلوبځی په توګه ګټور ګانه.تر اوږدو جګړو وروسته مثبی پـر ٧٥١ کال دلر قرغز ستان له تلاس‌سره‌پریکړه رامنځته شوه‌داسی‌چی دچینیا نو تور کی کو کلی لښکـــرو عربو ته ورودانګل او چینی لښکری‌وشړل شوی .

# پنځم-څپرکی

## داسلام په څپان کی

ترلوړیو عربی -اسلامی یرغلونوڅو پیړۍ را وروسته داوزبکو لهخوا دشمالی ټیټو سیمو تر نیونی پوری هغه وګړ ویش را جوړ شوچی تر ننه دافغانستان، بلوچستان، تاجیکستان اوزبکستان، ختیز ایران او تورکمنستان انځور ټاکی. ددواړوعربی او مغولی نیواکی څپو و نهشو کړای، داړوندو سو بمنانو وګړ وبیزی (اتنو لینکو یستګی) یوه رنګی منځ ته راوړی بلکی دختیځ اسلامی کیدنی دلوید یزی اریانی (پارسی) دراخپریدو لپاره لیاره اواره کړه، کټ مټ لکه څنګه چی مغولودتورکی مخه پاکه کړه. دلرغونی بخدیانا او سوغدیانا دښاری -دولتی اځواك په منځیو (مرکزو) کی سوغدیان، تخاریان، دساکانو وروستنی (اخلاف) او دپارسی شاهنشا هانو لښکری اړوندان اوپه خپله دراتوی شویو عربانو ډیرښتی (اکثریت) له لویدیزی اریانی (پارسی) ژبـــوتاجیکانو سره همر نګی شول. له ژبنی پلوه له عربو څخه نن سبا یوازی دلته او هلته یو نیم ټولګی پاتی شوی دی. همدا سی مغول همدرواخله. په شمال کی یو څو زره افغانان (پښتانه) تر ننه پوری دهماغو سوبمنانو په ژبه غږیږی چیپه دیارلسمه پیړۍ کییی منځنی اسیاتر پښو لاندی وه اوله تورکانوراپاتی لښکریانو یا خپل لوړ پوړ لهلاسه ورکړ اویایی خودوی راوشړل. همدا راز تاجیکانو او یا تاجیکـــیژبو هزاره وو هغه مغول له ځانسره همر نګ کړل چی ددوی پـه منځ کی اوسیدل -دلرغونو کوچـیوګړو دشمال ختیزی ژبی دهندوکښ له سویلی وګړو سره بیا پالوالی (وفاداری) پاتی شوی اوپه ختیځ کیسویل ختیزی اریانی، هندی اوزړی اریایی ژبی پاتی شوی دی. داهغه سیمی دی چی تر ډیره پوری یی له سلام سرهډغری وهلی او ځینی یی متتبی په تیره پیړۍ کیپه زور مسلمانان شول. کله چی پر ٦٥١ کال ددریمیزګرد مړی دعربو پهلاس کی کیوت، منځنی اسیا برخلیك لاسم ټاکل شوی نه و او یوه پیړۍ یی دعربـو اوچینیانو ترمنځ پر غرنی نړۍ اومخته پرتو لمنو جګړه روانه وهچی دهغه مهال دجهانی سوداګری «ګیډال» یی جوړاوه.

هغه دوه ستر ځواکونه را پرڅېدلي وو چي دغه سيمه يي سره په خپلو کي ويشلي وه او هغه دآمو شمالي هيواد او جلګو لويديز ته تورکي تولواکمني او ساساني دولت ووچي (٦٢٦– ٦٢٨ م) لومړي ځوا ك ددويم پر ضد دبيزانس دتور کانو ملاتړ له ځان سره درلود . پر پارسيانو باندي دبيزانتيانو له بري (٦٢٩ م) سره داسي بريښېده چي تورکان به دمنځني آسيا ښښتنا نکړي او اويو خانانو يي خو وخته له تور سمندرگي څخه بيا ترکوريا پوري مځکو ته خيته په اوبو کي ايښي وه ، مگر پر ٦٣٠ کال يي لوى خان ووژل شو او تولو اکمني يي پر لښکرو مخ پرلويديځ پر زړو کارواني تېرنيو سيمو توك توك شوه . چيني لارو راواچول. پر ٦٤٠ يي دتورفان ګړي لاندي کړي او پر ٦٤٦ کال يي کوچه Kucha ونيوله او پر ٦٥٠ کال په ننني قرغز ستان کي راخرګند شول .

کله چي عربو دايران او بيزارنتيني واکمني را پر ځونه دسو بون جنگ لپاره په کار واچوله او له ٦٣٦ راهيسي يي ايران ښار پر ښار لاندي کړی و، نو ساسا نيانو چين ته مخه وکړه ،دپيرو پاتوړي (وليعهد) شاهزى له شاهي گنج او اشرافي ډلي سره دختيځ لوي ځواك ته وتښتيد او هغه ورته يو لښکر په واك کي ورکړ چي دهغه په مرسته «پوسي Po-sse » دمينځ واکمني دولايت په توګه خپل ميشتځای وگر ځوی .

هغه مهال په ځوانه عربي تولوا کمني کي دځواك ګنبي جګړي تر سره شوي چي په پاى کي عربي لښکرو دمروى دګړي پوله تېنګه کړه اودمندی له مخي يي منځني آسيا چينيانو ته پرېښووه ،له ٦٥٩ تر ٦٦١ پوري «پوسي» تر سمندره غځيدنه وموندله او سوغديانا ،تخارستان او سيستان ور پوري وتړل شول .دعربو لپاره له تبته مرسته راغله اواړوندو لښکرو يي پر ٦٧٠ کال په تارم ناوه کي مخ پر لويديځ دچيني لښکرو اړيك لاړي پري کړي .چينيانو هڅه وکړه چي خپلي لښکري دفرغاني ناوى او قرغزستان له لارى راوليږدوي خو عربو پر ٦٧٣ کال پر بخارا يرغل وکړ او په سويل کي پرتو چيني لښکرو «پوسي» په توره تيښته خوشي کړه ، په تيره بيا هغه مهال (٦٧٩ م) چي يو ه نوى لويديزه تورکي واکمني دالتاى شاو خوا جوړه شوه .ددمشق خليفه گانو له خپلي شاهي واکمني څخه ٥٠٠٠٠ عربي کورني دمروى خواته ددښمنو توکمونو پرلوري واستولي چي هلته دسر حد ي ځواکونو په توګه چوپړ تر سره کړي او په دې توګه يي په منځني اسيا کي دعربي لړه کي بنسټ کېښووه .

دام البا داشرافي کورني ددمشق په شاو خوا کي يوه عربي واکمني جوړه کړه اوپه دې ډول يي لاسکتوى له دولتي ځواکه خوندي وساتل اوپه لوى لاس يي په عربي نړه کي پاځون رامنځته کړ. ددوی په وړاندي هم دحضرت محمد زوم علي (ك) په اړوندي دپيغمبر کورني پلويان «شيعته علي» (دعلي گوند) يا په بله وينا شيعه گان را پورته شول او هم دپخواني ديمو کراتيزم يوڅپان «خواج» چي «په اسلام کي هغه ځواکمن دي چي ښه گروهن دي ـ که څه هم يو حبشي مريي وی . افضل منکم من التقوى» يي شعارو . دغو دواړو ډلو په ختيځ کي انګازه وموندله او په بلخ او سيستا نکي «خوارج لوری» ايراني فرقي جوړي شوی چي دعربو مځکښي يي په رندوسترگو نه منله . په اسلام کي ځواك جګړي دختيځ خواته وړاندي تګ پيړي پيړي وځنډاوه . په ٦٩٤ م کي سوغديانا بيرته چينيانو ونيوه اوپر ٦٩٧ کال دختيزی واکمني لښکرو بيا يو ساساني په تخارستان کي دوالي په توګه وټاکه چي تر ٧٠٧ کاله پوري يي دعربو په وړاندي پاځون راوهڅاوه .

مگر په پاى کي پر ٧٠٥ کال يو پياوړى سالار قطيبه ابن مسلم داسلامي جنگي ځواکونو پولندويي پر غاړه واخيسته او پر بخارا ورغی او په يو کلنو جګړو کي يي پر ٧١٤ کال له آمو سينده تر تاشکنده تو له

سوغدیانا لاندی کړه . که څه هم‌عربو دیته پیل کړی‌و چې پر کاشغر غروروراوړی خوبولندوی یې ووژل‌شو اود سوغدیانو پاڅون سوبمنان تـرمروی پر شا وتمبول .دلته دشمال‌له خوا دتورکی خانوالی سپرو اود ختیځ له خوا چینیانو راودانګل‌اوپر۷۱۸ کال پر لـویدیز و تورکانـوبریالی شول .پر ۷٤۰ کال چې عرب بیرته راستانه شول ،دسوغد یانوزیاتره برخه اسلام ته راواوښته ځکه دچینیانو تر باداری ورتـــه له تالاس Talas سره‌خبره پرتخارستان اوزړی بخدیانا لاسبری‌شول او پر ۷٥۱ کال دقرغز ستان غوره وبریښید .پر ۷٤۹ کال عرب پریکړی ته ورسیده او هغه دا چې‌دقرلوقن تبرونو تورکی سپروچینی لیکی پریښووی او له عربو سره‌یو ځای شول . اسلام دایران پـرپراخو سیمو خپله واکمنی ټینګه کړه دعربي واکمن پوړ (قشر) ترڅنګه دایرانی مسلمانانو یو پرله. پسی ډیر یدونکی شمیر رامیدان ته شواودچا خبره په «عباسی انقلاب»(۷٤۷ ـ۷٥۰) له عربو سره خپله‌حقوقی برابری تر لاسه کړه .مروه دام الیادن Umajjaden ضدپاڅون‌منځی وه .دلته ډیر بریالی لښکرچی‌عباسیان یی‌داسلامی نړۍ واکمنان کړل ، دابو مسلم خراسانی ترمشری‌لاندی جنګیدل . ده نوی مسلما نشوی خراسا نیان په خپلو لیکوکی وو اوډل .نوی خلافت له ټولی‌عربی‌مخواکی سره سره دایرانی او په‌تیره دمنځنی آسیا یی پاتوړو (وارـ ثینو) په ملاتړ پیاوړی و .

نوی میشتځای بغداد دګرد ښارپه‌ډول جوړ شو چې پر یوه ګومبز لرو نکی څلور ګوټی ماڼی را څرخیده . خلیفه ګانو په اریانی مخبیلګه واګی‌چلولی او ایرانی افسرانو ،ځمکوالاو پوهانو ته یې په ځواك کی ونده ورکړه ،دساری په‌ډول ،لوی وزیران‌یی دختیزی اریانا دیوه بود څله‌ځای (خانقاه) له پاسوالی بر مکی کورنی څخه وو . دهارون الرشیدتر مړینی (۸۰۹م) وروسته دایرانی‌لښکر مشر طاهر په رسمی توګه دخراسان واګی په‌لاس کی واخیستی‌او نوی پارسی دښاروښو ادبـــی‌ژبه شوه .عربی یوازی دینی ژبه پاتی شوه اودشمالی افریقا یاسوریی‌غوندی کومه عربواله (عربیزم) رامنځته نه شو .منځنی آسیا خپله اریانی ځانګړ تیا خوندی وساتلـه‌او په اسلام کی یی دتصوف او دروحانیونو دنمانځنی دودونه رامنځته کړل . دعربي اودغه مهال دجزمی‌اسلامی ګروهی اړوند وایرانی ځمکو الو پر خلاف دبزګرو او ښاری‌بیوزلو پاڅون فرقه یی لوښـه (خصلت)واخیست .

دمحمد (ص) په اسلامی دین کی‌دبل کوم پیغمبر ځای پاتی نه و ،خو بیا هم مکیانو داسی انګیر له‌چی ګوندی «دپیغمبر ټاپیان» دی . پر۷۷٦ کال هاشیم بن حاکم دهنـدی‌ګر ځنده ملایانو اومانی دین ښووانو په سبك په مروه کی ځان دهغه بیازیږیدلی خدای په توګه راڅرګندکړ چې دادم ،نوح ،عیسی او محمد تر مخه و ،دمنځنی اسیا دخلکو لپاره‌دا نوی لاره بودیزم او نورو هند ی‌مذهبونوته پیړۍ پیړۍ وروسته‌چی داروالیږد زده کړه یی ورته کوله ،یو څه اشنا غوندی بریښیده ،دوی‌ډلی ډلی پر نوی لارښود ورما ت شول ،دغه لارښود دسوغدی اشرا فیت ملاتړ هم تر لاسه کړ خو عربی‌لښکرو په خونړیو ټولو ژنو (۸۳/ ۷۸۲) سرغاړی (شور شیان) وزمو لل،پر ۷۹٤ کال او بیا له ۸۰۹ تر۸۱۸پوری او سترا شانه (اوسنی تاـ جیکستان) را پورته شو .مجازاتی‌استازیو وروستی بودایی مزد کونه‌او بی شمیره کلی او کوټونه لـه خاورو سره خاوری کړل او جزمیت‌داسلامی دولت په چوکاټ کی‌سازمان‌وموند .

په منځیو (مرکزو) او کلیو کی‌مزدکونه (جوماتونه) جوړ شول .له‌دغی لړۍ څخه په بلخ کی دعباسی پیرد داسی پرتمینو ټوټـه ی‌ډول‌وډال لرونکو ستنو او تیرانو څرګ‌لګی چې پر یوه شل متره څلورڅنډی نه ګومنبز ی دالان پوری یی اړه‌درلوده .یوه داسی ودانی چی‌پخوانیوپارسی ستنی لرونکو دالانو ته ورته وه .دمزدکونو دغه راز ټوټه یـی‌کارونه ه ساسانی هغو سره هـــم‌اړخ لګوی . خو بیا هم دافراسیا ب



ACKU

(سمر کند) له لرګی تو‌رېنو او د تاجیکستان له لرګین کاریو او همدارنګه داو بوردن Obburdon له مزدك سره ډېر نژدی ورتوالی لری.

په مروه اونیشا پورکی دطاهریا یانو ددولت رغاونی په وړاندی چی‌دطاهر پا یڅوړان (اخـــلاف) وو ، دسیستان ښارونه را پاڅیدل . ددغه خلکو سوداګری ګټی دخوار جــــې‌چی‌تېرونو دمخواکې تر ګونډو لاندی شوی وی . یعقوب بن لیث صفار«تپتار» وسله والی ښار ژغورنـــی‌سازمان کړی چی پخپله یی دبازار په سودا ګری او کسبګری برخی‌اړه درلوده . لنبکرو یی خراسان په‌خپل واك کی راوړ او مخ پر ختیــځ یی‌ویرغالل .دزا بلستان سرداریی‌په بند کی کیوت او پر ۸۷۰ کال‌یی کابل او بامیان ونیول . مګـر دلسمی پیړی دبخارا امیرانو «ساما نیانو» چی په دغه سیمه کی یو دریم اریانی ـاسلامی ځواك و ،صفاـ ریان خپل لاسکتو ی کړل .دامیرانوتېرنی پلار سامان خدا دبلخ ساسانی‌څمکوال و .بایڅوړان یی اسلام تــه راواوښتل او څه ناڅه یی دتاجیکانویو لاسی وګړ ډلی په رغاونه کی‌ونډه واخیسته .

د۸۰۹ م شاو خوا دطاهر یانـــوغوندی څلور سامانیان هم خپلوا ګـوالیان شول او په هرات ،سمرکند تاشکند اود فرغانی په ناوه کی یی‌واکی چلولی . سامانی دولت چی پر۸۷۴ کال‌په زور سره یوموټی شول، نژدی۱۵۰ کاله دمنځنی اسیا سیاسی‌زړه بلل کیده . دبخارا پایتخت‌دسو داګری منځی ته لوړتیا وکړه او په پوره برم او پرتم ودان شو .همدا رنګه دهندو کښ هیواد هم تر قر غز ستان پوری پراخه اقتصا دی سمسور تیا وموندله . دسامانی سو داګرو سر تر ختیز سمندر ګی اودهند او چین تر دننه پوری ورسید. کاروانی بهیر ونو دکاروانی لارو امنیت سمبالوه او داوبه خور په‌لارو چارو سره ددغه هیواد کرکیله سمه شوه ، دلری سوداګری لــه‌کبله کسب وکار پرمختیا وموندلــه‌او هرات ،مروه ،بخارا او سمر کند دهغه‌مهال دګجی‌له مخی سترښارونه بلل کیدل چی په هغو کی دکسبګری‌زاړه دودو نه پر کار ولویدل . له سامانی پیره ډیری لړی ودانی را پاتی دی چی له‌هغو څخه په ځانګړی‌ډول په بخارا کی دامیرانو کیڅلیك (دمزار لوحه) دیادونی وړ ده ، دبلخ جومات هم په دغه اړ کی‌راځی.

دمنځنی اسیا په‌یوه بیخی لرغونی‌دود پــوری دنهمـــی پیړی قر قزمانی اړه لری چی دڅلورو ډیوډیو په مرسته پر څلورو برابرو برخوویشل شوی څلور څنډی ودانی ده.دمنځنی آسیا ښارونو په خپلو اوـ بدانو ،کاشیواو درستو نوم ایستلی‌و چی کسبګریی له سوغدی اوتخاری‌کورنیو څخه وو . لا پیړی پیړی سوغدی ـتخاری‌تخنیکونو اوموتیفونودمنځنی اسیا لاسر غاویز هنر تاکه‌مګر ښارونه په پر له پسی پیاوړی ډول اسلامی کیدل او لویدیز اریا نیان ،تورکان او دغرنیو وګړو اړو ندان سوغدیانا او تخارستان تـه راتلل . دمنځنی اسیا په ښارونوکی سوغد یان او نوری ډلی تپلی‌دلرغونی باختری سیمی له لویدیز اریانی اوسیدونکو سره واخښل شول‌او په پای کی یی تاجیکانو ته وده‌وموند له‌چی لویدیزه اریانی «دری» یی ژبه شوه او هغه مهال یی لــه‌تاکلی لیکنی بڼی سره دادبی ژبی‌پوړی تر لاسه کړه .ختیزو اریانی ژبو په شاو خوا سیمو په تیــره‌دهندو کښ پامیر او بدخشان پــه‌غرونو کی ځانونه تینګ کــړل ، شاعرانو ،پوهانو اودین ښووانو یه تاجیکی او همدا راز په عربی ژبه لیکنی وکړی .

دروپوهانو بیا دسامانی دولـــت‌ړنګید نه په خپلو ستر ګو لیدلی‌وه چی دهندی ،پارسی ،سوغدی او نورو روایتونو مانیزی سپیڅلتیا یی‌ددوی دکار بنسټ جوړاوه .فردوسی‌طوسی (۹۳٤ ـ۱۰۲۰) په ۶۰۰۰۰ بیتو کی شاهنامه وکښله چی ډیری‌ختیزی اریانی افسانی یی له‌ساسانی نیټه لیکونو سره پیوند کړی دی .

یو دورو ستنیو ساما نیانو له پلو یانو څخه نومیالی ابو علی الحسین‌ابن‌عبداله وچی‌له ستاینوم ابن‌سینا څخه یی اوس داسی شننه (تعبیر)لاسته راځی چی پلار یی یو بودایی‌پایڅوړ و. ابن سینا لیکی چی‌پلاریی

له بلخه بخارا ته لیږدیدلی و اوهلته دامیر په چوپړ کی کارمندشوی و.شیعه مبلغینو چی په اریانی دود و دستور کی درنگیدلی اسماعلیـــه استازی وو، داابن سینالار اوورونه دځان بر خوا کړی وو او همدارنگه دده اثار داپلاتون تر اغیزی لاندیدهغو نړی انځوررونو ځلونه کو ی چی په اسلام کی دښاری فرهنگـی ځپان دښکارندوی په توگه دیادونیوړ دی . دابن سینا تر څنگه چیدساما نیانو له پر ځیدنی ســـره لویدیز ایران ته دجلا وطنی په هڅه ولاړ ،هر اړخیز تاریخپو هانـد اوپنځپوهاند (طبیعی پوهاند) ابوریحان البیرونی خوارزمی (د۹۷۳ زیږیدلی)و .چی دده داغیزمنی آرمهال ترسا مانی پیره را وروسته دی .

په کروند گرو کی دقرمطیانـــوداسماعلیه فرقی مبلغینو زیـا تمنونکی پیدا کړل، دوی دمزدك او هاشم بن حکیم له زده کړو سره په اړوندی دقران یو نوی تفسیر خپورکړی چی دټولو گرو هنو ترمنځ یی برابری غوښتله .ددوی په وړاندیسنی واکمنانو کرامیه فرقه ولاړهوچی زیاتره پکی بازار ی ورهښگـر راتلل او هغوی یی سره دورور ی په مزی تړل .

په لسمه پیړی کی بیا نارامیپیدا شوی . بزگری پاڅونونـو اوپوځی چپاولونو سره یو له بله را واخیستل او په ښارونو کی ورهښگرراوښوریدل . پر ۹٤٤ کال پوځ پهسر غړاوی لاس پوری کړ او پـه ۹٤۷ او ۹٦۱ کلونو کی دبخــــاراوسیدو نکی هم را پورته شول .هرڅومره به چی دامیرانو په خزانـــو کی پیسی کمی وی ، هومره به دپوځیانو خام باوری زیاتیدله . سر تیری او افسران زیاتره دشمالی او لویدیزو جلگو له تورکی ټبرونـوڅخه وو په دی توگه تورکی ژبیټبرونه یومخیزه دامیرانو پـه چوپړ کی راغلل او پر خدای (الله ) وگرو هیدل .

پر ۹٦۰ کال دیوی نوی کوچیانیواکمنی مشران «تور خانان» (قره ـخانان) چی پر قر لوقن ټبر یی اړه درلوده ، اسلا م ته واوښتل او دختیځ د «کافرو» خانانو پرضد یـیاسلامی جگړه سازمان کړه .دتاجیکی دولت تورکـی لښکرو پر ۹۰۰ کالصفاریا ن اړوندی او دی کارته اړایستل چی په سویلی او ختیځ افغاـ نستان کی سوبی وکړی . پر ۹٦۱کال الپتگین چی یو له تورکـــیجنرالانو څخه و،په بلخکی پهاړدوړ لاس پوری کړ . دی له غچ اخیستو نکی لښکر څخه دهند وکښ پر کو تلونو سویلی افغا نستان ته راوا وښته ، غزنی یی لاندی کړاو دتورکیمریبانو دولت یی جوړ کړ . لښکرییځای ناستی (جانشینان) وټاکل ،تر څو پر ۹۷۷ کال سپکتگین دغزنویانودلړی بنسټ کیښود . غزنویانو دقره خانانو په هملاسی ساما نیان راوپرځول (۹۹٦ــ ۱۰۰۱) .په غزنیکی ترمخه یویفتلی سردار واگـیچلولی .په سویل کی ددوی سـتـر بدان (حریفان) بیا هم دکابل هندوشاهان وو چی دسختو جگړو په ترځ کی تر کشمیره وځغلول شول . په دیتوگه په کابل ناوه کیدنااسلامیتاریخ پای ته ورسید ، داسی یـوتاریخ چی تر اوسه پوری یی دومره پیژند گلوی نه ده شوی .

پاس یاد شوی تاریخپو هانــدالبیرونی په خپل «تاریخ الهند» کی لیکی :

«هندوکښ داسی شاهان درلودلچی میشتځای یی په کابل کی و .دوی هماغه تورکان وو چی له تبته راغلی بریښیدل .په دوی کیلومړیسړی برها تکین ... دکابل شاهانوپه نامه واگی چلولی .ویل کیږی چی ددوی واکمنی څه ناڅه ٦۰کاله اوږدوالی وموند ... وروستنی یـیلقه تورمن وچی وزیریی کالار Kallar نومیدهاو یو برهمن و ...»

وزیر وروستی تورکشاه هیسته کړ او شاهی تخت یی ونیو . پـه هغه پسی برهمنی شاهانو سمند ، کمالو بیم Bhim ،جیپال Jaipal انندا پالا Anandapala او تاروـجاناپالا Tarojanapala حکومت کاوه .وروستنی یی پر ٤۱۲ لیږدی(۱۰۲۱ زیږدی) کال ووژل شو اوزوی یی «بیماپالا Bhimapala »

پر ٤۱۷ لیږدی (۱۰۲٦زیږدی) کال‌له منځه یوړل شو . .

په ۸۷۰ زیږدی (میلادی) کی دسیستان امیر یعقوب بن لیث دزا بلستان پر پایتخت غزنی ویرغالل او پر کابل یی تالان ګډ کړ .ویل کیږی‌چی دکابل بوتان هغه مهال دسوبی‌دنښانو په توګه دبغداد دخلافـــت در بار ته واستول شول . کــــال‌وروسته هند وشاهان بیر ته راغلل‌او ښایی مشر به یی هماغه کالارو چی‌په نهـه پیړی کی‌یی تورکشاهان‌راپرځولی وو. ددوی دواکمنی پیرپه باره کی هماغه یاد .شوی‌چینی ګرځند وی کونګ Koung (۷۵۳ شاو خوا) لیکلی دی . دی دکپیشی (کاپیسا) دولت شنی چــــی ژمنی میشتځای یی په ګندهارا کیو . همدار نګه کشمیر هم دتوکویو Tu-kueh په واکمنی پوری اړه درلوده . کاپیسا شاهانو بودایی‌مزدکونه جوړ کړی وو .همدا رازدهوی ـ سوس Huei-chaos یونلیك (سفر نامه) دتور کشاهانویادونه لادمخه کړی ده چی پز بودا بیانو بیا په بله وینا دبرهما اوجینا

پر اړوندانو یی واګــی‌چلولی ،ده هلته لوڅ راهبان لیدلی‌وو چـی مـرکز یی هیس پی توفله سی His-pi-to-fa-la-sse وچی‌ښایی دبګرام (لرغونی کاپیسا)ننني‌سکندر تپه اوسی .هو نځنګ

Huan-tsang دلسګو نو بودایی‌مزدکونو یادونه کوی چی ترڅنګه‌به یی هرو مرو دنورو هندی مذ ـ هبونو مزدکونه هم وو . ډیر رنګا رنګ برهمنی نمنځ انځورونه پـه ننني ختیز افغا نستان او ګندهاراکی موندل شوی دی .ایتالیی کیندو نکوان دسر دار تپی په بودایی سپیڅلی‌ځای کی ددورګه Durga پژ ی (مجسمه) را برسیره کړه .تر شلوزیاتی مرمری برهمنی بوتان تراوسه‌خپرونی ته سپارل شوی دی ،لکه واخلی دخیر خانی داوومـی پیـړی‌سوریا ،دګنیشا Ganesha دوه‌انځورونه چی لاتر ننه پوری پــه کابل کی دنمنځ انځورونو په توګه‌ورته کتل کیږی ،دغه یویی لــه‌ګردیزه لاسته راغلی او دغه بل یی له شکردری څخه .همدا رنګه یوګڼ‌شمیر ددورګه شیوا اوویشتنو پژی‌اوداسی پسی نوری ډیری مونـدل شوی دی . دغه ټولی دسیمی لــه‌را وروسته بودایی انځورونو لـه‌کارتوګی (سبك) سره اړخ لګوی خو لـه بده مرغـه لـه دغـو ګـردوتشی ټوټی تر لاسه شوی دی چـی‌ښایی له اسلامی سوبو سره «دکفـر دبوتانو» په توګه دړی وړی شوی‌اوسی .

دغزنی تورکی مسلمانو شاهانـولکه سبکتګین ،دهغه زوی محمـود(۹۹۸ـ ۱۰۳۰م) او نمسی یی‌لومړی مسعود دشمال خواته داورال تـــرسمندرګی پوری دپښتنی ،کوردی اوتورکی لښکرو په مرسته ټولوا ـ کمنی پراخه کړه .همدا رنګه یی‌پرلویدیځ هم ویرغلل او شیعه سیمی(آل بویه) یی بیر ته لاندی کړی اوری Rajj او همدان یی ونیول.نژدی هر کال یی یو ځل دهند پـرلوری لښکر لیږد (لشکرکشی) کوله . داباسین ناوه او پنجاب دګنګ ناوه‌ترکناوج او سمندری کڅونه تـــرګجرات پوری لاندی شول او اسلام تربنګاله وغځول شو .له‌دغو لښکروسره هندیان هم یو ځای شول اودپیلانو یوه پیاوړی غونډ چی‌تر۱۳۰۰ پوری جنګی پیلان کیدل ،په لویدیځ‌کی سوبی اسانی کړی ،یوه خوراستره ولجه له زرګونو مریانو سره غزنی هیواد ته راولیږد یدلـه اودغلته شتمنی مانی ،مزدکونـه اوکوټونه ودان شول . پخپله غورچی دهندوکښ لویدیزه غزنی سیمه وه‌او تر دغــــه مهاله آزاد پاتی و،دغزنی واکمنی پیژندنی ته اړیستل شو .یو غزنـوی میشتځای (۱٥٤ ـ۱٦۳) دهیلمند پر غاړه پروت و چی‌له لښکری بازار او بست څخه یی څه ناڅه پنځه کیلو متـــره واټن‌درلود (*۳۳ـ*۳٥) .دلته یو لړمانی‌اوکورونه پربولنټونو (کازرنونو) راکړی شوی دی . سویلی پای ته‌یی نژدی پنځه سوه متـره اوږده‌مانۍ او یو څلور ایوانه.انګړ لیدل کیږی .دشمالی ایوان دډیو ډیو پردیوالونو باندی انځور ګـری اوسینـګارونـــــه شـــوی دی چـی انځورونـه یـــی دمنځـــنی‌اسیا په کالیو او وسلو پټ‌جنګیالان‌ښیی .

ACKU

په غزني کي ایتالیي لرغونپوهانوددریم مسعود (۱۰۹۹ – ۱۱۱۵ م)مزدك وموند .تر څنګه یې یوه مناره ده چې دسلطان یو ډبر لیك یـــې را خوندي کړی دی .له هغو نومیالیومانیو څخه دومره څه پاتي نه دي چې په هندي طلاوو او جواهروپوري ماموري وي .آره بنه دمنځني څلورایوانه انګړ له مخې دپیژندني وړ ده چې یو ۲۵۰ متره اوږد ښکلـیتاجیکي پارسي (دري) ډبرلیك پرې ګنښل شوی دی . پر دې .سر بیره ور سره ځیني لوار انځورونه (برجسته تصاویر) هم لیدل کیږي چې ښکارونه ،نڅا ګری ،څوکیوال له ډولي پسو- لونو سره ښیـي . دبرهمن خدای یو ۹۸ سانتي متره جګ بوت خوراتوتي توتي شوی و او داسي بریښي چې له هندي ولجو څخه به وي .سلطان محمود دسو منات له مندرڅخه دبرهمن پڼۍ (مجسمه) رالوټ کړه او په فرما یښت یې په ننوتوځي کي دسوبي یادګاري جومات (عروس الفلك) ودان شو .په دې توګه به مسلمانانو هره ورځ دکفر بوتان دسپکاوي په موخه تر پښو لاندي کول.

دمسعود مانۍ ته نژدې دبهرامشاه(۱۱۱۷ – ۱۱۵۳ م) داستو ګنځـیاتکل کیدای شي (۱۶۳) ، ځکه یو څلي یې هماغسي نیغ پاتـي دی .دغزنوي مانیو کنډوالي دبست شاوخوا هم لیدل کیږي چې بهرني دیوا- لونه یې ډیر زیات ښکلي اوانځورلي دي (۱۵٤ ، ۱۵۵) .ددغه مهال یوه بیخي کوچنی لږۍ ودانی خوند ی راپاتي دی، لکه واخلی ارامځایونه لرګیني کیند نکاري او همدا رنګه دلوګر دخرخ خورا پرتمین محرا ب اود بلخ په شمال کي ددولت ابادمنار .

غزني دغزنویانو په لومړیو وختوکي دپوهني منځۍ (مرکز)و. غزنوي محمود له رنګول شوي ساماني دولت څخه شاعران او پوهان خپل دربارته را ټول کړل چې په هغو کي پا س یاد شوی ابوریحان البیروني هم و چې دهند په باب کتاب یې دشمالي هند دسوبې په سیوری کي دهند ی تاریخ دیوه ارزښتمن اخځ په توګه منځته راغلي دی . ده په نندانـه Nandana (دننني پاکستان یوه سیمه ) کي پر ۱۰۱۸ کال دنصف النهار اوږده ۶۳۳۸٫۸ کیلو متـره ګڼلي وو (دنني ګڼي له مخـــــی۶۳۷۰٫۹۶ کیلو متره) .البیروني په ستور پوهنه ،در ملیو هنه او شمیرپوهنه (ریاضي) کي اثار پریښي دي دده دکار په زمانه کي فردوسي هم له طوسه راغی او محمود ته یې شاهنامه وکښله ،مګر څنګه چې ویل کیږي ،ددغه کتا ب ښه هر کلی ونه شو .ښایي دغه کم ارز ی به یې تر اسلام مخکي اریاني روایت له مخې وه چـــــی دمحمود له را وروسته سیاسي دریځ سره یې اړخ نه لګاوه.محمود لومړی دساما نیانو له دودسره سم دخپل دولت پر اریانـــي ځانګړتیا ټینګاردرلود، خوراوروسته یې په دې هیله چې ګوندی له بویه وو (ال بویه وو) سره په جګړه د بغداد دخلافت له خوا رسمي وپیژ .ندل شي ،خپل دریځ ته بدلون ور کړ .په نندار یز (نمایشي) ډول یې دولتي اداره عربي کړه او خپل جز میت یې را ټینګ کـړ پــــه دې دی تـــوګـــه کیـــدای شــول له شاهنامې سره خوا خوږي یې له خرخشي سره مخامخ کړي .که څـه هم دغي هڅې یې کوم ځای ونه نیو، دګر بیا هم دغزني اریاني فرهنګ خپل ځلاند مهال تر شا پریښي و .دیوولسمې پیړۍ په لومړیو کلوکي (*۳۶) داور غوزود ډلي تورکمنا نونوي کوچیاني لښکرو دجلګو سلجوقي کورنی دازمیښتګاروبزدورو جنګیا و تر مشري لاندي مخ پر سویل راوپر غالل .دوی دسامانیانو په چوپړ کې دیته اړایستل شوي وو چې له قره خاني لښکرو څخه ځانونه بچ کړي او خراسان ته مخه را وکړي. دوی خپل بد (مقابل) غزنوي لښکر ددندا نکان په سیمه کي تارو مار کــړ(۱۰٤۰م)اودهندو کښ شمالي سیمه دغزني شاهانو له لاسه ووته .دغو . دغو تورکمنانو چې دخپل سرغندوی له مخې سلجو قیان بلل کیدل ، پرخراسان ځپان راوست ،په مروه کي ځای پر ځای شول او ټبرني لښکري یې لویدیځ تـه واستولي . داسي بریښي چې دننیو بلو څو مخکینیان به سویل ختیځ ته لیږدیدلي وي او په وران شوي سیستان او دراو ـ یدي براهویانو میشتنه سیمه کي تر

سمندره خواره واره شوی اوسی .ددوی تاریخ دومره روښانه په دی نه دی چی تېرنی ژوند یی پرمخ‌وړ او دومره لیکنی نښی نښانی یی ترشا نه دی پریښی .سلجو قیان که څه هم ورپسی وو خو دغزنی یرغل یی ناکام شو . سلطان ابراهیــــم((۱۰۵۹ ـ ۱۰۹۹ م) له سلجو قیانوسره دسولی تړون وکړ او په پای کی بهرا مشاه (۱۱۱۷ ـ ۱۱۵۳ م)اړ شو چی دسلجو قی سلطان سنجراویجه (قلمرو) په رسمیت وپیژنی ځکه نوریی دماتی مخنیوی له واکه‌وتلی و .

دقره خانانو په لاس کی داواری تاجیکی سیمی یوه زیاته برخه اوښارونه پاتی شول .که څه هم له دغو «تورو» خانانو سره دقرلو قانوتورکی تېرونه هم دغه هیواد تـه یو ځای راغلی وو .خانان لاتر ډیره دکیږدیو په پنډ غالیو کی اوسیدل‌او ښاری اوسیدو نکو یی دسلطا نانو په بولی ملایان پسی اخیستل. دقرلوقی ډلو تپلو ترمنځ جنګونواودښارونو اوسرغړاندو (یاغی) لښکروترمنځ پاڅو نونو پای نه درلود . له سویلی خوا څخه سلجو قیانـوپه دغو شخړو کی ځانونه را ګډول‌او له ختیزی خوا نورو قرلوقـــی ډلو دغه لوری ته را یرغالل . پـه‌دغه لړ کی دویم محمد ارسلان خان(۱۱۰۲ ـ ۱۱۳۰ م) دهغو ودانیو له‌کبله دستر نامه ښتن شوچی‌په بخارا کی یی وکړی . دده دواکمنی‌په پیر کی‌دښار دیوال، ارګ او بـی ګچه لوی کلیان Kaljan منارجوړ شوی دی .

په بخارا کی ددولسمی پیـړی‌مګوک عطاری Maguk-g-Attari جومات اود قره خانی هیواد سراسر یو لړ ارامځایونه او کاروا نسرایونه‌راپاتی دی چی ځینی یی پوره برم‌او پرتم لری .دغه ودانی دسلجوقی او قره خانی پیرونو' دلری سوداګری‌دسمسورتیا ښکار ندویی کوی چی‌اداره یی داریانیانو (ایرانیانو) پـه لاس وه .دغزنوی واکمنی ښارونه‌لکه بلخ ،هرات او بست هم پوره‌سمسور اوښیراز وو . لاسر غاوه (لاسی صنعت) دګروهنی ورورولی‌لکه کرامیه اوصوفیه هغو په‌چوکاټ‌کی دننه سازمانیده .دستری واکمنی سلطانانو بیا په قرمطیانو پســی‌اخیستی وه چی کرګر یی دلاسبری‌په وړاندی سازما نول ، کلیوالی ټولنی یی جوړولی او مالیه نه‌ادا‌ینه یی دجګړی دوسیلی په توګه پرکاراچوله .

قره‌خان دویم محمد دسلجو قیانولاسکتوی وخوپه ښکاره تری خپلواک‌بریښیده ـسلطان سنجر (۱۱۱۷ ـ ۱۱۵۷) دسمرکند دخپلونی لاره‌سیخه‌کړه او خان یی وشاړه . نارامی بیامنځته شوه او په دی بهیر کـی حنفی شیخانو بخارا تر خپل ځواک‌لاندی راوړه . پر ۱۱۳۷م کال قره‌ختایانو چـی‌بر لاسی دښمنان وو ، دختیځ لـــه خواراتوی شول، ددوی‌مخکینیانو له ۹۳۶ څخه تر ۱۱۲۲پوری دشمالی چین‌دلیاو Liao کورنی په توګه واکی چلولی او اروو چی‌تونګی جورجانو ته غاړه کیښودی .قره ختایان په قرغز ستان کی ځای پر ځای شول اود شمالی منځنی اسیاباداری یی تر لاسه کړه . دقتوان‌په جلګه کی‌یی دسلجو قیانو لښکر مات کړ او تر خوارزمه یی تول‌وګړی‌او تېرونه خپل باج پازی (په باج‌مکلف) کړل .که څه هم خوارز میانو دسلجو قیانو پر مرکزونو راویرغالل‌خو بیا هم وځپل شول . بیا دسنجرکوچی جګړه مار راوتوریدل ، دری کاله یی هغه په دښتو کی رانښکیل‌کړ او بیا یی مروه او دتورکمنستان‌ښارونه تالا والا کړل . تر څو یی سنجر ځان له منګولو وژغوره خویو کال وروسته (۱۱۵۷م) په بی‌برخلیکی کی ومړ .

په مروه کی داستو ګنځی کنډ والی داسی ښنی را پاتی دی چی‌باورپری نه کیږی ، لکه واخلی کلا ، دسنجر پیاوړی ارامځای ودانی او دښار دیوال .

په خوارزم کی تور کمنی خوارز مشاهانو دسلجوقی واکمنی تړنګیدووروسته هم خپلی پښی را ټینګـی کړی اوله سردریا څخه یی ترتیګر یس Tigris پوری د سیمی‌واګی په لاس کی ټینګی کړی . د خوارزمشا هانو دوه مرستونی ودانی‌راپاتی دی چی یوه یی‌دتیکش Tekesh ارامځای او بله یی دارسلان کیښ (قبر) دی .

دسلجو قیانو په بریدونو سره دغزنوی څواك ړنګتیا دغور سردارانوته دالیار برابره کړه چې کرکجنه بلواکی ولړزوی .غزنیانو پر۱۱۸٤(یا ۱۱٤٦) کال غزنی ونیو او هغه یی خپل پایتخت کړ چې تر څنګه یی په غور کی دفیروز کوه هغه هم و.دغوریانو دډلوتپلو اونورو سردارانوترمنځ جګړو (۵۱ـ۱۱۵۰م) کی غزنی داور لمبو خوراك شو .دا داسـی‌پیښه وه چی سوبمن علاوالدین‌حسین‌یی په جهانسوز مشهور کړ . کله چی سلجو قیانو پر غور برید وکړ ،دی ایر شو چی ښار ورته خوشـی‌کړی .په راستنیدو کی یی بست له خاورو سره خاوری کړ او پر ۱۱۵٦کال په هرات کی ومړ .

دعلاو الدین ځای ناستی سیـــف‌الدین ۱۱٦۲ کال له تور کمنانوسره‌په جګړه کی راوپر څید او هغوی یو کال وروسته غزنی لاندی کړ .مګر په ۱۱۷۳ کی اړوتل چی بیر ته‌یی غوریانو ته پریږدی . دغـــور امیرانو غیاث‌الدین (۱۱٦۲ ـ۱۲۰۳م)او مصلح الدین (۱۱۷۳ـ ۱۲۰٦م)پر ۱۱۷۵ کال دهرات غزنی تېرونه لاندی کړل اوپر ۱۱۸٦ یی په لاهورکی دغزنی واکمنی پاتی شونی له‌منځه یووړل . یو څو لسی یوه نوی تولواکمنی (امپرا توری) جوړه شوه‌چی لښکری یی بیا تر ډیلی پور ی‌ورسیدی او ایرانی ښنګلنی دښتی یی ونیولی .پر ۱۱۹۲ کال دترووری‌جنګ شمالی هند یو مخیزه دغور ی‌لښکرو په لاس کی کنبیست . یـو ستر هندی لښکر له پښنو وغورڅیداو لنډ پر لنده ډیلی (۱۱۹۳م) ،کنوج Kanauj (۱۱۹٤) اوګوالیار (۱۱۹٦م) یو پر بل پسی لاندی‌شول.په ډیلی کی دغوریانو تورکی پوځی‌مرییانو (ملوکانو) قطب الدین ایبك (۱۱۹۳ ـ ۱۲۰٦م) حکومتی چار ی‌تر سره کولی .دده جنرال اختیار ـالدین (۱۱۹٤) بیهار وځپه چی په هند کی وروستنی بودایی هده وه‌او داوداندا پوری Uddandapura دینی پوهنتون یی ورته له خاورو سره‌خاوری کړ . په بنګال کی تاکلـی‌کورنر لاسکتوی بودایان دیته اړیستل‌چی اسلام ته غاړه کیږدی .

په‌شمال لویدیز هند کی چی کوم‌جنګونه وشول ،دومره بریالی پری‌نه وتل .تر لومړیو بریو وروسته دخوار زمشاهانو تورکمنو غوریان پرښا وتمبول او هرات یی تر کلابندی‌لاندی ونیوه .غیاث الدین غوری پر ۱۲۰۳ کال مړ شو او پنځه کالـــه‌وروسته غور لاندی شو . مګر بیاهم غور له خپل پایتخت فیروز کوه ســـــر ه چـــــی بنســـت‌یی پر ۱۱٤۵ کال ایښوول شوی و،یو ګڼ میشتی هیواد پاتـی و او اوسید ونکی یی پښتانه بریښیدل.شاهی کورنی خپله آره ضحـــاك(سهاك) ته رسوله چی په شاهنامه کی دپارسیانو دپاتمری (میراثـی)دښمن په توګه را څرګند یږی . لاترننه پوری دبامیانو دکوټ کندوالی دشهر ضحاك په نامه بلل کیږ ی(۱۵۲) . وایی ،په غور کی یو غردی چی یو افسانه یی سیمرغ ور ـ باندی اوسیده چی داریانیانو داتــل‌رستم پلار «زال» یی روزلی و .دادهغه زاړه اریانی دلید توګی پاتی شونی دی چی دهغه له مخی غرونه‌دنړی چورلیځ (محور) ګڼل شو ی‌دی ،داسی چی نړی پری چورلی . دایتالیی لرغو نپو هـانـو لـه خواᵈزمیندارور په تادی Taddei کی‌رابرسیره شو«مسجدسنګی» د (لرواند Larvand مزدك) کیدای شی ،له دغه خورا دودیز نمنـــځ(عبادت) سره اړوندی ولری .دجوز ـ جانی په «طبقات ناصری» کی راغلی‌دی :

«په غور کی پنځه ستر اوپیاوړی‌غرونه دی چی دغور وګړو پــه‌ګروهه دنړی لویترین غرونه دی. یو له دوی څخه د «سر مرغ مندیش‌غر دی چی په بیخ کی یی دواکمنی‌کورنی (شنسبیانو) کوټ اوپایتخت پراته دی . د«ماویلی تا ویلی» له‌مخی دلته درستم پــلار زال زار دسیمرغ له خوا غرونو ته رالیږدول شوی دی.»

ایتالیانو پر دغه غره‌باندی یوه هندی سبکی ځانګړ ی‌دول کعبه Kaaba رابرسیره له هغه مهال سره سمون خوړای‌شی‌چی دقطب الدین له سوبو ســـره‌کړه ددی جوړښت یوازی او یواز ی هندی کانی تك (سنګتراش) غرنی‌هیواد ته راغلل .غور او هنـــــددوو منارونو ،قطب منار اودهریرود

دغاړی جام منار له پلوه سره هم یو له بله تړلی دی (۱۶۸ ـ ۱۷۰).دجام منار چی ٦٥ متره لوړ دی . لومړی ځل پر ۱۹۵۷ کال دپوهانو له خوا لیدل شوی دی .ښایی چیدغه ځلی به هماغه ځای په نښه کاوه چی دفیروز کوه پایتخت ور پوری راغځیدلی و .دغه سله یبزه(خشتی) ودانی په ځمکنی پوړ کی اتخندی ده اوپاسنی پوړ یی لولـــه یی دی .په ډبر لیکونو کی غیاث‌الدین دودانی څښتن بلل شوی او د قران نونسمه سوره راخلی . پرشاوخوا غرو باندی دنورو ځیزونو په لړ کی دیوی یهودي ټولنی کیږ ډبری (شناختی) موندل شوی دیچی دغوریانو په مهال پیر پوری اړه‌لری .دیوه کوټ او ښاری ودانیو پاتی شونی تر مغولی مهال مخکی‌دیوی ګڼ میشتی ابادۍ ښکارندویی‌کوی .دغوریانو دمهال یوه خوراستره ودانی دهرات‌جامع‌جومات‌دی (*۳۷).دودانی دڅښتن غیاث الدین (د۱۲۰۳م) کیځلیك (مزار لوحه) پر۱۹٤٤ کال کینل شوی ده .دسویسی مهندس شتوکرت Stuckert عکسونو ددغی ودانی برم خوندی ساتلی‌دی. دودانی ډبر لیك داسی څرګندونه کوی :

«ستر واکمن ، نومیالی شا هنشاه‌دتـــو لـــو لا ســـلا نـد یوګړو مشر ، دټولو عربی او پارسی شاهانو بادار دخدای دځمکو اکمن ،دخدای دهیوادونو او ښارونو سا تندوی او دخلیفه ګانو لاسکتوی ـ غیاث الدنیا والدین ، داســلام اومسلما نانو تکیه ځـــی چـــی پرنړۍ واکی چلوی، ابوالفتح محمـــد دسام زوی دګرو هنو امپرا تورانوملګری ، خدای دی دده ساری روڼ‌لری . . .»

دغه جامع جومات چی تر ۱۳٤۲ راوروسته پری نوی کار شوی دی.په‌منځنی اسیا کی په ستر پرتمینـــو اسلامی یادګارونو پوری اړه لری .له لښکر ګاه سره دشیخ حسین مړ ستون خونه یوه راکښو نکی ودانی ګڼل کیږی چی کاشی کاری اونقشه یی‌له دولسمی پیړۍ سره اړخ‌لګوی.

په‌هند کی هغه مهال چی غزنویان‌وځپل شول ،غوری لښکرو ځان‌خپلواك کړ . په دی توګه قطب الدین سر له۱۲۰٦ م‌کال څخه دډیلی دمملوکانودلومړی سلطان په توګه واکی چلو ،لی، دده مهال له پرتمینو ودانیـو څخه دډیلی هماغه نامی منار دی‌چی‌دهمده په نامه یادیږی .د «مرییانو»شاهانو تر واکمنی لاندی دمنځنـی اسیا اغیز ډیر پیاوړی شو چی بیاله «مغول» بابر سره خپل لوړترین‌ستونځ ته ورسید . په غور کـی خورا ډیری کنډوالی خــوری وری‌پرتی دی ،چی داهنګرانو ، ګذرپام،چهل ګازری او داسی نور کوټونه پکی دیادونی وړ دی . په دی لړ کی‌دهغوښارونو اوکلیو کنډوالی‌هم‌راځی‌چی هره یوه یی دپخواو پیاوړو مور- چلونو نښی نښانی له ځان ســره‌لری (۱٦۷) .

په مرغاب کی لرغو نپو هـــان،کازمیر او ګلتځر دمشهد ښار دیوی‌ستری مدرسی پرکنډوالو واوښتـل (۱٦٥، ۱٦٦) .بهرنی دیوال یی‌چی‌دقرآن په ۲۸مه سوری ښکلل‌شوی،یو مخیزه ښکلا بلل کیږی .همداراز په غزنی کی دغزنویانو ددړو وړوشیو ودانیو پر ځای دنویو (غوری)واکمنانو مانۍ رامنځته شوی دی . په‌بست کی ورلیندۍ (طاق‌دروازه)راپاتی ده چی دغوریانو په کـوم‌جومات یا مانۍ پوری به یـی اړه درلودلی وی . په غورکی دکنډرواو کنډوالو ډیر ښت ددغه ځـــای‌داستو ګنو دډیرښـت او ددوی د اقتصادی پیاوړتیا ښکارندوی‌دی.کله چی‌غوردخوارز مشاهانو اړوندتیا ته‌اړیستل شو ،تورکمنانو دغوری سرـ تیرو ځای لاندی کړ او هغوی یـــی‌دخپلی واکمنی شمالی پولی تـــه استول .یوازی پر۱۲۱۹م کال۴۰۰۰۰ غوری جګړن سمندر ته ولښیدل اواو هلته یی دبولنتون (ګارنیزون)دریمه برخه جوړه کړه ،خوارزمشاـ هانو دمغولو په وړاندی دمرګ وژوند جګړی ته تیاری ونیو . دختیځ په بیدیا وو کی بیا یو لوی سازمانوو نکی چنګیز خان را ډګر ته‌شو چی دمغولو سرغندویی یی پرغاړه درلوده اوسهری پرګنی یی په

اوسپنیز مټ دولتی تولنی ته ار یستلی .تر اوږدو جګړو وروسته پر ۱۲۰۶ کال لوی خان وبلل شو او تر ۱۲۱۸ کال یی دننني قزا قستان له میرو نیولی تر پیکینګ او کوریا پوری یی ځان واکمن کړ . دا نو یوازی دمهال پوښتنه وه چی کله دختیځ دستر ځواك اود اسلام دستر ځواك تر منځ ټکر راشی .

په ۱۲۱۸ م کی تورکمنی سرحدی ساتونکو له مغو لستانه کور تــه راستنیدونکی بخارایی کاروان وواژه او په دی توګه یی چنګیز ته دجنګ پلمه برابره کړه .مغولو لـــــــه ۱۵۰۰۰۰ جګړ نو سره له سردریا پوریو تل او له مخامخی ټکنی دفاع سره سره یی ښارونه یو پر بـــل پسی ونیول .اوترار Otrar ،بخارا، سمرکند ، ګور ګینج Gurgench اوهمدا رنګه یی دخراسان ښارونـــه په لاس کی کیوتل ،په ځانګړی دول یی بیا دنیشا پور لوی ښار خورا ــسخت وځپه .دغزنی والی اودخوارزم خولشا هزی (ولیعهد) جلال الدین د کابل په شمال کی یو مغولی لښکرمات کړ ،مګر تر بشپړ لښکر مخکی خوارزمی لښکر را وپرځید ، یوه برخه یی پیښور ته وتښتیده او داباسین پرغاړه دجلال الدین چاپیرتولګی ګرد سره پوپنا شول چی ور څخه یوازی هم دی پر سیند باندی له پوریوتو سره له مرګه وژغورل شو .

چنګیز بیا وخته دخپلو غچنوجګړوپه اړ کی ،بلخ ،بامیان اود جـــلال الدین میشتځای شهر ضحاك اوهمدا ــ رنګه غزنی لتاړ کړی وو .همدارازفیروز کوه پر ۱۲۲۲م کال په خاوروایرو کی ډوب شو، هرات چی ځان ورسپالی و ،دبشپړ مغولی لښکــرتروتو وروسته بیا را پورته شو ،شپږ نیمی میاشتی کلابند شو ،خلك یی یو مخیزه پوپنا او پخپله سوی سکور واوښت ،سیستان او غورمتی داویګیدای Ogedei دواکمنی په اوږدو کی دمغولو لاس تــــــه ورغلل .اوږد ترین تینګار هماغــه و چی دیو څو غرنیو کوټونو له خوا تر سره شو .مغولو ددولتی ژوندله بیا رغاونی سره په هرات او دغور په ځینو برخو کی سیمه ییز ویاړلی دواکی چلو ونکو په توګه وټاکل چی له هغو څخه دکرتیانـــوکورنی را ولاړه شوه او له ۱۲۳۶ را وروسته بیا ودان شوی هرا ت یی خپل پایتخت وټاکه .

کله چی مغولی واکمنی وویشل شوه ،دآمو سین رادیغاړه (سویلی)هیواد دجبهو په منځ کی پروت و . په ایران کی دایل خانانو تر واکیولاندی راغی او دآمو شمال ته پرتی دسیمی په چغتایی ولس اړه پیدا کړه .خوارزم د «طلایی اردو» یوه برخه وګرځیده چی لویدیځ یـــی اویجه (قلمرو) واوګو ګنج یی یــو ځل بیا دسوداګری منځی په توګه په لاس کی کیوت .

کرتیان دایلخانانو هسی یو نــا باوره رعیت و اوسیستان (ساکستان)خپلواك پاتی شو ، دهند وکښی په بی وکړ شویو غاړو مورکوکی هغومغولی لښکر وپښی خری کړی چی له ایرانه ختیځ ته را پر مخه شوی وو (۱۲۲۹م) دوی دخپل نویـــونNoyon(مشر) نیکو دار Niqudar ترمشری لاندی غزنی او ختیزه غرنی سیمه څو لسی په خپلو واکیو کی نیولی وو . پر ۱۳۰۰ کال دوی اړوتل چی دچغتایی خانانو لاسکتوی شی تر څو پر ۱۳۵۲ کال کرتیانو هــم ددوی واکانی په رسمیت وپیژندله .نیکوداری پر ګنی کیدای شی ، دغور دمغولی ټبرونو مخکینیان اوســی ،لکه څنګه چی هزاره هم په همدوی پسی تلای شی . په دی توګه دمنلو وړ بریښی چی هزاره دی دمغولی باداری پوړ له خوا دتاجیکی کرونــدګرو له اغیزنی را منځته شوی اوسی.

په پخوانی سوغدیانا کی ډیری تورکی ډلی ټپلی له مغولو سره یوځای را لیږدیدلی وی چی اریستو ــ کراسی یی دخانانو په وړانــدی دچغتایی ځواك نسکور یدنی ته اړم شوه .د ۱۳۷۰ شاو خوا یو تورکی ټبرنی سرغنه تریولړ جګړووروسته ځواك ترلاسه کړ چی دکیش Kesh له سیمی څخه و .څنګه چی دی په یوه جنګ کی له ټپی کیدو ســرځوګوډ شو ،نو دګوډ تیمور ستاینوم(لقب) یی تر لاسه کړ .دده جګړنو مخنی او منځنی اسیا تر مغولی هغوبتره وځپله او له هیلیز پونت Hellespont څخه ترالتای او

له والګا څخه تر ډیلی پورې ټولاستو ګنځایونه په خاورو ایرو کي‌ډوب شول او په لکونو انسانانـــو ژوند له لاسه ورکړ . دټولو اکمنی‌منځی سمرکند او بخارا دیوی ورانی‌ویجاړی او بی سرو سامانی نړی‌یوه ځلاند منځتکی ته لوړتیا وموندله . په جولیزه (شکلی) توګه دتیمورټواکمنی دچنګیز خان دامپرا توری پاتوري (وارث) دولت و او پـــــه الواك (تیوری) کی مغولی حق ګنل‌کیده.تیـموردی‌چنګیزی خانان‌دسورلنو (پټو) واکمنو په توګه تر ځارنی‌لاندی نیولی وو .متی تر هغو ورو سته یی چی له مغولی شاهی کورنی څخه یوه شاهزی ځانته نکاح کړه،پخپله یی دلوی خان په توګه واګی‌په لاس کی واخیستی ،واکمن پـوړ (قشر) هغه تور کان وو چی کولتوریی ایرانی اسلامی و او افغانی اومنځنی اسیا یی توکونه (عناصر) ور سره ګډ وو .

تیمور پر ۱۳۸۰ کال په هرا ت‌کی دکرتیانو وروستنی پاچا لری‌کړاود (پښتنو) غرنیانو تر یوه یرغل وروسته یی په مرګ پیرز وکړ .سیستان ایل شو اود خړوبونی غـــوندال (سیستم) له کاره ولوید.کابل، کندهار او غزنی دتیمور په لاس‌کی کیوتل او په دی توګه یی په‌نیولو سیمو کی ټول سویلی افغاـ نستان یوه لته (ولایت) شو .دافــراسیاب دکنډوالو تر څنګه سمر کندپه خورا پرتمینه بڼه یو مخیزودان شو .لاتر ننه پوری دتیمور ودانی‌دسمر کند زاړه ښار اډانه جوړ وی،لکه دبی‌بی خانم پیاوړی مـزدك ، دامیر مړستو نخونه او نور ارامځـــایو نه .له مانیو څخه یی نور څه‌دومره نه دی راپاتی ،تش په شهر سیاب کی داق سرای دوی ستنـی‌ولاړی دی ، بیا یی هم دګوندیـــــو(فرکسیونونو) په سخته جګړه کـی ترمړینی (۱٤۰۵) وروسته بایځوراڼوچی دمنځنی اسیا نړی یی له سره‌واو ډله ،ډیری شتمنی پاتمـــړی (میراثونه) را پرینښی دی .

دتیمور مشر زوی شاهرخ په‌ښکلی‌ودان شوی هرات کی (له ۱٤۰۵ تر۱٤٤۷) دلوی پاچا په توګه واګی چلولی .الغ بیګ له سمرکند څخه داموړا دیغاړه (سویلی افغا نستان)اداره کاوه او منځنی اسسا دالغ‌بیګ (٤۹ـ ۱٤٤۷) او دده دزوی عبدا.لطیف (۵۰ـ ۱٤٤۹) په لنډ واکپیرکی‌خپله وروستنی سمسورتیا ولیده او ډیره مهینه پای ته ورسیده .ترنژدی شل کلنو جنګونو وروستـه تیموری حسین بایقـرا (۱٤٦۹ ـ ۱۵۰٦) ټولوا کمنی بیر ته له‌سره‌را جوړه کړه مګر لویدیز ایران یی‌لاسته بیا را نغی اود تورکمنانوپه لاس کی کیوت .دکابل ناوه یی چی‌دتیمور نورو پایځوراڼو پری خیتـه‌اچولی وه ،هم را ټینګه نه شـوه کړای .دده په پیر کی هرات یوی‌ځلاندی فرهنګی منځی (مرکز) تـه لوړتیا وموندله .دهندی مغولـــی واکمنی بنسټوال دهرات په برخـه‌کی داسی لیکی : «ګردی استوګنی‌نړی داسی یو ښار په سترګو نه دی لیدلی ،لکه څنګه چی هرات دسلطان حسین میرزا په زمانه کی‌و ... دایو داسی هیښنده مهال پیر (زمانی مقطع) و چی خراسان او بیاپه تیره هرات له پوهانو او بیسارومیړو څخه ډك و .»

هغه مهال په هرات کی دجامـی‌او علیشیر نوایی غوندی شاعرانـوژوند کاوه چی اوزبکان وروستی دا دخپل ملی شاعر په توګه نمانځی .داسلام نومیالی مینا توری انځور ګربهزاد هم دلته خپلی اغیزی ښندلی. حسین بایقرا دشاهرخ اود هغه دمیرمنی ګوهرشا دودانیو بیارغاونه‌سمبال کړه چی له‌هغو څخه د۱٤۱۷ کال ودانی شوی مصلی (مزدك) اومدرسه اود ګوهرشا داوشا هـرخ‌ارامځایونه دیادونی وړ دی .داهسی ښکلی وانی وی چی تری را پاتـی‌کنډوالی یی هم نن سبا دنندارچیانوولولی را پاروی . ت هولد یچ Th. Holdich انګریز یی تر پلان‌شوی ړنګونی لږه دمخه داسی‌شنی:

«څه ناڅه یومیل وړاندی په‌شمال‌لویدیځ کی دیو لړ ودانیو دغونډ په‌توګه په پارسی بیلګه یوه‌مصلی ولاړه وه . دلته له یوی ستری ورلیندی (دروازه یی طاق) څخه یوه‌انګړ ته لاره تله چی دودانیـو او مدرسی دځلاری (څلور لاری) پــــردواړو خواوو را څرخیدله او په‌یوه‌جومات پای تـه رسیدله . دپاخه

وستل (صفه) په کوټونو کی‌څلورځلی (منارونه) ولاړ وو چی پر هغوباندی ټوله ودانی جوړه شوی وه چی ښایی دپنځلسمی پیړی په دویمه نیمایی کی دشاهرخ دواکمنی پروختړا منځته شوی وی .دشاهرخ مړ – ستون څه ناڅه سل یارده (گـزه)هومره له دغی ودانی څخه ار تڼپروت و ،او ځینو زیانمنو پاتی شو نو یی ددیوالونـو او غولی دړول وړال دبی گچه ښایست یادراتانداوه.دارزښت له پلوه یی درنگینو کاشیو داغیزمنی شننه له واك ووسه وتلی بریښیده .دغو کاشیو دور لیندی(دروازه یی طاق) پرتمین وربـوی ښکلـی و او دجومـات او مدرسـی ټول مخ وځپ او هر کوچنی وټاو سوری یی پوښلی و .زړو پارسی مسین زرغونو ،طلایی نسوا ری ، اوتیز لاجوردی شنو رنگونو په یوه‌بی گچه ښکلی همرنگی سره دداسی گلونو بیلا بیلی بیلگی سره پر له‌پیبلی وی چی هم یی دټوکونـــــو(جزییاتو) او هم یی دټولنیزی اغیز- منی له پلوه یو بی ساری راکښون‌درلود .دبابل او نینیوا هغه هنرچی دپیړیو په پوړیو کی خوندی‌پاتی دی او نن سبا په پرتلیزه توگه په‌نو مهالی پارسی مهندسی کی پر کارلویدلی دی ،دلته ځلیدنه موندلـی ده ."

دتیموریانو استو گنځای «باغشاه»تر ۱۸۳۸ پوری خوندی پاتی و اولافریر Frrier یادونه کوی چی دمزدکونو ، مړستو نخونو ،تودوبیو(حمامونو) او نورو ودانیو کنډوالی‌ان تر غرونو پوری لیدل کیږی .

ښایی چی هرات به هغه مهال هماغه‌جوله درلوده چی متی دشلمی پیړی‌له ښار جوړیدنی سره له منځـه ولاړه ،داسی چی په دوو سمکوټو(قایمته الزاویه) واټونو ښار پـرڅلور برخو ویشه ،دواټونو دواړو خواوو ته دبازار ونو لړونه پراته‌وو او یو کوټ (بالاحصار) یـــی‌درلود .دښار په شمال کی دصوفی شاعر خواجه عبداله انصـاری دگازرگاه یادگاری ودانی وه (۱۷٦) چـی‌پر ۱۰۰٦ کال په هرات کی زیږ – یدلی و او دښار په شمالی څنده‌کی دشاه سادو عبداله ارامځای‌دی.

دهرات له غور وودانیو سره دمزار شریف هغه مړستونی جوما تدپرتلی وړ دی چی وایی دمحمد(ص) زوم علی (ك) پکی ښخ دی .سلطان‌سنجران پر ۱۱۳٦ کال دغلته یومزدك جوړ کړی و چی مغولو دگنجینو پـــه لتــه لوټی لوټی کړی و ۰ پر۱٤۸۱ کال سلطان حسین بایقرا له‌سره بل یادگاری مزدك جوړ کړ چی اوس اوس په بشپړ ډول بیا رغول‌شوی اود منځنی اسیا درنگینترینوودانیو په لړ کی یی ځای نیولی دی .

په بلخ کی چی مغولو یو مخیزه‌دړی وړی کړی و ،دتیمور یانو ترواکمنی لاندی بیر ته دژوند وژواك وړ شو .دهماغه هراتی نقشبند ی‌شیخ‌خواجه ابونصرپارسا ارزښتمنده‌مړ ستونخونه هم دبلخ له تاریخی ودانیو څخه گڼل کیږی چی پلار یی‌داولوغ بیگ دناباندی (مخالف) په‌توگه دحج پر لاره مړ شوی و .زوی یی بلخ ته بیر ته راستون شو اوپه ښوونه یی پیل وکړ ،تر څـــوپر ۱٤٦۰ مړ شو (۱۸۷) .په سمر – کند کی داولوغ بیگ پر وخت دشاه‌سیندانو میالی مړستونی واټ بشپړشوی دی .له هغو درومدرسو څخه چی نوموړی شاه مرستیال جـوړ ی‌کړی دی ،دبخارا او سمر کند هغه‌خوندی راپاتی دی .په گور گنج‌کی دتیمور دوخت یوپرتمین مړستو نی‌مزدك ځای پر ځای ولاړ دی .

دتیموری مهندسی دځلاندو کارناموترڅنگه ښایسته ډیری فلز کاری،او بدنی او دهرات دمیناتوری ښوـ ونځی اثار لیدل کیږی . په دغه لړکی دوه دیگونه او دوه ماردنگـــی(شمعدانونه) له غور ترینو ژړینو لاسی کارونو څخه گڼل کیږی . یودلوی جومات دیگ چی دیوه کـــرټ‌واکمن په گومار نه پر ۱۳۷۵ کال توی شوی او بل‌دتیمور په ورمند(امر) دلوموړی‌دیگ په بیلگه پـه‌تورکستان کي داحمد یا سوی Jasevi

دجومات لپاره تیارشوی دی. دهرات‌دیگ ۵۰ر۴ متره لوړ او ۸۰ر۴ متره‌سر ور دی ،او ستر بیلگه (کاپی) یې نژدی دوه تونه درنوالی لر ی.

یو ځانگړی ارزښت هم دکتا بتولنی (کتاب اکادمی) په برخه و چې‌بنسټ یی ان دشاهرخ په مهال کی ایښوول شوی و .په دغه اکادمی‌کی په مها لنی توگه تر څلویښتوکښاندانو (خطا طانو) پوری کارکاوه، همدا راز پکی انځور گران بوخت ووچی ستـر نومیالـی اسـتاد کمـا ل‌الدین بهزاد و .دده ډیری لیکنی له میناتورونو سر ه راپاتی دی‌چی‌له ۱۴۹۳ څخه تر ۱۴۹۴ پوری یی دنظامی خمسه لاسکښنی (نسخی) یی دیادولو وړ دی . دغه انځورگـــــردشاهی کورنی له نسکور یدنی څخه ژوندی را ووت او دصفوی سوبمن شاه اسماعیل (۱۵۰۷) په چوپړ کی‌راغی .

دتیموری واکمنی ډوبیدنه لـــه‌جلگو څخه را پیل شوه په دویـم‌هیواد کی یی داورال او التای‌ترمنځ په ۱۴ مه او ۱۵ مه پیړی کـی‌دبیلا بیلو ډلوټپلو اوتبرنی ځپانونوله اخښنی څخه یوه تورکی وگړډله (ملیت) ازبکان را میدان ته شول‌چی‌دشیبان دکهاله دخانانو تروااکمنی‌لاندی یی دکروند گری سیمو لاندی کولوته راودانگل پر ۱۴۳۰ کال ترخوارزمه پر مخ ولاړل ،پر ۱۴۴۷ کال‌یی‌دسر دریاناوه ونیوه اود سردریا سویل ته یی . تیموری سرداری‌ترگوابښ‌لاندی راوستی .یوازی دمغولی تاړاکونو او له Oiratsاو یراتانو قزاقو سره یوه لړ جنگونو وکړا ی‌شول ،یووار بیا اوزبکان پښه پـرځای کړی .دتیمور وروستنبانو په شمال کی تر ۱۴۶۸ را وروسته دهرات په واکمنی پسی نور نـــه‌ولاړل ،یا به بله وینا لوی شاه بایقرا یی پریښود ،لایو تربله یی‌سره پرله پسی‌پر ښارونو ،سیمواویا هم پر ځایناستی (جانشینی)شخړی او جگړی کولی .دښارونو واك اوځواك ددرویشی نظام او په تیره‌بیادنقشبند یه او جویباری شیخانو لاسته ورغی .

پر ۱۵۰۰ کال اوزبکان بیا پرخپل‌منځ شخړیزو سردار یو باندی ویرغلل او تر لنډو جگړو یی ونیولی . بخارا ،سمر کند او تاشکند یی لاندی‌کړل (۱۷۸) او یو ځوان شاهزی‌یی‌له فرغانی ناوی څخه وشاړه چی لا په‌ژوند یی دخپل ټاټوبی خوبونه‌ربنتینی شول .دا هماغه بابر وچی‌وروسته بیا دمغولی ټولوا کمنـــی بنسټوال شو.دی‌له یوه کوچنی‌لښکرمخ پر سویل وتښتید او دا سوچ‌ورسره و چی هرات به یی یرغلگرمات کړی ،خو حسین بایقرا ومړاو زامن‌یی ددی جوگه نه وو چی یو ټولیـزتینگار سازمان کړی .نو بابر مخ پر کابل‌وړاندی ولاړ اوهلته یی‌دتاج وتخت بلو سونکی (غاصب) پســی‌واخیست .پر ۱۵۰۴ کال یی ښـار ونیو چی تر مړینی پوری یی ورسره‌نژدی اړیکی درلود (۱۸۹) .دغرونوشمال خواته دتیموریانو برخلیـك بشپړتیا ومونده .اوزبکانو کندوزاوبلخ ونیول ،خوارزم یی لاندی کـړاو بی له دی چـی له کـوم تینگار سره مخامخ شی ،پر هرات ورتوی‌شول .دجلگو سپرو زړه نړی داسی‌بریښیده چی بیر ته راجوړه شی خو شمال ته قزاقو را ودانگل داور بکو لښکرو باید ځانونه ویشلـــی‌وای ،په دی چی له سویل ختیزی خوا څخه دلومړی اسماعیل لښکر ی‌ژاشا گرځ شوی .دی دصفوی کورنی‌لومړی شاهنشاه و .دی دقزل باشو (سور خولو) په مشری په مروه‌کی‌داوزبك خان محمد شیبانی له‌لښکرسره ښکر پر ښکر شو او هغه یی له پښو وایست .هرات او بلخ دشاه‌په‌لاس کی کیوتل اوبابر له پارسی‌واکمنانو سره لاس یو کړ او دشمال خوا ته یی دوه پلا له پارسی‌لښکروسره ویر غالل ،مگر دیته اړووت‌چی‌دتل لپاره خپل پلانونه له لاسه ور کړی .بابر له کابل څخه دهند پرلوری مخه کړه او پر ۱۵۲۶ کال‌یی‌له پانی پټ سره شمالی هندلاندی



ACKU

کړ .سر له همدغه مهاله سره دری‌گونو ځواکونو منځنی اسیا (او چا پیره سیمه) په خپلو منځو کـــی وویشله ـپارسیانو تر آمو سینـد،سیستان او هندو کښ پوری واگی‌په لاس کی ونیولی ،مغولو له‌هند څخه پر کابل واگی چلولی او شمال‌اوزبکو ته پاتی شو .

تاجیکان سره برخه برخه شو ،څه تر اوزبکی واکمنی لاندی راغلل‌اوڅه دپارسی شاهنشاه په ځواکمنی پوری وتړل شول .پښتانه دمزدورولښکرو په توگه دپارسیانو اومغولوپه چوپړ کی راغلل اود شمال ختیځ غرنی تبرونو بیا هم دخپلی آزادی‌لپاره پر له پسی جگړی کولی .



ACKU

# شپږم ـ څپرکـی

## دافغانستان پر لوری لار

داوزبکی خانانو ،پارسی شاهانـواو لویو مغولو ترمنځ دمنځنی اسیا(او شاوخوا) ترویشنی وروسته د یوه افغانی دولت دجوړیدنی اړپیچنه‌لار پیل شوه .دغه لار له داسی‌ډیروپړاوونو څخه تیریږی چی څرګند ی لوړی او ترخی ځوړی یی درلودی.په شپاړسمه پیړی‌کی ترانزیتی سودا،ګری مسورتیا وموندله چی ښارونه یی بډایه کړل ،لاسرغاوه (لاسـی‌صنعت) پر کار واچول شو او تېرنیوپرګنو ته څه دلاړو تاجیی ګانو او څه دباری څارویو او چلوو نکو باړوله پلوه ډیری ګټی ور په برخـــه شوی .

دترانزیتی لارو او اړونډو تاجیی‌ګانو پرسر شخړه کی سره خورا بیلابیل تېرونه ښکر پر ښکر کیدل ،چی دپردی واکمنی او تر هر څه دمخه دهندیانو دباداری‌په وړاندی‌جنګیدل.په اوولسمه پیړی کی دغرنی‌هیواد (افغانستان) سوداګری په‌دی‌ویجاړه‌شوه چی اروپاییانو دآسیا تجارت‌په‌لاس کی واخیست او پر سمندر ی لارو یی برابر کړ .تېرنی اشرافیت‌دځمکنیو نی او هغه هم زیاتـــره‌دځمکبلو سنی (ځمکنی غصب) پـــه سیالی کی خپله ګټه ولیده .همدغه‌مهال لوړی دینی ـتولنیزی نارامی‌رامنځته شوی .جګړی له آره دتېرنی جنګونو بڼه درلوده که څه هم ملی‌سرغند ویانو یووالی ته رابلل .ترڅو په اتلسمه پیړی کی صفو ی ایران انګړی دنګړی شو او انګریزانوپه هند کی ښکیلاك ته پیل وکړ .دافغانی دولت بنسټ کیښوول شو او بیا یی هم تر هر څه مخکـی دپښتنی تېرونو دیوه فدراسیون بڼه‌درلوده او لـه همدغـه لامله څو لسیزی وروسته بیرته ړنګ شو .

متی نونسمی پیړی دځمکو اکـو(فیوډالو) امیرانو تر واکمنی لاندی‌او له انګریزی ښکیلاکی ځواك سره په پر له پسی شخړو او جګړو کی‌دننی افغانی دولت راجوړ یدنه په‌غړیدلو سترګو ولیده . دانګریزانو دغو ناکامو ښکیلاکی یرغلونو همدو مره وکړل چی افغانستان یو وروسته پاتی هیواد وبلل شی .

په همدغه پیړۍ کې دتاجکیانو برخلیك هم بشپړ شو چې له شپاړسمې پیړۍ راهیسې ترې اوزبکي پرمخ راتلنو ځانګړی هیواد والـه (دولتیت) لوتلی و .ان تر دې چې یې په ښارونو او بیا دآمو پـه سویل او سویل ختیځ کې ډیروالـه (اکثریت) هم جوړاوه ،مګر داموسیندتر سویله پوری اوزبکي خانانو او امیرانو واکې چلولی ، تاجیکان یې‌خپل لاسکتوی (زیر دستان) ګڼل اویو مخیزه یې لوټول .

نوی جوړیدو نکی افغا نستـا ندآمورا دیغاړه (سویلی) سیمې‌لاندې‌کړی اود تاجیکانو دویشنی لیاره‌یې برابره کړه چې دغه ویشنه پـه‌ښاریانو پوری دبخارا دامیری لـه‌ټرنی سره بشپړه شوه او هماغـه پولی رامنځته شوی چې ترننه پوری‌ټینګې دی .کومه سیمه چې پر ی‌شخړه روانه وه ،هغه هرات و چې پارس ورته خیته په اوبو کې‌ایښې‌وه .

پر ۱۵۲٦ کال دکابل واکـمن‌ظهیرالدین بابر دپانی پت په جنګ‌کې سوبه تر لاسه کړه اود پاچاپه توګه دهند پر تخت کیناست خوبیایی هم متی څلور کاله وساتلای‌شو،مرستون یې په کابل کی دی .زوی یې‌همایون‌تراس کلنی‌واکمنی‌وروسته‌دیته اړووت چې پارس‌ته پنایوسی.څکه یو افغانی لښکر مشر ،شیرشاه، له هنده پسی اخیستی و.متی یـوپارسی نیوا کګر لښکرچی ډیرپښتانه‌پکی هم را ملګری شوی وو ، پر ٥٦ر ۱۵۵۵ کال تښتن (فراری) بیرته‌ډیلی ته راورساوه .دغه ښاردجلال الدین اکبرپه زمانه (۱۵۵٦ـ۱٦۰۵) کی خپلی سمسور تیا ته ورسید .

همدا رنګه ایران هم دلوی عباس(۱۵۸۷ـ ۱٦۲۹) تر واکمنۍ لاندې‌چې دجلال الدین اکبر له هممهالو او پلویانو څخه و ،دڅواك لوړ ستونځ(قلی) ته ورسید . ددغه سیاسـی‌او فرهنګی سمسور تیا بنسټ سودا-ګری او هغه هم لری سوداګری‌وه‌چې هغه مهال یې یوه ځانګړی بنـه‌موندلی وه .بابر په خپلو ځانپیښنو «بابرنامه» کی دکابل نقش داسـی‌ښنی :

«دهندستان او خراسان تر منـځ‌لار باندی دوه سوداګری بازارونه‌پراته دی چې یو کابل او بل‌کندهار دی .کابل ته له کاشغر ،فرغانی،تورکستان ،سمر کند ،بخارا ،بلخ،حصار او بدخشان څخه او کندهارته بیا له خراسانه کاروانونه راځی.کابل یو خورا په زړه پوری سودا ګری منځی ده .کله چی سوداګر ختا (چین) او یاروم (تورکیی) تـه‌درومی ، دومره لوړه ګټه لاسـته‌راوړای نه شی .کابل ته په کال کی ۷، ۸ یا ۱۰۰۰۰ اسان راځـی‌اوله هند ستانه ورته هر کال له۱۰، ۱۵ یا ۲۰۰۰۰ باری ځارویو او مرییانو سپین توکر، قند، سپنسی؛ او عادی بوری او خوندورو ولیو اومسالو سـره کاروانونه راځی ،ځینی سوداګر پر لسو باندی په دیرش‌او څلویښت ګټه خو ښمن نه دی .په کابل کی سړی کولای شی ، د خراسان ،عراق او چین مالونه لاسته‌راوړی ،که څه‌هم کابل پخپله‌دهند ستان بازار بلل کیږی .»

مغول او ستر مغولی مشرانو دکاروانی سودا ګری ساتنه کولـه‌او لویی واکمنۍ دمال راکړی ورکړی لاراواروله ، تیمور چور وچپاو لړا منځته کړ ،شاهرخ بیر ته لـه‌چین وهند سره سودا ګری راټینګه کړه .هغه سوداګر هم له ساتنـی‌څخه برخمن وو چی له مخنی اسیاځخه پر هرات باندی دوالګا سیمی یا هم دختیځ خواته تلل . داروپابیریو دمنځنی سمندرګی (مدیترانی)او تور سمندګی په بندرونو کی دخورا لوکس مال په توګه وریښم،مسالی ،شکر ،پنبه او نیل بارول.ښایسته ډیر مهال دوینس میړونه (دبیړیو تلونه) زیاتره دایټالیانـوپه لاس کی وو ،خو په پنځلسمه اوشپاړسمه پیـړۍ کـی انګریزان ، اسپانیان ،فرا نسیان اود نـــوروولسونو استازی هم الیپو Aleppoاو سنکدر یی ته دپیرنی (خریـد) لپاره را سر شول .دغه راکړه ورکړه‌داوولسمی پیړۍ تر بریدو پـوری‌لوړتیا وموندله .په هغو پیداوارونو کی‌چی پر کاروانی لیارو ترلویدیځه‌رسیدل ،یوه برخه ایرانی او یوه‌برخه داسی مال و چی دغلته لـه

هندي او چيني او موتوگونو (خامـوموادو) څخه جوړيدل او بشپړيدل ،مګر ددغو دوو هيوادو (هند او چين) تيار مالونه هم راتلل .دهند سمندر سوداګري نړۍ دپـــور تګا ليانـوله راګډيدو سره دکاروانـــي لارو سوداګري په ښکاره توګه پياوړې‌شوه ،خو پورتګا ليانو هم دښـــه‌ګمرك په ورانـدي له هنده له شط ـ العرب سره دپارس خليج پر هرمز(تنګي) باندي سمندري ترانز يـت‌ته اجازه وکړه چي‌له ۱۵۰۷ راهيسي ددوی با جپازی (باجګزار) و .دغه‌تنګي له ايو فرات سره دالپو چلندلار جوړوله .

ددغسي سيندني لاري دلاستـــه‌راوړني لپاره دعثما نيانو او پارسيانوترمنځ جګړي وشوی .که څه هم پر ۱۵۲٤ کال ميزو پوتاميا دسلطان‌په‌لاس کي کيوته ،خو سوداګري بيـاهم اوږدوالي موند .دپور تګاليانـو تر څنګه انګريزان هم را ميدان ته‌شول چي دطهما سپ دواکمني پـه‌مهال کي يې‌له ايران سره سوداګري اړيکي پرانستي وی او تر يوی کمز وری لارغی (وقفی) وروسته لومړی‌عباس (۱۵۸۷ ـ ۱٦۲۸) دخپل هيواد دسوداګري او پيداوار مزی ترلوړترينی پراختيايی ګچي ورسول. په‌هند کي اروپايی تولوالی (ملکيت) په بندرونو پوری تړلی واوددنـــه‌هيواد راجاګانوته دسوداګروهيواد واله (مليت) څه نا څه بی توپيره و.داوولسمی پيړی‌تر لومړنيو کلونوپوری دهند او ختيزی اسيا او همدا راز دهغو ټاپوګانو ترمنځ سمندر ی چلند او راکړه ورکړه پر خپل اکرپاتی شوه چي هلته پور تګاليانـوهسی تش ناڅيزه نقش لوباوه .

دصفوی شاهانو اقتصادی سياست‌دمغولو تر هغه په داګه څرګندو ،څکه دمغولو هڅه پوځي او دينـــي چارو خواته زياته پياوړ ی وه .عباس څان له‌يوی پر مختلو نکی‌بورژوا اروپا سره مخامخ وليد او هيواد ته يی دوسلو او بی شميروسوداګرو څپان ديته اړ کړ چي په‌يو لړ هڅو لاس پوری کړی ،داچي ده له ټولنيزو چلندونو څخه کوم‌جاج يا پوهه درلوده، څه اټکل يی‌نه کيده ،په تيره دانګريزی اوهالينډی سوداګرو په‌اړوندی (ارتباط)چي له تخت ناستی راهيسي پـــه‌پر له پسي لوړيدو نکی ګچه ختيځ ته راتوييدل ،خو بيا هم دلويديزی‌اروپا بورژوا ښار له تاريخی پلوه‌يو څه نوی بريښيده او غوښتل يی چـــي ديوی تـولوا کـــی يـــاديوی دولوا کـــی (جمهور يت) لـــه‌يوی برخی سره په يوه تړه کـــی راشی .عباس په ښکاره هڅه وکړه، دټبرنی اشرافيت بازار بورژواز ی‌په وړاندی ودريږی او په دولتـــی لارښوولی اقتصاد کی‌يی رانـنه باسی.ده پايتخت دسودا ګری منځـــــی‌اصفهان ته وليږداوه ،لوی دولتـــی کار خونی يی منځته راوړی اوسودا ګر يی ددولتی ګومارليو په توګه‌پر کار باندی وټاکل او په دی ډول سوداګری يوڅوکاله لوړتيا ومونده.له ۱٦۰۰ کال راهيسی انګريزانـودهند له سوداګری څخه دپورتګا ـ ليانو لاس لنډونی ته برېد کړی واو پر ۱٦۲۲ هرمز له پښو وغورځيداو داسی پسی وران شو چي نور بيا ابادنه شو،دانو دنړيوالی سوداګری‌ديوه نوی پړاو يوه څرګنده پيلامه‌وه .

مساله جات داوولسمی پيړی په‌لومړيوکلونو کی‌دمديترانی‌دلويديزی‌غاړی له بازاره ورك شول ، داڅکه چي نوری انګريزی او هالينډی بيړی‌پخپله دسويل ختيزی اسيا خواتـه په چليدو راغلی اود هند ختيـزه سوداګري نوره وشليده .نوره نوانګليستان او هالينډ له سمندر ی‌لاری څخه اروپا سمبالوله او منځنی سمندرګی (مديترانی) ته سوداګری‌لاری‌پريښوول شوی.ارزانو امريکايی‌سپينو زروپولی پرسوب (انفلاسيون) رامنځته کړ او وينيسيان يی لـــه‌خپلو ګټندو سر چينو (منابعـــو)او ليږدونو څخه را بيل کړل .دپار ـ سيانو او تورکانو ترمنځ جنګونـودالیپو لار وتړله او ديمن نارامیـودسکندر يی پر لوری سمندری لار پری کړه .

ځینو ایرانی کاروا نونو دعثما نیانو ترچتر لاندی سمیرنا Smyrnaپوری لارو کښله خو ویی نه شو کړای په خپله وړاندینه (عرضه)له افریقا چاپیر سمندری سوداګری‌سره سیالی (رقابت) وکړی .انګرېزا نو ،هالیند یانو او فرانسیانـودبانګوالی کار خونو له ارزانو توکر انو، خپلو سپینوزرو اوبېړۍ چلونه دایران ـ افغان ـ هند ښاری بورژ وازی سوداګری پر کار واچوله ،دغه سوداګری دهغی ښاری سمسورتیا دبنسټ پر ځای دیوی پرازیتی«اجاره .پانګوالی» په بڼه راڅرګنده‌شوه چی دلر ختیځ دمالو او دخپلو پیداوارو له برکته را منځته شوی‌وه .دځمکوالی داشرا فیت او تېرونوځواك پر له پسی زیات شو او په هند او ایران کی حکومتونو خپل‌اغیز(نفوذ) له لاسه ورکړ .مغولی پاچااورنګزیب (۱۶۵۸ ـ ۱۷۰۷) دخپلی تولوا کمنی دساتنی لپاره سخـــتوجنګید ،ځکه دلنډ ګروهو (متعصبو)درویشانو اغیز ډېر شوی و .همدارنګه دصفویانو دولت هم ژر نسکورشو.ددوی برخلیك داوزبکانو سیمه پر ګنو امریو او خانیو لکه خیوا او بخارا وویشله او په دی توګه یی‌دغلته وکړای شول چی له روسیی‌سره دسوداګری له لاری خپلـــه ناڅیزه پرمختیا را سمباله کــړی .دوی هغی خواته غالی او هنــدی‌مالونه او (ببر) پوتکی وړل .ددروېشی شیخانو تروا کمنی لاندی مانیزوکارونو ته دومره اجازه ور نه کړشوه او یوازی دمزدکونو او مدرسو په ودانی کی لایو څه ارزښتمـــن‌کارونه رامنځته شول .

ان په اوولسمه پیړۍ کی دننه‌دغرنی هیواد (افغانستان) اودشاوخوا لویدیزو او شمالی سیمو ښارونو ژوند کاروانونو تاکه .لویو مغولواو صفویانو له دغه هیواد سره دجنګیالو دزیر متون په توګه چلند کاوه .په کندهار کی سره پارسی‌او هندی اغیز او ځواك دپښتنو له‌وده‌موندونکی ځانخبرۍ (خوداګاهی) سره مخامخ شول . دهرات پرشمال‌لویدیزی شاو خوا پارسیانو واګـی‌چلولی او ختیزی سرحدی څرسیمه (ایماق) یی دڅلورمی پوځی لتـــۍ(ولایت) په توګه تورکمنی سپرو(شوالیه) ډلو ته ور پریښی وه ، له همدی څخه ددغی سیمی نننــــی‌نومونه «چهار ایماق» را وتلی ده .

دیوی وده موندلی پښتنی ملـی‌ځانخبرۍ لومړی پیلامه دشپاړسه‌ی‌پیړۍ په شپیتهو کلونو کی ځـــان وخوځاوه .بایزید انصاری (۱۵۲۵ـ۱۵۸۱) دځمکوالو او هندی مغولو پرضد یو «روښانی» نومی غور ځنګ رامنځته کړ .دده اثر «خیرالبیان»چی‌د۱۶۵۱ کال لاسلیکنه ده دپښتوله لرغو نترینو لاسکښنو (نسخو) څخه ګڼل کیږی .ده له خپلو اړوندانـواسره دلویو پښتنی تېرونو درالوید ونکی ځمکواکی (فیوډا لیزم) پر ضد تجارتی ګټی را سازمان کړی .دملاتړلپاره یی یو سفری را پاڅیدل او پرضد یی دنقشبندی شیخ اخون درویزه په لمسون ختیك ودریدل .په پښتنوکی درویشانو ستر باور تر لاســه کړ او سرغند ویان یی له تېرنـــی اریستو کراسی سره واخښل شو ل.بریالیو ختکو داورنګز یب دبرلاسی‌واکمنی په وړاندی په پاڅون لاس پوری کړ .ددوی مشر خوشال خا ن(۱۶۱۳ ـ ۱۶۸۹) په خپلو اورینوشعرونو داورنګ زیب او ان دخپل زوی پر ضد چی دښمنانو ته اوښتیو پښتانه جګړی ته رابلل :

زه غلیم داورنګ زیب یم
سر پر غره پر بیابان
زه په ننګ دپښتانه یم
دوی نیولی مغلان
لکه سپی هسی جارو ځی
دمغول پر آش ونان

دمنصب په اضافو دی
تل په ما پسی روان
زما لاس وربا ندی رسی
را واهه نه شی خپل ځان

همدا رنگه دومندو مذهبی شاعررحمان بابا (۱۶۳۲ – ۱۷۱۲) پـرپیښور باندی دواکمنو مغولو ضـد جگړ ی سپارښتنه کوله ،مگر ځایی نه نیوه ځکه دټبرونو ځانځانـیداورنگ زیب او دهغه دورو ستنیانو تر ضد دښمنی ستره وه .

پر ۱۷۰۹ کال غلجیان دمیر ویس‌په مشری را پورته شول ،کندهاریی په خپلو واگیو کی ونیو ،بیا پر پارس باندی ورتوی شول او شاه حسین صفوی یی سر پر ښنی راوپرځاوه. پر ۱۷۲۲ افغانان اصفهان‌ته ورسیدل ،ښاریی‌په کلابندی اوولږه‌ځانسپارنی‌ته اړیست .شاه استعفاته اړووت او افغانانو پوره اته کاله دپارس پر منځنی ولایت واگی وچلو لی .بیا عثمانیانو دویم طهما سـپ‌افشار خپل کړل چی په یوه تورکمنی ټبریی اړه درلوده .دافشارو ایلجاریدخپل ټبرنی سرغنه نادر افشار په‌مشری افغانان وشړل ،پر۱۷۳۲کال نادر افشار پاچا لری کړ او دریـم‌عباس یی دځلور کلو لپاره دتش‌په‌نامه پاچا په توگه پر تخت کیناوه، تر ځو ده پخپله دعثما نیانو لـه‌ماتولو اوله ځارانو سره په سوله‌سره خپل ځان را ټینگ کړ اوپخپله یی‌تاج ترلاسه کړ (۱۷۳۶) .ده‌په‌وسپنیز دیسپلین سره پر ایـران‌باندی لکه یو دښمن هیواد خپلی واگی چلولی .لښکر یی له ټبرنیوایله جارانو څخه راورغید او دخپلوتورکمنو تر څنگه یی ابدالی پښتنو ته ارزښت ورکاوه چی له غلځاییټبر سره نا باندی شوی وو .ددغوپښتنو په مرسته یی ځو ځله پرله پسی پرغزنویانو اودتیمور پرلښکروتاړاك تر سره کړ .ډیلی یی تالاترغی کړ او دانگریزانو تر گونډو لاندی ستمیدو نکی مغولی واکمنـی‌سایی مرگ لنډه کړه .بیایی شمال‌ته مخه کړه او پر بخارا ،سمر کند اوخوارزم یی ویرغلل ،خو دغه زوړتاړاکگر دلته له نهیلی سره مخامخ‌شو او هغه داچی په بخارا کی‌دومره څه په لاس ورنرغلل چی په چوروارزی .له دی کبله اړ شو چی‌دباج‌په توگه پر ۱۰۰۰۰ اوزبکی سپرو بس راوړی او بیرته ستون شی .

ددغه زور واك په وړاندی چړان خپل ټبرونه یی سره هم په‌زوریو کول غوښتل ، خپل تورکمنـــی قاجاری او افشاری مشرانو بنډاره(دسیسه ) وکـــړه او ویـــی واژه(۱۷۴۷) .ټولوا کمنی یی تر هغـه ژر تالاترغی شوه ،لکه څنگه چی‌یی‌تر لاسه کړی وه .پښتانه بولندوی‌احمد خان چی دنادر ځانسا تونکی‌و، جنگی خزانه او خپلی ابدالی لښکری‌را پلی کړی .

داوزبکی ځواك را پرځیدنه ان لادمروی له ماتی (۱۵۱۰) سره پیل‌شوی وه .دصفویانو اودبابر دلښکرو ماتونی هم ونه شو کړای چی داوزبکی دولت پښی را ټینگی کـړی .اشرافی ډلو (۱۵۳۴ –۱۵۴۰) لسیزی لسیزی دځواك لپاره جگړی وکړی .متی دویم عبداله (۱۵۸۳ – ۱۵۹۸)یو لنډ ارام پېر (دور) را منځته کړ او په دغه مهال کی له سنی ارتودکسی (سختگیری) سره سم هنرونه لکه مهندسی او مینا توری انځور – گری یو ځل بیا سمسور تیا ومونده.عبداله له درویشی شیخانو سـره‌دپیوستون له لاری ناسختگیـــــره فیلسو فان او شاگردان وشړل اوله‌دی سره یی دځنډ (رکود) یو نوی‌پیر رامنځته کړ .مگر ده هم دخپل ځواك نسکور یدنه په خپلو سترگوولیده .طاعون را مات شو او ایراتانو(مغولو) پر هیواد راودانگل .تور – کمنی ټبرونو سره داوزبکو په وړا ندی جنگ کی یو لاس شول او مخ‌پر هرات یی راویرغالل .په شمال کی اوزبکانـو د ۱۵۷۹– او ۱۵۹۹کلونو ترمنځ دځارانو دکازاکانو له‌خوا ماتی وخوړه او سایبریایی چی

خانی یی له دوی سره ملګری وه،له لاسه ورکړه .څارانو هم دمنځنۍاسیا بهرنی سوداګری په خپل لاس کی واخیسته .

درویشانو صوفیانه ډلو (فرقو)پر له پسی ځواك را خپلاوه .ددوی‌لپاره مزدکونه ،ځله ځایونه (خانقاوی) او ښوونځی (مدرسی) په بخارا،سمرکند ،کرمینی او نورو برخو کی‌ودان شول . په بخاراکی سوداکری ودانیو دمنځنی اسیا دبازار بورژوازی نقش نور هم جوت کړ .پـــر۱۵۹۹ کال په بخارا کی یوه نوی شاهی کورنی ځواك ته ورسیده چی‌یو وخت داسترا خان هغه واکمن‌جانیان وو .دوی دفرهنګ یو پشکال غوندی کیدو نی کړ .په خوارزم‌کی‌یوی شیبانی کورنی سر راهسك کړچی لومړی یی‌په ګورګینچ Gurgench او بیا په خیواکی ځای نیولی و ځکه ددغه ښار ساتنه اسانه وه .

داوولسمی پیړی له ښکلیو ودانیو څخه یوه هم په سمرکند کـی‌دشیر دور Shir-Dor مزدك دی چی تر ځنګه یی طلا کاری مزد ك‌مدرسه ودانه شوی ده .دغه دواړی‌مدرسی دریګستان په هنری ډله کی داولوغ بیګ مدرسه بشپړ وی .همدا رنګه په اوولسمه پیړی کی‌په بخارا او سمرکند کی لاسلیکنی په پوره او ښه توګه رامنځته‌شوی.مګر ډیر ژر پاڅونونه را وښوریدل‌او خونړیو غچ اخیستنو ډیر کلی له منځه یووړل اوغونډ تبرونه یی‌پوپناکړل .

له لویدیځ او شماله را یرغالونکو روسانو په وړاندی دختیځ له لوری‌راغلی چینیان ودریدل اویوځل یی بیا پر ۱۷۵۸ کال دمنجو قیصرانوپه مشری دفرغانی ناوه تر خپل‌واك‌لاندی راوسته .دمنځنی اسیا اقتصاد انګړی دنګړی شو .دجلګو دجنګونواود سردارانو دشخړو دروسانو اوچینیانو دتاړاکونو له لاسه را پرځیدلی نړی دنادر افشار دځغل ډګرشو چی د۱۷٤۰ کال چور چپاول یی‌دخیوا دخانیو نشتونه ښه پســی ګړندی کړه.په بخاراکی دنادرپلوی‌دخان دوژنی لار سیخه کړه اودبخاراپه نوی امیری کی یی دمنګیتانـــو کورنی ته ځواك وسپاره .سویلــی(جنوبی) پولو ته یی دنادر شاه له‌مړینی (۱۷٤۷) سره یوه لویه پښتنی ټولواکمنی ټینګه شوه .

احمد خان ابدالی خپل ټاټوبی ته له رسیدو سره دکندهار په نادراباد‌کی دنهو ابدالی سردارانو (په لارښوونه دجوړی شوی لویی جرګــی)له خوا پاچا وټاکل شو (*۳۸) ده‌یوه‌انګازه ورستاینوم«دمرغلرو مرغلره» (در دران) ستا ینوم تر لاسه کړ چی‌له همدغه را هیسی ابدالیان درا نیان هم وبلل شول .ابدالی شـــاه سملاسی دهرات او کابل سوبی‌وکړی‌او له ۱۷٤۸ تر ۱۷٦۱ پوری یــی‌پنجاب ،ملتان اوکشمیر داتولښکر لیږدونو په ترخ کی لاندی کړل او»پرمتورا اوډیلی یی ویرغالل .په یوه‌مهال کی پر دغه سیمه باندی د انګریزانو او فرانسیانو ترمنځ همجګړه روانه وه .دفرا نسیانو لــه‌پلوی سره سره بیا هم دیته اړوتل چی له ۱۷۵۸ څخه تر ۱۷٦۲ پوری‌پر مرهټیانو ورودانګی ،ځکه‌غوښتل‌یی چی پنجاب تری را خپل کړی .

ددولت واکمن پوړ(قشر) پښتانه‌وو چی دخپلو خپلو ټبرونو له‌مخی‌ډلبندی شوی وو او په بیلا بیلو ګچویی هغه ځمکی تر لاسه کولی‌چی زیاتره یی له نورو وګړډلــوڅخه بلو سلی .پایتخت یی نوی ودان شوی کندهار و چی «احمدشــاهی اشرف البلاد» وبلل شو .

نن سبا هغه دکندهار زوړ ښاردی‌چی دیوال یی لویدیځ ته ۱۷۹۸متره ،ختیځ ته ۱٦۵٤ متره،شمال ته ۱۰٦٤ متره او سویل ته ۱۱۳۹متـــــره اوږد والی لری . کومه‌ودانی چی تری په ښه ښه راپاتی ده ،هغه لوی ښکلی رنګه جومات‌دی .یوازګ پر ښار باندی واکمنی‌لری چی مخی ته یی بازار غځیدلی دی .دغه بازار له دی پلوه نوم‌لاره چی دسیستان او غرجستا نمریان پکی پلورل کیدل . ښــار

مینې پر بیلا بیلو ټبرو نو ویشل شوی وی . در باری محتسبانو چې‌دټبرنی ملایانو په کورنیو یی اړه درلوده ،ددولتی بریکړو دبشپړ ی‌کار اچونی څارنه کوله .سوداګری‌او ښارونه یو ځل بیا راژوندی شول .

دوه مړستو نخونی دکندهارزوړښار پسولی چې یوه یی دمیرو یس‌او بله یی داحمد شاه درانی په اارمځای پوری اړه لری . دغه مړستونخونی په هند واسلامی مخبیلګوجوړی شوی دی .

داحمد شاه ځای ناستی تیمورشاه(۱۷۷۳ ـ ۱۷۹۳) و .ده‌پر بارکزی‌ټبر ډډه ولګوله او پایتخت یی کابل ته ولیږداوه چې زیاتره‌استوګن یی تاجیکان وو او یو داسی‌سوداګری ښار و چې دبخارا پر لوری یی کاروانی لار کنترولوله .تیمور دتورکمنی قزلباشا نو یو ۱۲۰۰۰ نفری لښکر جوړ کړ او په کابل کی یی ځای پر ځای کړ .پردی سر بیره یی دپاچا دمرییانوپه‌توګه دپارسیانو (ایرانیانو) او تاجیکانو یو لښکر هم رامنځته کړ .تیموره‌خپلو۳۲ (۲۲؟)زامنوځخه ګڼشمیر والیان وټاکل .همایون په کندهار ،زمان په کابل ،محمود په‌هرات او شجاع الملك له پلارسره‌په پیښور کی اوسیده .

دتیمور تر مړینی وروسته ځواك شخړه را منځته شوه اوټولوا کمنی په نسکوریدنه پیل وکړ .پر ۱۷۹۳ کال زمان له بارکزیانو سره‌ځواك تر لاسه کړ او پوره اووه‌کاله وروسته راوپر ځید . ځای ناستی (جانشین) یی تر ۱۸۰۳پوری‌دری کاله واکمنی ټینګه کړه اوشجاع شپږ کاله پر هیواد واکی وچلولی کله چې ده پر ۱۸۰۹ کال‌له انګلستان سره دانډیوالی تړون‌لاسلیك کړ ،محمود ځان ګوښه کړ اوشجاع دافغانانودښمنانو (سیکانو)ته وتښتید .

رنجیت سینګ دلاهور شاوخواته‌سره دغه هند واسلامی دړلی جګړنیو لاس کړل .دفرانسی او ایټالی افسرانو له خوا په نومهالی ډول‌روزلی لښکر شیند پر شیند افغانان پر ۱۸۱۸ کال له ملتان ، پر ۱۸۱۹ له کشمیر او پنجاب څخه‌وشړل او په پای کی یی پر ۱۸۲۳کال پیښور هم لاندی کړ .په غرنی افغانستان کی محمود پر ۱۸۲۱کال‌دهرات ترنیونی وروسته چې‌تردغه‌وخته آزاد و ،دبارکزیانو مشرفتح خان ړوند کړ ،مګر ډیر ژر دسر غړاندو بارکز یانو له خوا چې‌دابدالیانو ځواکمنتر ینه پښه وه ، وشړل شو .دبارکزیانو سر غندویی‌پلرینی ( Clan ) محمد زیوځواك تر لاسه کړ ،مګر سیکان یی پر شانه شو کړای بلکی یواز ی‌یی پر کندهار باندی دهغوی د۱۸۳۳ کال یو یرغل وروځپه .سو-بمن دوست محمد خان نومید چې‌یی وکړای شول ،په دی توګه ځان‌دکابل امیرو نوموی .ده دټوکر ټوکر شویو افغانی ځمکو په رایو کولوولاس پوری کړ.دی یو ټبرنی سردارو چې دپښتنو ددو دونو له مخی‌یی دواکی چلونی هڅه کوله .دکابل‌پر شاو خوا دده جوړ کړی دولت‌دنولسمی پیړی په پرتله داشرافیانو یوه فدرا سیون ته ډیرورته‌و .بیا هم دی په دی اړتیا پوه و،دهغه نوی دولت توکونه (عناصر) راواخلی چې دهند پر میلو نونوباندی یی دانګریزانو له واکمنی‌سره مرسته کړی وه .دی پخپل ځانی دماشینونو لیوال و او انګریزی‌او امیریکایی افسران یی هیواد ته‌راوبلل مګر پر غرغره ییانو (ماجرا-جویانو) او ګوډا ګیانو واوښت چې‌دانګریزی «سیلا نیانو» په نامه‌افغانی خاوری ته را ننوتی وو ، لکه الکساند ربرنس Burnes (۱۸۳۶ ـ ۱۸۳۷) او داسی نور .امیر غوښتل په وسپنیز دیسپلین سره‌ښارونه اولاری خوندی وساتی، بی له دی چې دلویو ټبرونو دځواك‌یوه څخه هومره وکړای شی .اسلام دښاریانو دیسپلین پر ځای کاوه .شرابخوری او نڅا بندوو اود کارو انونو دلوټونی پر ضد پارسی او انګلیسی روزلو پوځی ډلو له ډیری‌وحشیانه سختی څخه کار اخیست.

دامیر بریا لیتوبونو چی په سرکی یی له انګریزانو مرسته غوښته ،دختیز هند کمپنی اوانګریزی حکومت ښکیلا ګګر نارامه کړل .ان پـه۱۸۰۹ او ۱۸۱٤ کی یی لاهڅه کړی‌وه چی په قفقاز کی مخ پر سرېدل دراتمبید ونګی روسیی پر ـــدځوانه قاجاری کورنۍ دڅان پر خواکړی . دلار دپا لمر ستون حکومتی سیاست په وړاندی افغا نستان یوانګریزی اسر ،حدی خاوره وه اودغلته یی دبل اروپایی ملت شتوالی او یایی هم تشه ناسیده سودا ګری‌روانه ګڼله . چی ګوندی په یـــوه‌داسی هڅه به په اروپا کی سوله له خطر سره مخامخ شی .دانګلیس‌موخه (هدف) داو چی افغـانســتان‌پربیلا بیلو تېرنیو سیمو ټوکر ټوکر ووینی خو ددوست محمد سیاست‌له دغی موخی سره نا با نـــد ی‌و . د ۱۸۳٦ دجون پر ۲۵ مه دهند باداری ، دختیز هند کمپنی یوی‌پلټنی خپل جنرال ګورنر لارداکلنډته دا «واك ورکړ چی دافغانستان په کورنیو چارو کی په غوښه توګه لاس ووهی .دغه راز لاسوهنـــه ورته ځکه اړینه برېښیده چـــی دپارسی واکمنی دپراختیا مخه ونیسی‌او یا هم دروسیی داغیز په‌وړاندی‌یو آړ (سد) رامنځته کړی .» قاجاـ ریانو هغه مهال دڅارانو خواتـــه‌راکښون درلود .په ۳۸ر ۱۸۳۷کی‌پارسی لښکرو هرات کلابند کړ او متې یی هغه مهال بیرته خپلـه‌مخه وکړه چی انګریزی کند کونه دخلیج په سیمه کی پلی شول .

دپارسیانو تر یرغل پوری دتیمورـ‌یانوښار ښرمه‌خوندی‌پاتی میشتځای‌نوره هسی یوه کندواله وه ،هرات سدوزایی امیرانو ته پاتی شـــو.همدا رنګه دخلم اوزبکی خانی ،کندوز او میمنه دکابل له څواك سیمی څخه دباندی پاتی شـــول .کافرو (پخوانی نورستا نیانـــو) اوددوی ختیځ ته پرتو دردی تېرونو دالکساندر برنس تر مشری لاندی‌خپله خپلواکی وساتله . پر۱۸۳٦بریتانیی استازی غوښتل ،دافغا ــ نستان بیا سازمانونه تم کړی خوچی داغشی یی پر ښبه ونه لګید ،یوانګریزی «شنه کتاب» دوست‌محمد «بلو سګر» (تجاوز کار) وباله .دسیملی «دری اړخیز تړون Trepartite Treaty » چـی د ۱۸۳۸ د جولای پر ۲۵ مه لاسلیك شـــو ،رنجیت سینګ ،شاه شجاع اودختیزهند کمپنی سره یو لاس کړل اود «بیا او ډون راوستنی» او دشاه ـ‌شجاع دبیا ټاکنی جنګ پیل شو .

دویلیم مکناټن تر سرکښی‌لاندی‌نومهالی (عصری) سمبال لښکر ته‌دوسټ محمد دومره ټینګ نه شو . د۱۸۳۹ داګست پر اوومه شاه‌شجاع‌دانګلیس دلورینی دواکمن په‌توګه اعلان شو .دوست محمد تر ډیر و ښښتو وروسته په ډیرو بدوشرایطو کی وسله ایښوونی ته اړووت اوهند ته ولیږدول شو .انګریز ی نیواګرو پوځی ډلو غزنی ،جلال‌آباداو کندهار تالاوالا کړل او اوسید ونکی یی په ژمی کی واورینـــو غرونو ته وشړل .غوند کلی باندی‌پوښنا شوی او داسی کرنی پاتـی‌نه شوه چی بلهاری (قربانی) یـی ورکړی نه وی .ان دمحمود غزنوی‌دمړستو نخونی دروازی هم چـورشوی .که څه هم تېرونه هماغسی وسله پر لاس جنګیدل ، خوانګر یزانو ځانونه دهیواد باداران ګڼل‌ددوست محمد زوی وزیر محمداکبر دوګړنی جنګ سرغندویی پر غاړه‌واخیسته او بی ځنډه له خپل برلاسی لښکر سره کابل ته راورسید اوپه خپل لاس‌یی د۱۸٤۱ ددیسمبرپر ۲۳مه کرکجن مکناټن راوپرځاوه.لنډ مهال وروسته شاه شجاع هم دافغانانو له ګوزاره بچ نه شو اوهمداسی ورته برخلیك دالکساندر برنس به برخه هم شو .

دانګریزانو دلښکرو یوی برخـــی‌لان‌په اوکتوبر کی دجلال‌آباد په‌خواپتی پالاچولی وو چی هلته یی‌له ځان سره دوړ ودرنو وسلو پـــه مرسته له نشته ژغور تیاوموندله .

له داسی اکر (وضعی) سره‌په کابل کی پاتی انګریزی بولنتو ن(ګارنیزون) هم نوری ښښی ټینګی نه شوی کړای اود ۱۸٤۲ کال دجنوری پرشپږمه یی‌له ٤۵۰۰پلیواو۱۲۰۰ سپروسره مخ‌پرختیځ ترپلل. په شپږ ورځنیو جنګ جګړو یـــی‌ځانونه دګندمك تر غاښیو ورسول.دجنوری ددیارلسمی له وروستـی



ACKU

جنگ څخه یې متې اووه‌یااته بندیان‌ژوندی پاتی شول هغه هم زیاتره‌هماغه انگریزانی وی ،چی وروسته یې خپل سترګو لیدلی ورانډی کړل.یوازی یو ډاکټر ویلیم براېډن‌نومی‌جراح وکړای شو ،تر جلال آباده نیم نیمژوانده ورسیږی او افغانـــی‌پهری ته ځان وسپاری .انگریزانویوازی کندهار او جلال آباد راټینگ کړای شول .

د ۱۸٤۲ پــــــه سپتمبـــــرکی له هوسا جنگیاو سره پر کابل‌یرغل هسی یوه څواك نندارہ وه . ښار چور شو ،بازار والو څول شـواو د ۱۸۸۲ دسپتمبر پر ۱۷ مـــه یوه‌خونړی جزایی محکمه جوړه‌شوه، خو بیا هم دلار داکلند سیاست‌توی‌لاړ،ښکیلا کی اداری له دوست‌محمدسره لاس یو کړ ، لکـــــه څنگـه چی هـ . و ـ بیلیو Bellew را وروسته ولیکل :

